www.libtool.com.cn

# غوره نثرونه

لیکوال: اروابناد استاد ګل پاچا الفت

۱۳۷۳

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF
ACKU
4229

# غوره نثرونه

لیکوال اروابناد استاد الفت

۱۳۷۳/۱۹۹۴

www.libtool.com.cn

خپروونکی
سازمان مهاجرين مسلمان افغانستان

کمپیوټر ډیزاین : عبدالحی سحر
د چاپ شمیر : زرټوکه
بیــــه : ( 25/- )

www.libtool.com.cn

# دناشرسریزه

«غوره نثرونه» داروانباد استاد ګل پاچاالفت یوغوره اثردی چی نه یوازې هغه رخت چی خپریده دپښتو یو غوره او ممتاز اثرؤبلکه اوس هم دپښتو پهٔ ټولوکتابو ـــــــــــ وکښې یوغوره او ممتازاثردی او دمضمون او محتوی، سبك او اسلوب، وینا او معنی له مخې نوښتونه او ابتکارونه لري.

استاد پهٔ خپل خوازه نثرکښې دشعرخوند او باریکي ورګډکړي، خپل فلسفي افکاریې له خپل محیط او ټولنې څخه اخیستي او عادي مطالب یې دخپل عام فهم منطق پهٔ استناد او اتکا دومره عالي اوپند آموزکړي چې هرچاته نوی بصیرت ورکوي اودخپلی شااوخوا پیښو او څیروته یی متوجه کوي.

ددې ژورو فلسفي مطالبو داداله پاره له داسې خوږې وینا او ژبې نه کار اخلي چې دمقناطیس غوندې لوستونکی ورجذبوي او دشعر او افسانې غوندې خوندترې اخلي حتی ځینې پارچې یې دلنډې قیصې خوبی او کړه وړه لري.

دغوره نثرونوښکلی اوروان سبک هم هغه وخت چې استاد پیل کړدپښتو ګنهو لیکوالوتعقیب کړاو ډیر پیروان یې وموندل، ده هم دهمدې هدف له پاره داسبک را ایستلی او دپښتو لیکلوداخوزه لاره یې تاکلې ده.

www.libtool.com.cn

دمهاجرین مسلمان افغانستان سازمان دهمدې له پاره داښکلی کتاب تکثیروي اوله درنو ځوانانونه هیله لري چې داخوز سبک وپالي او پښتوهمداسې خوزه او جذابه ولیکي او هم داروابناد استاد الفت له پخوتعمیري او تبصیري افکارونه خوند اوپند واخلي.

په مینه

سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان

www.libtool.com.cn

# فهرست


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| سرليك | ۱ | خاني لاړه | ۴۱ |
| ډېردې خبرې | ۵ | يوازې | ۴۲ |
| ښهٔ حاکم | ۶ | فاتح | ۴۳ |
| لاروى | ۷ | لباس | ۴۴ |
| ژوند | ۸ | خيرات | ۵۰ |
| نوى نسل | ۹ | دزيارت ډيوې | ۵۱ |
| لوى اوووړوكى | ۱۰ | دمزارلوحه | ۵۲ |
| دشاعرتحفه | ۱۲ | لياقت | ۵۲ |
| عقل | ۱۳ | كوچنيان | ۵۸ |
| خدمتګار | ۱۴ | جلې برجونه | ۶۱ |
| عقل پوهه اوهوښياري | ۱۷ | حقيقت | ۶۳ |
| احمق څوك دى؟ | ۲۴ | لويه خدايه | ۶۶ |
| نوى درس | ۲۹ | ماشومان | ۶۸ |
| دړكاله | ۳۱ | شعر اوادب | ۶۹ |
| قوي اوضعيف | ۳۴ | دادب راز | ۷۴ |
| ښهٔ کته | ۳۷ | نوي كال | ۷۷ |
| داخترېهٔ ورځ | ۳۹ | زمادلاس نيالګيه! | ۸۰ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|

www.libtool.com.cn


| عنوان | مخ |
|---|---|
| دفکر پالونکی | ۸۲ |
| دژوند نغمه | ۸۳ |
| نوی فکر | ۸۵ |
| زوړفکر | ۸۷ |
| ناداني اوناداري | ۸۸ |
| سیند | ۹۰ |
| عقیده | ۹۳ |
| عمل | ۹۳ |
| عبادت او دعا | ۹۴ |
| بي زړه | ۹۵ |
| ملك او ملا | ۹۷ |
| شاعر | ۹۹ |
| سبا | ۱۰۰ |
| دپسرلي گله | ۱۰۲ |
| درمې خاوند | ۱۰۴ |
| بي گناه بندي | ۱۰۵ |
| نظرلالا | ۱۰۷ |
| جبراو اختیار | ۱۱۲ |
| دخان واده | ۱۱۸ |
| غم اوخوشحالي | ۱۲۰ |
| اخلاقي اساس | ۱۲۴ |
| بنه اوید | ۱۲۶ |
| پخوانی ډیوې | ۱۲۹ |
| انتخاب | ۱۳۲ |
| دعقل برخه په ژوندانه کښې | ۱۳۷ |
| حسابي خبري | ۱۳۹ |
| شعراو فلسفه | ۱۴۰ |
| ولاړی اوبهٔ | ۱۴۰ |
| الفت | ۱۴۶ |


★ ★ ★

★ ★

★

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرلیک

څهٔ د پاسه شل کاله کیږي چې زهٔ دڅهٔ لیکلو ا و فکر کولو پهٔ رنځ اخته یم .همدغه شغل زهٔ له خپلو اوپردیونه بیل کړم اوپهٔ کوښه ځای کښېنې یې له خلکونه لرې کښېنولم ډیرې شپې یې راباندې پهٔ ویښه تیرې کړې او ډیرې ورځې یې له دوستانو او ملګرونه بیل وساتلم.

پهٔ دغه موده کښې ماله خپلو بچیو او دکاله له خلکو سره ډیرلږوخندل اوهرچاته بې مینې غوندې ښکاره شوم ، کله سبانه ترمابښامه ځای پهٔ ځای کښېناستم چې دڅهٔ لیکلو پهٔ فکر کښې رانه مونځونه هم قضا شوه مګر هیڅ می ونشو لیکلی کله به نیمه شپه لکه سودایي له خوبه راپاڅیدم اوداسمان ستورروته به مې حیران کتل،یووخت به مې څوکرښې ولیکلې بیا به مې هغه څیرې کړې بل وخت به مې خپل څیری کاغذونه راغونډکړهٔ اویوه کلمه به مې له بلې سره نښلوله .

ډیر ځله راته خپل فکر او خیال ډیرښهٔ ښکاره شوی او کله کله مې خپلو لیکنوته پهٔ ډیر حقارت کتلي دي او له ځانه مې زړهٔ تور شویدی .
www.libtool.com.cn

ډیرې ورځې دکور اوکلي له خلکونه پټ شوی یم او چیرته لرې دغرهٔ پهٔ لمن کښې پهٔ کومه هدیره کښې ناست یم یامې دسیندپهٔ غاړه یوازې ورځ تیره کړې او یو ازیتوب مې ډیر لوی نعمت ګڼلی دی.

پهٔ دغسی مختلفواحوالو کښې مې کله شعر اوکله نثر لیکلی چې زما روحي او فکري اغیزې پکښې ځرګندې دي .

د دې کتاب پاڼې زما د ډیرې مودې دخاطراتو یوه برخه ده چې زما پهٔ نظر کښې ادبي قیمت لري او زهٔ یې خپل غوره نثرونه ګڼم.

زما پهٔ مقالو کښې ځینې نورې مقالې هم شته چې دلته یې چاپول مناسب وومګر اوس لاس ته رانغلې او دا انتخاب نیمګړی غونډې شو.

دا پاڼې چې تاسې لولئ پهٔ لیکلو کښې یې ډیر زیارایستل شوی چې لوستونکوته پوره نهٔ معلومیزې.

لکه چې یو کور څوځله جوړ اووران شي دامضامین هم څوځله یو راز او بل راز شویدي چې دترکیب اوتألیف پهٔ لحاظ یې مختلف صورتونه پیدا کړي او کیدی شي چې ځینې به یې له اوسنی حاله ښهٔ هم وو.

دلیکلو فن ډیرې جګر خونې لري اوډیر ځله داسې کیږي چې یو لیکوال یوه شپه پهٔ ویښه سبا کړي اویوه جمله پیدا کړي یایوه لیکه هم ونشي لیکلی .

دیوه خیال یا فکر پیدا کول اوبیایې پهٔ ښهٔ ډول بیا نول هغه ګران کاردی چې نوروته یې ګرانوالی او دروندوالی نهٔ معلومیزي .پهٔ همدغه

سبب يوهٔ شاعرياليکوال ته نهٔ ښايي چې دخپلو آثارو قيمت له چانه وغواړي ياورته څهٔ قيمت وټاکي .

زهٔ هم پهٔ دغه ټکي پوه شوی يم اوله هيچانه پرې هيڅ نهٔ غواړم .

www.libtool.com.cn

ډير ه ښهٔ ده چې زهٔ اوس د پخوا پهٔ شان نه يم او خپلو افکاروته پهٔ هغه قيمت نه يم قايل لکه چې پخواوم.

يووخت ماپهٔ ځان ډيره ښهٔ عقيده درلوده اوخپل فکر مې ډير مبارک ګاڼه هغه وخت به چې ماهر څهٔ وليکل هغه به راته پهٔ يقين سره ډيرښهٔ ښکاريده اوډيره ښکلابه مې پهٔ کښې ليدله مګر اوس هغه ديقين سرمايه پهٔ شك بدله شوه اوپخپل فکر او نظر راته بد ګماني پيدا شوه .

زهٔ به اوس ډير خوښ يم که داپاڼې لکه دتمباکوپاڼې دچادفکر صحت ته زيان ونهٔ رسوي اوڅهٔ زهرپکښې ګډ نهٔ وي.

هرڅهٔ چې وي او هرڅنګه چې وي مګر له ماسره بده اراده نهٔ ده موجوده اوپهٔ بدنيت دغه کارنهٔ کوم.

دافکرونه ښهٔ وي او که بدمګر دبيان او اظهار طرزيې بدنهٔ دی اودښهٔ نثر ښيګڼې پهٔ کښې شته که نور څهٔ نهٔ وي نودعبارت پهٔ لحاظ دا کتاب ديوه ادبي متن پهٔ حيث يوه ساده انشاء بللی شو چې له نوو ليکوالو اوپښتولوستونکوسره کومك کوي.

پهٔ دغه وخت کښې دغسې کتابونوته ضرورت موجود دی اودغه ضرورت ماته هغه وخت پوره څرګند شو چې زهٔ دحقوقوپهٔ پوهنځي او دادبياتوپهٔ پوهنځي کښې د پښتو استاذ شوم اودادوه کاله د پښتو درس راپهٔ غاړه شو .

پدې انشاء کښې که زهٔ يوڅهٔ ښکلېتوب وينم هغه ساده ګي اواساني

ده چې په لفظ او معنی کښې یې ډیر لحاظ ساتل شویدی اودا اسانې په ډیرو مشکلاتو لاس ته راغله .

www.libtool.com.cn

په دې انشاء کښې که دفکر او معنی څه بنایست شته هغه په ساده ـ ګۍ کښې پټ دی او څه ایغ نیغ حسن پکښې څوك نشي لیدی.

که دا نثررواج وموميي اوځینې نوي لیکوال دغه سبك غوره کاندي مابه دخپل زیار اوزحمت ډیر ښه اجر موندلی وي اوخوښ به یم چې د پښتو نثرته مې یوڅه خدمت وکړی شو .

ګل پاچاالفت

د پښتو ټولنې رئیس

# د پردې خبرې

www.jibtool.com.cn

ترڅو چې دښځو مخونه پټ وي خبرې به هم په پرده کښې وي ځکه چې په پښتو کښې خبره هم مونثه ده .

يواځې خبره لاځه چې ژبه وينا ، معنا ،خطا به،مقاله هم دتأنيث علامې لري .

هغه وينا چې ابتکار پکښې وي د ادب پردې ته لاډير ضرورت لري تاسې زما خبروته لږ غوندې باريك شئ !

د ادب اوسياست خبره ډيره باريکه ده .

زه په ډيره نرۍ اوباريکه لار لاړم،خدای دې وکړي چې ډير باريك بين خلك په دغه لارراشي اوپه ځير ځير وګوري.

مااوښان نه دي بارکړي زماقافله دمچيوده چې دګلونوله پاڼونه په هوا څه راوړي اوعسل جوړوي.

له دې قافلې سره دسباوږموخوشبويي بارکړيده چې څوك يې په سترګو نه ويني مګر حساس دماغونه يې احساس کولی شي.

هو! زما کار له احساس سره دی زما خريدار بايد ډير حساس وي يا ډير حساس شي.

www.libtool.com.cn

# ښهٔ حاکم

هغه چې نه نفس لري نه نفسي خواهشات .

نه يې پهٔ زړهٔ کښې ډارشته نه طمع

نه له موقوفۍ ويريږي نه دترفيع پروالري.

نه رشوت اخلي نه تنخواه.

نه له چاسره عناد لري نه د چامراعات کوي.

نه دچامخ ګوري نه د چاڅټ .

نه زورورپيژني نه غريب.

نه يې څوک خپل دي اونه پردي .

نه سفارش مني نه تملق اوري .

نه چاته خاندي نه چاته وچولی تريووي.

پوهيږې داحاکم څوک دی ؟

هو! قانون او عدالت .

* * * *

**

*

# لاروی

www.libtool.com.cn

موږ دخپلو کورونوله څنګه په دیره کښې ناست وو.

له پاسه یو لاروی راغی دونې دېته یې دده ولګوله ،له ملانه یې

دودی پرانیستله اوله څهٔ شي سره یې پهٔ خوند خوند خوړله .

موږ وزي تږي ووهغه ځان موږ کړ اویخې اوبهٔ یې وڅښلې .

موږرو ژه وو، هغه بوزه وُځکه چې پهٔ مسافر وباندی روژې نشته .

لاروي وویل : ماته دخوړلو اجازه شته او تاسوته نشته.

ماته خدای خوارهٔ اواوبهٔ روا کړیدی پهٔ تاسوبې ایسارکړیدي.

دا دخدای قانون دی ،ددې قانون پهٔ رمزاومعنی پوهیدل پهٔ کار دي.

دخدای کارونه بې حکمته نه دي تاسې ددغه عملي تعلیم پهٔ اصلي

معنی ښه فکروکړئ!

تاسې ولې وزی یاست اوزهٔ ولې موړیم ؟

زهٔ پهٔ کار او مقصد پسې روان یم او تاسې ځای پهٔ ځای پراته یاست.

ستاسوحرکت لنډ دی ځکه یې وزي کړئ.

تاسې دخدای قانون منلی دی مګرپوه شوي پرې نهٔ یاست .

زهٔ راوګرزیدم چې تاسې پهٔ دغه راز پوه کړم اوله لوږې نجات

وموممئ .

پاڅیږئ روان شئ اولرې ځای په نظرکښې ونیسئ .

لوږه او تنده پهٔ توقف اوسکون کښې ده پهٔ حرکت کښې نشته .

# ژوند

www.libtool.com.cn

ديوي چيني اوبهٔ دي، څوك يې د زروپهٔ جام كښې څښي ، څوك يې دخاوروپهٔ كنډولي كښې .

هغه چې نه دالري نه هغه پهٔ لپه كښې يې را اخلي .

پهٔ اوبوكښې هيڅ فرق نشته فرق پهٔ لوښوكښې دى.

د شاه او ګدافرق پهٔ لوښوكيږي .

داوبوپهٔ خوند هغه څوك ښهٔ پوهيږي چې ډيرتږى وي .

هغه لاروى چې له بيديانه ستړى ستومانه راځي اوتنده يې ډيره زياته ده دا اوبهٔ ډير خوند وركوي.

هغه دهقان چې پهٔ سره غرمه كښې يوې كوي اوخولې پرې راماتې دي دا اوبهٔ دهغه د پاره ډير لوى نعمت دى.

يوشپون چې له غرهٔ نه تږى راكوزيږي اوپهٔ چيني باندې خوله ږدي داوبوپهٔ خوند ډيرښهٔ پوهيږي .

يوبل سړى چې يخ سيورى ته پهٔ ارامه چوكۍ ناست دى، ښايسته صراحي يې له څنګه ايښې ده اوپهٔ ښوګيلاسونوكښې اوبهٔ څښي له اوبونه هغه خوند نشي اخستلى .

هو! ده دلار ويو اوشپنو تنده نهٔ ده ليدلې.

پهٔ سره او تېكنده غرمه كښې يې لونهٔ دى كړى ځكه هغه تلوسه پهٔ دهٔ كښې نشي پيدا كيداى .

چاچې لوږه اوتنده نهٔ ده ليدلې هغه دخوړواو اوبوپوره خوند هم نهٔ دى ليدلى اودژوند پهٔ كيف نهٔ دي پوه شوي .

# نوی نسل

www.libtool.com.cn

له زمکې نه بخارپورته شو.

له بخارنه وريځ پيدا شوه

له وريځې نه باران وورېده .

له بارانه د پسرلي ګلونه پيدا شوه .

له ګلونو نه خوشبويي پيدا شوه.

وګورئ موراولوريا پلار اوزوی څومره فرق لري ؟

هغه تفاوت چې دباران اوګلونو يادځمکې او بوټوترمينځ وينئ ديوه اوبل نسل تفاوت همدغو مره دی.

که اولادونه ميندوغوندې وای له غرونوڅخه به لعلونه نهٔ پيدا کيده له دريابونوڅخه به مرغلرې نهٔ راوتلې.

له آبشارنه به بريښنانهٔ راتله.

دړندواولادونه به ړانده و و.

له کڼونه به کاڼه زيږيدل.

اوس پوه شوئ ! چې نوی نسل او زوړ نسل يورنګه نهٔ وي.

که څوك خپل زلمي زوی ته زړه بوډۍ پهٔ نکاح اخلي يا خپله پيغله لوراتيا کلن بوډاته ورکوي ښهٔ نهٔ کوي.

زړه تربيه او نوې نسل همدغسې وګڼئ.

# لوی او وړوکی

www.libtool.com.cn

پهٔ شفتالو کښې زړی دی پهٔ زړي کښې دشفتالوونه ولاړه ده .
دغنموپهٔ وړوکښې دانې شته پهٔ دانوکښې همدغسې وزې شته.
پهٔ چرګه کښې هګۍ ده پهٔ هګۍ کښې چرګه ده.
دغه یوه دانه پندانه چې ګورې تیل اوپلته دواړه لري اوپهٔ حقیقت کښې بله ډیوه ده مګر ستاسترګې دغه رڼانهٔ ویني .
ته خبرنه یې چې پهٔ یوه دانه اوپهٔ یوهٔ څاڅکي کښې عالمونه پراتهٔ دي.
ته پخپله هم دغنم پهٔ دانه کښې ویده وې بیا دې پهٔ یوهٔ څاڅکي اوبوکښې لامبو وهله، نن پهٔ لویه بیړۍ کښې ناست یې اوپهٔ لویو دریابونوکښې ګرځې.
څهٔ شی چې ته وړو کی ګڼې هغه هم لوی دی یاهغه چې تاته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی.
تهٔ ونه لویه ګڼې هغه پهٔ یوه زړي کې ده.
تاته زړی وړو کی معلومیږي پهٔ هغه کښې غټه ونه ځای شویده.
دغه غټه هنداونه چې ګورې کال ته نهٔ پاته کیږي اوعمرېې ډیر لنډ دی، دغه دهندوانې کوچنی زړی تاته هرکال تازه هندوانې درکوي .


دزړي قيمت له هندوانې نه لږنهٔ دی.

www.libtool.com.cn

که زړی ورك شو هندوانه ورکيږي .

نوراشه ! هيڅ شی وړوکی او کوچنی مهٔ ګڼه ځکه چې دلته غټ اوکوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابردي يوازې خدایٌ لوی دی اوبس.

دنن ورځې ديموکراسي له همدغسې ژورې کتنې څخه پيدا شوه او دډيردقت نتيجه ده.



www.libtool.com.cn

# دشاعر تحفه

زهٔ چي ورغلم هغه پهٔ کوټنۍ کښې ناست ؤسريې پهٔ ګريوانه کښې ښکته کړی ؤفکري عبادت يې کاوه .

کله چي هغه سر راپورته کړ اوپهٔ مايې نظر ولويده ماخپله تحفه يو د پړانګ پوستکی او يوغزنيچی پوستين دهغه پهٔ مخ کښې کښيښوده.

هغه وويل : دايو د ظالم پوټکی دی څکه له پښتولاندي لويږي، دابل دضعيفانو له پوستکونه جوړدی اوپهٔ غاړې پوري تعلق نيسي.

دشاعر تحفه بايد همدغسې وي او همدغه معنی ولري.

دی بايد دا دوه منظري همدغه رازوښيي اوخلك پهٔ دغه رمزښهٔ پوه کړي.

پهٔ دغو خبرو زهٔ له خوبه راويښ شوم اوپهٔ خوب کښې دخپل خوب پهٔ تعبير پوهيدلی وم.

# خدمتګار

www.libtool.com.cn

هلته يو ړوندبې لارې روان ؤ هغه پهٔ سمه لاره برابر کړمګر ړوند پوه نشو چې زما رهبر څوك دی.

يوبل پهٔ خوازهٔ خوب ويده ؤپهٔ خواکښې يې يوهٔ منګرې سر را اوچت کړهغه پهٔ بيره وواژه اوويده هماغسې ناخبره پاته شو.

دشپې پهٔ مسجد کښې ناروغه مسافرزګيروي کول هغه يې پهٔ خدمت کښې شپه سباکړه، مسافرسباوون خواته مړشواوخپل زړهٔ سواندی خدمتګارېې ونهٔ پيژانده .

هغه پهٔ لاره روان ؤيوماشوم ته يې يوموټی ميوه ورکړه يوهٔ تږي ته يې پهٔ بيدياکښې اوبهٔ ورکړې، له يوه وږي سره يې خپله ډوډی نيمه کړه مګريوه هم ونهٔ پيژانده چې دی څوك دی .

له دې لويې لارې نه هغه ډيراغزي اوګاڼي لرې کړه مګرڅوك چې سباته پدې لاره راځي دهغه له خدمت څخه نهٔ خبريږي اوهغه نهٔ پيژني .

پهٔ ربښتيا چه موږخپل خدمتګاران نهٔ پيژنواوياداران ډيربنهٔ پيژنو .

# عقل

www.libtool.com.cn

ډیرلږخلق دي چې کله کله یونیم کاردعقل په خوښه کوي.

نورټول کارونه دمینې اومحبت دپاره دحسد اوعناد دپاره ،دحرص اوهوس دپاره وي،یادکوم زوروړپه امراودنادانۍ په فرمان اجراکیږي .

سره له دې چې دعقل برخه په ژوندانه کښې ډیره لږه ده بیاهم هرڅوك دعقل ستاینه کوي اودعقل دښمن هم عقل ښه ګڼي اوبې عقلي نه خوښوي.

ښایي چې عقل په همدغه سبب دهرچاخوښ وي چې دچاپه کارکښې کارنه لري اودزوروړو خوي پکښې نشته.

عقل زموږتابع دی او زموږ زړه ته ګوري هغسې مشوره راکوي ځکه یې ستایو اوصفت یې کوو.

که عقل په موږباندې حاکم وای او اقتدارېې درلودای موږبه ترینه ډیر سرټکاوه اوبد به موګڼه ځکه چې تراوسه موږ له یوه حاکم نه هم په زړه کښې ډیرخوښ نه یو اوډیر ښه حاکم هم ډیر خلك له ځانه خوابدي کړیدي.

په رښتیا چې عقل غونډې بې ضرره شی نشته .

عقل هرکله زموږ خیراوګټه راښیي اوعقل دهمدغه شي نوم‌دی .

که موږ دعقل یوه خبره‌هم ونه منو بیاهم عقل رانه نه ځي او بد راسره نه کوي.

که موږ په ناکاره کار پسې په بده لاره روان شو عقل راسره ملګری

دی اوخومره چې کیدی شي له خطر نه موساتي.

www.libtool.com.cn

ډیرې غلاګانې دعقل په مرسته کیږي که څهٔ هم غلاته په بنهٔ نظرنه ګوري اوغلایې نهٔ ده خوبنه .

هغه شیطاني چلونه چې انسان کشف کړیدي اوشیطان هم ورته حیران دی دساده ګانو او احمقانو کارنهٔ دی.

فریب اوټګي سره له دې چې سم او صحیح عقل ورته بد ګوري بیاهم دهوښیارۍ بدعمله اولاددی اودبد سړي له عقل څخه دغه رازبد اولادپیداکیږي، همدغسې عقل یوهٔ غلهٔ ته هم دتیښتې لاره ښیي هم یې ماړه کاله ته بیایي اوکه حاکم ونیوه دځان دخلاصولو چلونه هم ورښیي.

که سړی هرڅومره ګنهګار ؤعقل ورته دنجات لاره لټوي اوله همدردۍ نه لاس نهٔ اخلي پهٔ رښتیا چې دومره مهربانه ملګری بل نشته.

هغه وخت چې څوك عقل له ځانه شړي اوپهٔ عقل هجوم وروړي باده اوپیاله دی پهٔ لاس کښې ورکوي اودمخه ورته لایوداسې ځای پیدا کاندي چې ډیر رسوانښي اومحتسب یې ګریوان ته لاس وانچوي.

دعقل خوی اوخصلت پهٔ هیچاکښې نشته، پهٔ زړهٔ کښې حسد او عناد نه لري لکه ماشوم مرورکیږي نه ، ظلم اوناروایې نهٔ ده خوښه مګرله ظالم سره دښمني هم نهٔ کوي.

فسق او فجورورته بد معلومیږي خودزاهد پهٔ شان له فاسق اوفاجرنه نهٔ تښتي.

هرچاته دخیر خواه پهٔ نظر ګوري او دانسان پهٔ مجبوریت ډیرښهٔ خبردی.

عقل پهٔ دې خبره ډير زور اچولی دی چې انسان پخپلو کړو کښې پوره آزادي اواختيارنهٔ لري اودمجبوريت جنبه يې ډيره غالبه ده .

www.libtool.com.cn

هو! عقل دا غواړي چې دانسان له ضعف اوناتوانۍ نه يوداسې قوي دليل جوړ کړي چې دهغه بل جهان له ملامتۍ نه يې هم خلاص کاندي .

عقل پهٔ دې پوهيږي چې انسان دخپلو غرايزو او احساساتوتابع دی او منطق هرکله دخپلو اغراضو د پاره استعمالوي .

د انسان له منطقي تعريف څخه هم دامعلوميږي چې دی اول حيوان اوبيا عاقل دی، يعنې دده نطق او عقل دحيوانيت تابع دی او حيواني غرايز پکښې د اوليت حق لري .

دايومنلی حقيقت دی چې عقل زموږ تابع دی موږدعقل تابع نهٔ يو، عقل زموږ د پاره پيدا شوی موږدعقل د پاره نهٔ يو پيدا.

که موږ پهٔ عقل باندې دليونويادماشومانو کار کووکوي يې اوزموږله امرنه غاړه نهٔ غړوي.

که زهٔ اوتهٔ دوستان يوزمااوستاعقل هم دوستي کوي .

که موږغليمان شو،زموږ عقلو نه يوله بل سره دښمني کوي اوپهٔ جګړه اخته کيږي.

ښهٔ عقل هماغه دی چې دمينې او محبت پهٔ غيږ کښې وده وکړي اودښوعواطفو او احساساتو پهٔ لمن کښې ورروزل شي.

عقل داخلاقوتابع دی .که اخلاق ښهٔ ووعقل هم ښهٔ کيږي که اخلاق بدوو، عقل هم پهٔ بده لار روانيږي اوبده لاره ښيی.

# پوهه او هوښیاري

www.libtool.com.cn

زه چې وړو کی وم اګرکه اوس هم لوی نه یم له هرچانه به مې اوریدل:
فلانی بې عقله دی په څه نهٔ پوهیږي ، دعقل په پوله هم نهٔ دی تیرشوی اوددوه خرواوربشې نشي بیلولی مګر یویوبه چیرته داسې هم پیدا کیده چې خلکوبه ورته پوه او هوښیارویلې. زهٔ همدغه وخت پهٔ دې خبره پوه شوم چې پوهان او هوښیاران پهٔ دنیا کښې ډیر لږدي اوناپوهان ډیر زیات دي.

کله چې زهٔ پهٔ سبق کښیناستم ماته یې وویل:
سبق ووایه چې پوه اوهوښیار سړی درنه جوړشي .
داخبره پهٔ ماباندې ښهٔ ولګیده اوپوه شوم چې پوهه او هوښیاري مې خوښه ده .

هغه وخت زهٔ هوښیارنهٔ وم مګر هوښیاري مې ښهٔ ګڼله اوناپوهي راته بده ښکاریده.

نهٔ پوهیږم چې دغه تمیز ماله کومه کړی ؤاویوبې عقل څنګه پوهیدی شي چې عقل ښهٔ دی اوبې عقلي ښهٔ نهٔ ده . خو اوس پوه شوم چې ماشومانوته که څوک هرڅهٔ هررنګه وښیی هماغسې یې ګڼي اوله ځانه څهٔ فکر نشي کولی.

ماشومان لاپریږده چې دزیروخاوندان هم دغه شان دي او لوی لوی سړي دیوه اوبل پهٔ خبرو تیروزي.

ماهغه وخت دملاصاحب سوکانوته دهمدې د پاره سرونیوه چې پوه او هوښیارشم .

www.libtool.com.cn

هو! د پوهې او هوښیارۍ ځای سراودماغ ؤ،مګرپوهه دملاصاحب په لاس کښې وه اوله هرچاسره نهٔوه .

ماته هوښیاري ځکه ښهٔ ښکاریده چې ډیره لږه وه اوله لږو خلکو سره وه .

هرڅهٔ چې لږوي قیمت یې ډیروي اوخلك یې ارماندکوي،هرڅوك هغه څهٔ غواړي چې نهٔ یې لري.

که زهٔ پوه اوهوښیار وای پهٔ پوهې اوهوښیارۍ پسې به نهٔ ګرځیدم.

ډیرخلك ډیر وشیانوته دناپوهۍ پهٔ سبب هڅه کوي او ډیر کارونه له ناپوهۍ ولاړیږي.

زهٔ هم نهٔ پوهیدم چې پوهه مې غوښتله .

هرڅهٔ چې وواوهرڅنګه چې وو ماپهٔ لیك اولوست کښې دانایي لټوله اوسبق مې وایه چې یوه ورځ مې درحمان بابا پهٔ کتاب کښې ولوستل :

دا دنیا پهٔ احمقانوده ودانــه

دانانه که پهٔ دنیا باندې غرض

مګر چې شاوخوامې ښهٔ وکتل پهٔ رښتیا چې دکلي خان به ټوله ورځ پهٔ دیره کښې یخ سیورې ته پروت ؤ اوهیڅ به یې نهٔ کول، دهقانانو اومزدورانوبه پهٔ سره غرمه کښې یوې، لوونه اوغوبلونه کول،زحمت او خواري به د دوي وه ګټه به دخان کورته راتله .

زهٔ دغه وخت دعقل اوهوښیارۍ پهٔ کرامت او برکت نورهم پوه شوم اوباورمې راغۍ چې زموږ پهٔ کلي کښې یوازې خان صاحب هوښیار دی

چې هيڅ نهٔ کوي او نورټول بې عقله اوناپوهه دي چې ددنيا کارونه کوي.

www.libtool.com.cn

ددهٔ د پوهې اوهوښياری يوبل دليل هم له ماسره وو.

هغه داچې دی به پهٔ ژمي پيتاوي ته کښيناسته اوپهٔ اوړي کښې يخ سيوري ته .

هغه نور به پهٔ سرهٔ اوړي کښې سرهٔ لمرته ولاړوو، او کاربه يې کاوه.

مابه پهٔ جومات کښې پهٔ زوره زوره ويل :

دا دنياپهٔ احمقانوده ودانــه

دانانه کاپهٔ دنيا باندې غرض

خوهغوی پهٔ دې خبره نهٔ پوهيدل اوزما چيغې عبث وې .

ډيره موده وروسته زهٔ له کلي کوره راووتم ښارته راغلم پهٔ دفتر کښې ميرزاشوم دميرزا يانوله څنګه کښيناستم پهٔ چپړاسيانوبه مې حکمونه کول اوپهٔ هرکارپسې به مې ليږل.

دلته هم هماغه قانون جاري ؤاو درحمان باباخبره راته دکانې کرښه ښکاره شوه.

چپړاسيان به ټوله ورځ پهٔ سرهٔ ژمي اوپهٔ واو روکښې دايره پهٔ دايره ګرځيدل مکتوبونه به يې رسول موږبه پهٔ توده کوټه کښې ناست وومکتوبونه به موليکل .

زموږمدير صاحب به نورځهٔ نه کول يوازې دستخط به يې کاوه يعنې زموږ کاربه ددهٔ پهٔ نامهٔ ختميدهٔ که د دستخط پر ځای مهرلګول رواج وای دا کاربه هم کاتبانو کړی ؤمګرنهٔ پوهيږم چې مديران ولې مهرونه نهٔ جوړوی .

که یو کاتب خپل کار دمدیر پهٔ نامهٔ ختم کړي اودی پخپله دهغه مهر دمکتوب پهٔ آخر کښي ولګوي داکار اخلاقاً ښهٔ دی ځکه چې دایثار اوفدا کاری معنی لري که څوك پردی کارپخپل نامهٔ ختموي ښهٔ نهٔ معلوميږي .

www.libtool.com.cn

له چپړاسیانونه زموږ کارلږ او آسانه وُ اوله موږ نه دمدیرصاحب کارسپك وُرئیس صاحب چې عقل عالم وُهغه بیخي کارنهٔ کاوه اوکله به دیوهٔ ساعت له مخې ریاست ته راغی ځینې ورځې خوبه یې خپل مبارك نوم هم پهٔ کوم مکتوب یادحاضری پهٔ کتاب کښې نهٔ لیکه چې دکار نحوست ددهٔ پهٔ نامهٔ پرینوزي او هوښیاری ته زیان ونهٔ رسیږي.

زموږ مکتوبونه ځینې داسې ووچې چپړاسي ته به موورکول چې پهٔ مدیر یې امضاء کړي ځینې به موږ پخپله رئیس صاحب ته دامضاء د پاره وړل.

درئیس صاحب حضورته چپړاسي مکتوبونه نشووړلی ځکه چې دادب تقاضاء دانه وه چې یو خوارچپړاسي پهٔ خواره جامه کښې دیوهٔ لوی سړي پهٔ حضور کښې ودریږي که څهٔ هم دخدای حضورته پهٔ لمانځه دریږي .

هو! د دربار پهٔ آدابوهرڅوك نهٔ پوهیږي او درباري پوهه له هرچاسره نشته هلته موقع شناسي له هرکارنه زیات قیمت لري او دنزاکت مراعات ډیرپهٔ کارد ی .

پهٔ رمزاو اشاره پوهیدل، مزاج پیژندل، دبل پهٔ خوښه خبرې کول، دبل پهٔ نظر هرڅهٔ لیدل ډیر لیاقت او مهارت غواړي.

هرڅوك نشي کولی چې له ځانه به هیڅ فکر او هیڅ عقیده نهٔ لري

مګر دبل هرفکراو هره نظریه به دار سطو پهٔ منطق ثابتوي .

www.libtool.com.cn

پخپلو اوزوباندې هرڅوك دبل پيتې وړلې شي مګرله زړهٔ نه دنورويابو جوړول آسانه کارنهٔ دی.

تاسې دربار يانوته پهٔ عادي نظرمهٔ ګورئ دومره باريك بين خلك بل چيرته نشته، د دوی ډيرلږ کار دپوهې او هوښيارۍ له برکته دنوروله ډيرو درنوکارونونه درروند خيژي.

ددوي مثقال اودنوروخرواربرابرنهٔ دي که دنورودفعاليت دوړې او ګردونه آسمان ته ورسيږي اودوي محضې دچادبوټونوګرد پاك کړي د دوي دکارقيمت زيات دی اوله هغوی نه يې تنخواه ډېله ده .

دوي پهٔ جنګونواو جګړو کښې دسربازۍ ميدان ته نهٔ حاضريږي، پهٔ فابريکواو کارخانوکې کارونه نهٔ کوي، لوړې ژورې نهٔ اواروي،معدنونه نهٔ سوري کوي مګر ګټه يې له نورونه زياته ده اوپهٔ لوړ مقام کښې ځای لري.

د دوي کار دومره باريك دی چې هرچاته نهٔ معلوميږي مګرلياقت يې معلوم دی اوپهٔ هوښيارۍ کښې يې ځهٔ شك اوشبه نشته.

څومره چې پوهه اوهوښياري زياتيږي هغو مره فعاليت اودکارستوماني کميږي .

نه ګورئ چې ماشومان له لويو اودرنوخلکونه ډيرحرکت کوي داباشي ولاړوي اومزدوران تيزې چلوي .

مشران له ځايه نهٔ ښوري او کشران پهٔ مخکښې منډې وهي که لرې نه ګورئ هادخپل لاس ساعت ته وګورئ ثانيه ګرد چې وړوکی دی څومره ژر ژر ګرځي دقيقه ګرد چې لوی دی ورو روان دی .

کوچني موټرډیر ګړندی ځي اولویه لارې هغسې نشي تللی.

اوس پوه شوئ چې لویوالی او دروندوالی همدارنګه عقل او پوهه فعالیت کموي او منډې رامنډې دبې عقلو کار دی.

www.libtool.com.cn

هوښیاران کارنهٔ کوي فکر کوي او چرت وهي ناپوهان جبل وهي او غرونه سوري کوي.

د دنیا آبادي اوودانې پهٔ کار اوفعالیت پورې تعلق لري او عقل یاهوښیاري سړی ستومانۍ او زحمت ته نهٔ ورکوي.

یومیرزا هیڅکله پخپل کار کښې دیوه جوالي غوندې نهٔ دی ستړی شوی (عقل نیست جان درعذاب) همدغه معنی لري او رحمان بابا دهمدې لامله وایي چې دنیا پهٔ احمقانوودانه ده اودانا ددنیا پهٔ کارځهٔ غرض نهٔ لري .

تاسې له هوښیارانو او پوهانوډیر کارمهٔ غواړئ دوي پریږدئ چې فکر وکړي او بې کاره بې زیاره ګټه خپل کاله ته راوړي.

هوښیاري او پوهه همدغه ده چې کاریې لږ او ګټه یې ډیره وي یاپهٔ بل عبارت هیڅ نهٔ کوي اوهرځهٔ د دهٔ وي.

دنوروله زیاراوکارڅخه ګټه اخستل ،بل غولول اوځانته ګټه اړول پوهه او هوښیاري ده .

دا دپوهې اوهوښیارۍ برکت دی چې ډیرلږ خلك یعنې هغه چې دنن ورځې پهٔ اصطلاح پهٔ اقلیت کښې دي اولزه کي ورته ویل کیږي د ډیرو خلکوله ستړتیااوستومانۍ نه ډیره زیاته استفاده کوي.

که تاسې دهروطن دناز او نعمت خاوندان اوشتمن وګورئ دوي ډیرلږدي مګر ډیرزیات خلك د دوي دګټې د پاره استعمالیږي یعنې د

دوي سمسورېږ د نوروپهٔ خولووده کوي او د دوي راحت دنورو دزحمت نتيجه ده .

www.libtool.com.cn

داده هغه پوهه او هوښياري چې ماپهٔ ليك اولوست کښې لټوله او زهٔ يې له کاره وايستم.

هو!

پوهه او هوښياري سړی له کاره باسي دکارخلك نوردي پوهان او هوښياران نهٔ دي .

دخيرخلك هماغه دي چې نوروته يې خيررسيږي پوهان او هوښياران ځانته خيررسوي او خپل خيرلټوي .

دهمدې لامله وايي چې دجنت اکثره خلك ساده ګان دي اودنيا هم پهٔ ساده ګانو او احمقانوودانه ده .

PROPERTY OF ACKU 4229

# احمق څوك دى ؟

www.libtool.com.cn

هغه چې د دنيا په سوداوزيان نه پوهيږي او دګټې په ځاى تاوان كوي خلك ورته أحمق،بې عقل او ساده وايي.

دا دري نومونه لكه ديوه سري مختلف عكسونه چې په بيلوبيلو كمرو او مختلفو احوالوكښې بيلو عكاسانو اخستي وي په عين اتفاق كښې اختلاف هم لري اوپه يووالي كښې يې يوځه بيلوالى معلوميږي .

كه څوك كوم بې عقل سړى سپكوي احمق ورته وايي او كه يې ستايي نوساده يې بولي.

دوينا اوبيان سحر دالفاظو په همدغسې فريب كښې پټ دى.

په كتابونوكښې راغلي دي چې پخوابه يې ټوكيانوته احمقان ويلې او ددربار احمقان به هماغه كسان وو چې پخپلو خبروبه يې خلك خندول اوپه مجلس كښې به يې خوشحالي پيداكوله .

داحمق اوساده يومثال ملانصرالدين دى چې په ظرافت او مسخره توب هم شهرت لري.

د دغه مرحوم دحماقت دليل دخلكو په نزد دادى چې ده به په يوه روپۍ څلور داني هګۍ واخستلى هغه به يې وخوټولې په رنګ به يې سرې اوشنې كړې بيابه يې دروپۍ پنځه داني خرڅولې يعنې دګټې په ځاى به يې تاوان كاوه او خپل مال به يې ارزانه خرڅاوه.

اوس چې څوك له چانه څه شى ارزانه وغواړي هغه وايي څه ملانصرالدين خونه يم.

دا نوم اوس دومره عام شویدی چې که هرڅوك یوشی ګران واخلي اوارزانه یې خرڅ کړي خلك ورته ملانصرالدین وایي
www.libool.com.cn

موږ په خوله وایو چې عقل بیل شی دی او ددنیا مال بیل شی دی، څوك به عقل لري مال به نه لري، ځینو نوروسره به مال وي او عقل به نه وي مګر په عملي ډول دهرچا عقل اوبې عقلي د دنیا دګټې او زیان له مخې معلوموواوپه حقیقت کښې ګټې ته عقل وایو اوتاوان بې عقلي یاحماقت بولو.

زموږ په خیال او تصور کښې دانشي راتلی چې ملانصرالدین به دا کار ددې د پاره کاوه چې نرخ ارزانه کړي او خپل احسان په دغسې تجارت کښې پټ کړي چې خریدارېې په سخاوت هیڅ پوه نشي او کرامت حماقت وګڼل شي.

که زموږ ګمان نیك اوښه وای ملانصرالدین به مودخیر اوفیض خاوند ګاڼه او دهغه په عقل پورې به مونه خندل .

هغه بل کال زموږ په هیواد کښې قحطي او ګراني وه یوه لوی سوداګرله هرات نه ډیره غله قندهار ته راوړه او په خلکویې د بازار له نرخه ارزانه خرڅه کړه یعنې ګټه یې ونکړه تاوان یې وکړ داکار هیچادهغه په بې عقلۍ حمل نکړاوپه اخبارونوکې یې ډیره ستاینه وشوه هغه ته چاملانصرالدین ونه ویلې بلکه دخیر اوبرکت خاوند یې وباله .

یو وخت زه له یوه شتمن سړي کره میلمه شوم. دهغه په کاله کښې هرڅه پاخه شوه مګر سکړك یې نه درلود دکاله خاوند څوغلمینی ډوډی خپلو همسایه ګانوته ولیږلې اوهماغومره سکړکان یې راوړه .

ماته دا معلومه شوه چې دوي هره ورځ دغه راز تجارت کوي اوپخپل

کاله کښي جواری نهٔ پخوي.

www.libtool.com.cn

دا سوداماته دخوارانو او غريبانود پاره سودمنه ښکاره شو ه او مرحوم ملانصرالدين راپهٔ ياد شو.

زه دا جرأت نشم کولی چي دغه رازښهٔ کاراحمقانه وکړم.

پهٔ کوم کاله کښي چي هرڅهٔ ډيروي دغومره لزتاوان هيڅ تأثيرنه لري .

بډايان له دغسي تظاهرنه يومخصوص خوند اخلي چي موږ هغه نهٔ دی څکلی.

که دغه رازکاريو خواراوغريب وکړي حماقت دی ، مګر دبډايانو د پاره صفت دی .

عقل اوپوهه خوارانواوفقيرانوته دا اجازه نهٔ ورکوي چي ډوډی پهٔ جواري باندي سرپهٔ سرورکړي اوخپل حماقت ښکاره کړي مګربډايان پهٔ دغسي کارونوښهٔ ښکاري اوخوک ورته ملانصرالدين نهٔ وايي بلکه حاتم طايي يې بولي.

که خواران او غريبان له اسراف او تبذيرنه کار واخلي ډيره لويه ناپوهي او ناداني ده ،مګر بډايان پهٔ اسراف او تبذير دجوداوکرم خاوندان ګڼل کيږي.

دغه عقل چي دخواراوغريب رهبري کوي دبډايانو د پاره نهٔ دی پهٔ کار.

هو! عقل هغه امساده چي ګوډ او ضعيف انسان ورته اړدی.

هغه چي دقوت اوقدرت خاوند دی دغه دضعيفانو وسله ورته نهٔ ښايي .

دعقل عينکي دکمزوري نظر بينايي زياتوي اود تيزنظرخاوندان يې کله کله د ډول اوفيشن د پاره پهٔ سترګوکوي.

که څوك عقل او هوښياري لټوي دخوار او غريب پهٔ کور کښي دي

ولتهوي زور وراوېداﻳان له دغه شي نه بي نيازه دي.

www.libtool.com.cn

تاسې يوه انسان ياﻳوه حيوان ته چې څهٔ نهٔ وينې ړوند ويلی شئ مگرسيند اوسيلاب ته ړوند ويل غلطه خبره ده که څهٔ هم پهٔ نااواره لاره روان وي اوپهٔ سمه لاره نهٔ درومي .

داڅکه چې دغه پرزيدل او جگيدل هغه ته څهٔ زيان نهٔ رسوي اوبې سترگوهم ډير گړندی تللی شي.

که موږ دخپل هيواد پهٔ خلکو کښې فکرو کړوهغه کارونه چې ځينې زور وراوېداﻳان يې کوي پهٔ عقل برابرنهٔ دي که موږ يې وکړويدښکارو او ضررويښو ځکه موعقل مخه نيسي مگر زوروړواودقوت خاوندانوته زيان او ضررنه رسوي ځکه يې عقل هم مخه نهٔ نيسي او دغه دغريبانو ناصح دهغوي حضورته لاره نهٔ لري .

د زور وروپهٔ مخکښې عقل گونګ وي اوډيرمزخرف معلوميږي هرڅهٔ چې بې ضرورته وي او احتياج ورته نهٔ وي بدښکاري اوقيمت يې لږوي.

که چيرې پهٔ انسان کښې ډيره نيمگړتيا او کمزوري نهٔ وای او عقل ته يې احتياج نهٔ درلودای عقل اوپوهې به دغومره قدرنهٔ درلوده .

اوس پوه شوئ ! چې هر خوار او غريب سړی که ځان ته خپلې ياپښې لږ غوندې گرانې واخلي اودوه يادرې روپۍ پکښې وغوليږي هرڅوك ورته احمق وايي.

يوبداﻳ که پهٔ زرهاؤ روپۍ يوه شپه پهٔ قمار کښې بايلې احمق نهٔ دی هغه چې دورځې دشلويادېرشوروپوپهٔ سگرټو اورلگوي يادسينما او تياتر پهٔ تشه ننداره پيسې ورکوي څوك ورته احمق نهٔ وايي مگر که يو مزدور يوه ورځ کارونه کړي او وزگاروگرځي احمق دی ځکه چې بيگاته

په کور کښې ځه نه لري او وزی پاته کیږي .

یوبډای په ګرندي موټر کښې ډیر لږې ځای ته په ښکارپسې ځي په لاره کښې ډیرتیل مصرف شي دموټر کمانی ماته شي او ټیر هم بچ کاندي مګر دښکار برابری رانشي اوپس له دوه دری شپوپنځه یاشپږ داني زرکې له ځان سره کاله ته راوړي چې دانه په سلورو پوهم نه پریوزي هغه ته خوك ملانصرالدين نه وايي ځکه چې ژوند دغسې تفريح اوپام غلطولوته احتياج لري اودشوق اوذوق د پاره مال تاوانول ناپوهي نه ده .

www.libtool.com.cn

کله چې یوبډای یوه ښکلې نفيسه تابلو په ډیرو روپواخلي یاځینې انتيك او زاړه شيان دتش نمود د پاره په ډیر لوړ قیمت رانیسي هغه بل چې یو زوړ قلمي کتاب چې ذوق اوصنعت پکښې خرڅ شوی په ګرانه بیه اخلي او دهماغه کتاب چاپي نسخې ډیرې ارزانه لاس ته راځي ته وایه چې دغه راز تاوانونه دڅه د پاره دي؟

که غرض معنوي استفاده وي هماغه معنی په چاپي کتاب کښې هم شته معلومه شوه چې مال تاوانول دنامهٔ اوشهرت د پاره دشوق او ذوق د پاره دهوا او هوس د پاره حماقت نه دی صنعت دی او ستاینه یې کیږي مګرپه دې شرط چې سړی خوا راوفقير نه وي بډای وي او ډیرې پیسې ولري.

اوس خوبه پوهیدلي یاست چې احمق څوك دی او موږ چاته احمق وایو؟

# نوی درس

www.libtool.com.cn

چیرته مې دچاپهٔ کوم کتاب کښې ولوستل استاذ خپل شاګردته دادرس ورکاوه:

له خدایه ډیرخوښ اوسه چې تهٔ یې بې هنره پیداکړې اوتاته یې هغه استعداد درنکړچې یوه ورځ د خلکودپاره لویه بلادر نه جوړه شي، تهٔ پهٔ دې پوه شه چې خدای ته هماغه څوك ډير نزدې دي چې له ذوق او هنرنه ډير لرې وي .

هغه‌توند اوتیز فکر چې زما پهٔ برخه رسیدلی دی ماته پهٔ دنیا او آخرت کښې زیان رسوي او زما اسایش خرابوي .

ډیرفکر کول ډیربد مرض دی چې پهٔ څوتنو پورې اختصاص لري که دامرض خپریدلی ډیر ژربه یې دبشر نسل تباه کړی وُ.

زهٔ پهٔ دې ښهٔ پوه یم چې پهٔ ژورفکر او عقل کښې دروح تباهي ده .

ژور فکر د بشرد پاره طبیعي کارنهٔ دی.

همدغه شی دی چې پهٔ سړي کښې دعمل اقدام وژني.

هیڅوك هیڅ کار نشي کولی ترڅوچې څهٔ قدر تنك نظره او لنډ فکره نهٔ وي .

تفکر دانسان د پاره ډیره لویه بدبختي ده .

هغه چې لږ فکر کوي یاهیڅ فکرنهٔ کوي پهٔ دواړو جهانوکښې کامیاب دی مګر ډېر فکر او عقل خاوندان هرچیرته اوهرکله له جسمي او روحي هلاکت سره مخامخ دي .

په رښتيا چې په فکر اوعقل کښې ډيرخباثت پټ دی.

پوهه او فلسفه په حقيقت کښې په ذهن باندې دشيطان استيلاده .

www.libtool.com.cn

بشر په اصل کښې يو احمق حيوان دی او دده معنوي ترقي دده دفکري اضطراب د پوچو آثارو نوم دی.

هغه څوك چې دنبوغ اوقريحې خاوند دی دمعاشرت په دردنه خوري او دمعاملې خاوند نه دی.

زه دفکر آزادي له هرڅه نه پورته ګڼم هرڅوك له ځانه خوابدي کوم مګر خپل ځان اوخپل وجدان خوشحاله ساتم.

# دري کاله

www.libtool.com.cn

يوکال موسم ډير ښهٔ راغی ، بارانونه وخت پهٔ وخت پخپله موقع وشوه چې نه له ضرورته زيات وو اونه کم.

دزميندارو فصلونوته هيڅ زيان ونهٔ رسيده اوللمه ډيره ښهٔ راغله .

دهقانان ډير خوشحاله وو چې فصلونه ډير ښهٔ دي او کال ډيرښهٔ راغلی دی.

کله چې درمندونه تيار شوه خلك پهٔ رښتيا دغلې پهٔ چلولو سترې شوه اوپهٔ کورونوکښې دغلې ځای نه ؤ.

پهٔ دغه کال پهٔ ملك ارزاني راغله اودغسې ارزاني چاپهٔ خوب کښې هم نهٔ وه ليدلې دغلې خريدارلکه دانځر ګل چاپهٔ سترګونه ليدهٔ زميندارويه تيل اومالګه پهٔ غنمو اخسته جنس به پهٔ جنس بدليده د زمنيدار ويهٔ کور کښې مړی نه ؤ، ويرېې ؤ دوې د پاك خدای پهٔ دغې مهربانۍ خوشحاله نهٔ وو اودشکر پهٔ ځای به يې شکايت کاوه ، همدغه ناشکري وه چې بل کال هغسې رانغی اوغله بيخي ورکه شوه ځينوبه ويل چې تخم هم پهٔ لاس رانغی اوخرواريهٔ چارك ولګيده .

پهٔ دغه کال پهٔ وطن باندی قحطي او ګراني راغله ، هرڅوك . پهٔ غلې پسې لالهانده اوسرګردانه ګرځيده اودچاپهٔ کور کښې دموږك لګی‌ړنهٔ سپيره کيده زمينداران بيا خپه وواوډيرافسوسونه يې کول چې ګراني اوقيمتي د دې کال وای اوغله دپروسږکال مګرداااجتماع محاله وه اودغه کال هم پهٔ افسوس اوارماند تيرشو.

دريم کال له دواړو کلونونه مخالف راغی يعنې دځينو زميندارو غله

ډيره زياته وه اوډځينو كښنت ته زيان او آپت ورسيده ځكه نرخونه جلګ شوه مګر قحطي نهٔ وه . د چاغله چې ډيره وه اوپهٔ ګران نرخ يې وپلورله هغه له ډيري خوشحالۍ پهٔ جاموكښني نهٔ ځاييده او چاچې دخرڅون دپاره غله نهٔ درلوده پهٔ كاله يې دغم كاني وريدل .

www.libtool.com.cn

زهٔ دغه وخت پهٔ دي پوه شوم چې موږتول نشوخوشحاليدلی اوپهٔ داسې حال كښنې واقع يو چې كه يو خوشحاليږي هغه بل به خپه كيږي يعنې دځينو خوشحالي دځينو نو رود خپګان نوم دی دهمدې لامله وايي چې يومړنشي بل نهٔ مړيږي .

د دنيا پهٔ بازاركښې داسې سودنشته چې پلورونكی اوپيرودونكی دواړه ګټه وكړي يعنې يوخپل مال ګران خرڅ كړي او هغه بل يې ارزانه واخلي پهٔ كومه سوداكښې چې سود اوزيان نهٔ وي اوخريدارياخرڅوونكی يوهم ونهٔ غوليږي يوهم نشي خوشحاليدلی، كه يو سړی خپل سل ګون لوټ پهٔ شلو پنځه ګونوبدل كړي پهٔ دغه تجارت كښې خوشحالي او خپګان نشته ځكه چې سود او زيان پكښنې نشته كه يو پهٔ حساب كښې وغوليږي دی به خپه شي او هغه بل ته به خوشحالي پيداشي اوس پوه شوئ چې موږ پهٔ څهٔ خوشحاليږو اوپهٔ څهٔ خپه كيږو ؟ كه ښهٔ فكر وكړو آياديوه ګټه دبل د تاوان نوم نهٔ دی؟

زما يو ملګری دومره شته او جايداد لري چې جامه اوډوډی ډيره ښهٔ ور رسيږي كور لري،ځمكه لري،باغ لري لنګه غوا ورته ولاړه ده . موټرشته اوډهيڅاپوروړی نهٔ دی پهٔ بانك كښې يې هم پيسې پرتې دي اوله هرې خوابيغمه معلوميږي مګريوبل سړی له دهٔ نه هرڅهٔ ډيرلري اوځمكې،باغونه،كورونه،نغدې پيسې يې له دهٔ نه زياتې دي هغه خپه

دی چې زهٔ ولې دغه بل قدرته جایداد نهٔ لرم دابل خوشحاله دی چې له
www.libtool.com.cn
هغه نه یې جایداد ډیر دی.

زموږ اکثرغمونه همدغه رازدي چې دیوه بل سړي له خوشحالۍ
پیداشویدي اوډیرې خوشحالۍ هم شته چې دنوروله خپګانه پیدا کیږي.

دغه یوچې پهٔ زړه جونګړه کښې اوسي دغه بل چې پهٔ لوړه ماڼۍ
کښې استوګنه لري، دی دهغه جونګړهویني ځکه خوشحاله دی هغه دده
قصر ویني ځکه خپه دی که چیرې موږ ټول پهٔ جونګړو کښې اوسیدلی
یاټول پهٔ لوړوماڼیو کښې وای نه به جونګړه دغم کوډۍ وه نه به لوړه
ماڼۍ دخوشحالۍ ځای .

که حقیقت ته ځیر شو یوګوډ پهٔ دې نهٔ دی خپه چې ولې ګوډ دی
بلکه پهٔ دی غمجن دی چې ولې نوردهٔ غوندې نهٔ دي.

هغه چې پهٔ اس بلغندی سپور دی او نورې پهٔ مخکښې منډې وهي
د اس پهٔ سپرلۍ دومره نهٔ دی خوښ لکه چې دنوروله پلي توب څخه خوند اخلي.

داوه زما د دروکالو مطالعه چې تهٔ یې پهٔ لږساعت کښې مطالعه
کوې،دغه لږه پوهه چې تهٔ ورته پهٔ سرسري نظرګورې اوستاپهٔ نظرکښې
ډیره ساده ګي لري زما د پاره ډیره عمیقه فلسفه ده،زهٔ پهٔ ډیره موده
کښې دغه حقیقت ته رسیدلی یم تهٔ به پهٔ ګړندي ګاډي کښې یوه ځای
ته ډیر ژربې تکلیفه ورسیږې مګر هغه څهٔ چې پهٔ لاره کښې یوپلی
ویني ته یې پوره نشې لیدای ستا نظرپهٔ دغه لاره ډیر ژرعبورکوي او
کنډې کپرې داخواهغه خوانه ګورې.

ستاسیر ډیرګړندی دی اوپهٔ دغو مره سرعت کښې دقت او تعمق نهٔ ځاییږي

# قوي او ضعيف

www.libtool.com.cn

د دنیا دود او دستور خودادی چې زور وربه کمزوری وهي اوضعیف به دقوي له لاسه په عذاب وي، مګر په کورونو کښې دمینې او محبت تقاضا بل رازده .

هلته یوکوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپیړو وهي اوهغه ورته خاندي یعنې له ټولونه کمزوری په ټولوزوروردی.

ماته دغه کورنی دود او دستور ډیر ښهٔ ښکاري اوله خدایه غواړم چې دارواج عام شي.

پهٔ دې پوهیږم چې پهٔ هرکاله کښې همدغه حال دی او پهٔ هره کورنۍ کښې کوچنیان پهٔ لویانو زور ور او زړور دي .د ګبراوترساپهٔ کاله کښې هم دکوچنیانو زور چلیږي اوجوړېدناجوړه پهٔ مخ کښې منډې وهي مګرچې له کورونونه د باندې وګورو نوبیا قوي پهٔ ضعیف مسلط د ی .

د دنیا طبیعي قانون همدغه دی چې غټان اولویان به پهٔ وړواوبیوزلوسوك اوڅپیړه پورته کوي او دقوت خاوند به هیڅ تحمل او حوصله نهٔ لري.

د دغه ظالمانه قانون دماتولو د پاره چې پاك خدای څهٔ شی پیدا کړهغه مینه او عاطفه ده .

دمینې او محبت پهٔ نړۍ کښې ضعیف او کوچنی دلوی او قوي له څپیړو لاندې نهٔ دی بلکه کوچنیان پهٔ لویانو حکومت کوي او دوړوپادشاهي ده .

موزښځه عاجزه بولومګرمیني او محبت ډیر زورور او پیاوړي د دوي دخوښي او رضاء تابع کړیدي.

www.libtool.com.cn

ځنګه چي پهٔ زړه زمانه کښي دیوان دښاپیریوتابع وواوس هم دقوت اوقدرت خاوندان ددغه ضعیف اولطیف جنس پهٔ مقابل کښي ډیر ضعیف معلومیزي .

که عشق اومینه پهٔ مینځ کښي نهٔ وي نوددیو اوښاپیریء زورهیڅکله برابرنهٔ دی اویوماشوم هیڅ وخت دسپین زیروپهٔ زیره لوبي نشي کولی اونه دمشرانوپهٔ اوزوسپریدلی شي.

یوه ورځ یوه ماشوم یوغټ سړی له لمني ټینګ نیولی ؤ اوکاله ته یي پهٔ زوره بیوه هغه خپله لمن ددهٔ له لاسه خلاصه نکړی شوه که څهٔ هم د دهٔ زور او دهغه زوربرابرنه ؤ، دماشوم میني اومحبت دماشوم پهٔ پنجوکښي دغه قوت ایښی ؤ چي یولوی سړی یي پهٔ ځان پسي راښکوده اوهغه هم ځان نشوخلاصولی .

که زمافکر صحیح وي نوقوت اوقدرت هماغه د پخوازماني دیودی اومینه هماغه ښاپیریء ده چي دیوان یي له فرمان لاندي وو.

که دمیني اوعاطفي ماشوم دهرځنګه لوی سړي ګریوان ته لاس واچوي یایي لمن ټینګه ونیسي څوك ترینه ځان نشي خلاصولی ځکه چي داقوت پهٔ ټولوقوتونوزوردی.

زهٔ مینه او عاطفه دزوراوقوت پهٔ مقابل کښي ځکه ماشومان بولم چي زور اوقوت ډیر پخوا پیداشوی دی او انساني عاطفه انساني رحم اوشفقت وروسته پیدا شوه یعني هماغه شان چي فرعون له موسی نه دمخه دنیا ته راغی حیواني غرایزهم له انساني عواطفو نه ډیر پخواني

www.libtool.com.cn

دی اودعمر پهٔ لحاظ عواطفوته کوچنیان ویلی شومګردي کوچنیانوتهٔ پاك خدای هغه قوت ورکړیدی چې فرعونان ترینه پهٔ خوب کښې هم ویریږي اوبد بدخوبونهویني که څوك پهٔ دنیا کښې دصلح اوسلام غوښتونکي وي او غواړي چې دناروا اوظلم مخه ونیسي نویوه داسې اختراع پهٔ کارده چې دعشق او مینې له عنصرنه پکښې کار واخستل شي.

دا اختراع ددماغ کارنهٔ دی دزړهٔ کاردی اودزړهٔ توجه ته ضرورت لري پهٔ دې باب کښې ساینس او تخنیك ته رجوع نهٔ ده پهٔ کار دا افتخار که هروخت دنیا ته حاصیلیږي نودشعراوادب پهٔ لمن کښې به وي اودزړونو پهٔ مملکت کښې به پیداشي .

# ښه ګټه

www.libtool.com.cn

قصابي پرېږده، له مېږو اوپسو نونه بل شان ګټه واخلئ !

د وړيوله پوستکونه پوستينونه مهٔ جوړوئ له وړيونه يې ښهٔ توکي جوړ کړئ .

که تاسې وړين کالي واغوندئ پوستين ته څهٔ حاجت نشته.

هغه وخت چې انسان نهٔ پوهيده دمېږو اووزو پوستکي يې اغوستل، کله چې انسانيت ترقي وکړه اوشپون درمې خاوند شو پشمينه پوشي رواج شوه او دزاهد خرقه له وړيونه جوړه شوه .

دمېږو او پسونو له غوښونه دغرو ليوان اوپړانګان استفاده کوي او شپانه ترينه يوازې پې اووړۍ اخلي .

دوحشي او مدني انسان فرق همدغه دی چې هغه دونې ښاخ راماتوي او ميوه يې خوري ، دی ترينه يوازې ميوه ټولوي اوونې ته زيان نهٔ رسوي .

دا ګټه ښهٔ ګټه ده دانسان ګټه بايد همدغه راز وي.

دګټې ښهٔ اوسمه لاره پېژندل د انسان کار دی .ګټه پهٔ کار اوزيار پاکيزې اوبې کاره ګټه ښهٔ نهٔ ده .

د ګټې لاره چې هرڅومره اوږده وي هغومره ښهٔ وي.

هغه کسان چې دنورو پهٔ تيارو درمند ونوداړې غورځوي اودګټې د پاره يې لنډه لارغوره کړېده لاسونه اوپښې يې دتړلودي .

تاسې کوښښ وکړئ چې ګټه له لرې ځايه راوړئ او دکار برخه پکښې

www.libtool.com.cn

زیاته وي هغه چې دکلي په دکان کښې سودا کوي اوهغه چې له لرې ښاره سودا راوړي په متاع اوبها کښې یې ډیر فرق موجود وي.

تاسې پخپلو باښو او بازانودهمسایه ګانو چرګوړي مه نیسئ دهوامرغان اودغرونوزرکې اوسیسې ونیسئ.

له نزدې ډنډونوڅخه ناپاکې اوبه مه راوړئ لز لرې لاړشئ له هغه سیند یاله هغې چینې نه رنې اوپاکې اوبه راوړئ چې رنګ او خوندیې ډیرښه دی .

داښه ګټه نه ده چې یوه روپۍ په دوو رو پو ور کړئ او خوشې په خوشې دګټې خاوندان شئ.

ګټه باید په غیر مستقیم ډول وي او کارپکښې ډیردخل ولري.

په مستقیم ډول هیڅوک سره او پارودغلې په کندوانو کښې نه اچوي مګرهغه غله چې له همدغه ناپاك جنس څخه دکارپه وسیله پیدا کیږي پاکه او حلاله ده .

لنډه داچې بې کاره ګټه که په غلاوي که په سوال وي که په زور وي انسان ته نه ښایي اوهغه ګټه چې په کاراو زیار پیدا کیږي ډیره ښه ګټه ده.

نوراشئ چې کاروکړواو هرڅه په کارپیدا کړو.

ښه کار اوښه عمل دخدای په دربار کښې ډیرقدر لري اوپه مثقالونوخرڅیږي.

www.libtool.com.cn

# داختر په ورځ

داختر پهٔ ورځ ځينو کورونوته ولاړم چې دښايست او ښکلاپکښې هيڅ نيمگړتيا نهٔ وه اوله ډيرې خيالورې ناوې نه يې هم ډول اوسينگارزيات معلوميده .

دکورپهٔ نقشه او هندسي شکل کښې دجمال مظاهرله ورامعلوم وو رنګ آميزي پهٔ ذوق اوسليقه برابره وه .

دکورپردې ډيرې ښکلې وې قالينې،ميزونه،چوکۍ اوهرڅهٔ ډيرنفيس او ښکلي معلوميده .

راز رازميوې پهٔ بلوري لوښوکې ايښې وې اوبې له اشتهانه دبل شي نيستي نهٔ وه .

د ثروت اوغناء ټولې کرشمې موجودې وې .

عيش او نعمت لکه دسيد محمود پاچالټان له دغه کاله څخه نهٔ وتل که ددنيا جنت ورته ووايم څهٔ ډيره مبالغه به نهٔ وي مگر دومره فرق وُ چې ډيروغټو گنهگاروته يې ورېيرته وواوساده مسلمانان نشوورتلې .

هلته ماته دافکر پيدا شو چې موږ ولې هغو کورونوته نهٔ ورځوچې دغه راز شيان پکښې نشته او يوازې همدردي او انساني عاطفه سړی ورولي کله چې له دغه کاله پهٔ خير راووتم نو فکر مې کاوه چې چاته ورشم او څوك ووينم ؟ پهٔ دې کښې يوفقير وطن دوست سترگوته ودريده چې نس يې وږی مگرسترگې يې ډيرې مړې وې پهٔ کور کښې يې هيڅ نهٔ وو مگر پهٔ زړهٔ کښې يې دوطن مينه اودخدمت آرزو ډيره زياته وه .

زهٔ چې دهغه دروازې ته ورسیدم پنځهٔ تنه نورهم پهٔ دروازه کې و دریدل دکور خاوند د دروازې پهٔ ټکولو راووت اوله موږسره یې پهٔ ډیره مینه روغبړوکړ دهغه له وضعې دامعلومیده چې له موږ سره پخپل کور کښې کښیناستوته نهٔ دی جوړاوغواړي چې خبره پهٔ ولاړوپښو خلاصه شي مګر زموږزړهٔ غوښتل چې څهٔ شیبه ورسره کښینو او ددهٔ له حاله ځان ښهٔ خبرکړو هغه له ناکامه موږ خپل کاله ته بوتلو دکاله پهٔ مخکښې یوزړه چوکۍ او یو زوړ شکیدلی کټ پراته وُ چې خاص دمیلمنودپاره وو اوبې له میلمه څخه یې دیوه پوزي تحمل هم نهٔ درلود موږ دوه درې تنه دکټ پهٔ بازو ګانو کښیناستو او نورپهٔ خاوروکښیناستل څودقیقې چې تیرې شوې هغه موږ رخصت کړ واونوریې ونهٔ غوښتل چې خپل اشنایان پهٔ سپیره ډاګ کښینوي .

پهٔ دې کاله کښې داختر ورځ لکه دروژې ورځ داسې وه اوپهٔ تمامه معنی دیوه غریب سړي کوروُ.

ددهٔ درویشانه ژونداو صبروقناعت ماته ډیر معظم او محترم ښکاریده اوله ځانه سره مې ویل هغه افتخار چې د دې کاله پهٔ برخه رسیدلی دی هغه بل کورترینه محروم دی.

هلته که غنااو ثروت خپل زیب وزینت ښیې دلته تقوی اوپاکنفسي خپل شهامت څرګند وي اوقلند رانه استغنی سترګوته دریږي .

داهغه سړی دی چې دیوه سترشرکت لویه سرمایه یې پهٔ لاس کښې وه او کله به یې دوه لوی ریاستونه پهٔ اختیار کښې وو.

که چیرې دهٔ ناجایزه استفاده کولی یایې جایزه استفاده هم پوره کړې وای نن به دغسې نهٔ وُاودده دکوټوفرش به دنیستۍ باد دومره ژرنه

www.libtool.com.cn

وای وړی.

مګر ګوریٔ چې په دې سړي باندې زړه ونه سیځۍ اوپهٔ حقارت ورته هیڅکله ونه ګوریٔ.

www.libtool.com.cn

زهٔ هم داحال د دې د پاره نهٔ لیکم چې دچاترحم ورته جلب کړم ځکه چې دی دنیاته پهٔ حقارت ګوري اوله دهٔ سره دبې نیازۍ غرورملګری دی.

د دهٔ پهٔ نظرکښې خپله تقوی ډیره درنه معلومیږي.

دی ځانته پهٔ ډیر درانهٔ نظر ګوري اونوروته هم ډیر دروند ښکاري.

موږ باید پهٔ هغه چاړهٔ وسیځوچې له ډیر مال او دولت سره هم ځانته دغه حیثیت او شخصیت نشي پیدا کولی یعنې پهٔ لوړمقام کښې خلکوته ټیټ معلومیږي اوپهٔ ډیر لوی کورکښې هرچاته وړوکی پهٔ نظر ورځي هغه څوك چې عزة النفس لري او دخلقو پهٔ نظرکښې دشخصیت خاوند دی پهٔ هغه زړهٔ سوی نهٔ دی پهٔ کار.

خرقه پوشوپهٔ خرقه کښې دی موندلی
هغه حظ چې پهٔ دنیا یې دنیادارکا

# خاني لاره

پهٔ موټرکښې سپاره وو یوخانزاده غوندې سړی هم پهٔ موټر کښې ناست وُ دتیروخت زړې قصې یې کولې.

هغه ویل : پخوامو ټرونه نهٔ وو موږبه پهٔ اسونوسپاره وو نوکرانوبه موږپهٔ مخکښې منډې وهلې.

هغه وخت خان او غریب معلوم وُ،خانزاده او دآب سړي پیژندل کیده عام اوخاص یورنګه نه وو.

www.libtool.com.cn

اوس هرسړی په موټر کښې سپریږي اونوکرد بادار له څنګه ناست وي.

چې موټرونه راغله او غریبان پکښې سپاره شوه خاني لاړه اوباداري بې رونقه شوه.

دخان قصه ډیره اوږده وه خودمطلب ټکی داوُ، چې خاني لاړه ځکه چې خواران او غریبان په موټروکښې سپاره شوه.

## یوازې

ماشومان ، ځوانان ،سپین ږیري د پسرلي میلې ته روان وو،زه هم له دوي سره ولاړم اوپه ډیروګڼوخلکو کښې ننوتم.

هلته دپښې اینښودوځای نه وُاوبې حسابه مخلوق راغونډووو.

نه پوهیږم چاله مانه پوښتنه وکړه چې ته یوازې یې که څوك درسره شته ؟

ماوویل : زه یوازې یم .

همدغه وخت زه دیوازې په معنی پوه شوم او داراته معلومه شوه چې په ډیروګڼوخلکوکښې هم سړی ځانته یوازې ویلی شي .

# فاتح

www.libtool.com.cn

سکندر له ډير قوت او ډيرولښکرو سره ښارته راغی دښار له خلکو سره يې څوځله زورور جنګونه وکړه .

له دوارو خواؤنه ډيرخلك ووژل شوه ډيری وينې تويی شوې. ډيرې ککرې له پښولاندې شوې ، وروسته له ډيرو جګړو هغه دمړوپهٔ سرونوپښې کښيښودې او دلوی فاتح پهٔ حيث ښارته ننوت .

دی ډيرپهٔ قهرؤده غوښتل چې ښارلوټ کړي او قتل عام جوړ کړي مګر داکاردهٔ ونشو کړی ځکه چې پهٔ ښارکښې يوپټ قوت موجود ؤچې دهٔ ورسره مقابله نشوه کولی.

دی چې ښارته ننوت پهٔ يوی ډيرې ښکلې پيغله يې سترګې ونښتې اوپهٔ يوځل ليدويې زړهٔ بايلود .

څوك چې بې زړهٔ شي هغه بيا جنګ اوجګړه نشي کولی ځکه دهٔ هم له خپل ټول قوت او قدرت سره ځان دغې پيغلې ته وسپاره .

دغه لوی فاتح چې دعشق اومينې پهٔ پنجو کښې ګير شوبل راز شواو دخپلې معشوقې دخوښې د پاره يې دښاردخلکو خدمت ته ملاوتړله.

دغه وخت دامعلومه شوه چې دی فاتح نهٔ ؤ فاتح بل څوك ؤ.

دی پهٔدې نهٔ پوهيده چې پهٔ ډير زوراوقوت خپل ځان يوه قوت او قدرت ته سپاري چې له سلطان اوشهنشاه نه دخلکو خدمتګار جوړوي .

پهٔ رښتيا چې دعشق مقام ته رسيدل هم څهٔ آسانه کار نهٔ دی او دښکلاپهٔدربار کښې پادشاهي هم پهٔ تعظيم او احترام سرټيټوي .

هلته محمود داياز تابع دی او سکندر هم پهٔ يوه نظر بل راز کيږي او قهروغضب خپل ځای مينې اومحبت ته پريږدي.

هغه وخت خان او غریب معلوم وُ،خانزاده او دآب سړي پیژندل کیده عام اوخاص یورنګه نه وو.

www.libtool.com.cn

اوس هرسړی پهٔ موټر کښې سپریږي اونوکرد بادار له څنګه ناست وي.

چې موټرونه راغله او غریبان پکښې سپاره شوه خاني لاړه اوباداري بې رونقه شوه.

دخان قصه ډیره اوږده وه خودمطلب ټکی داوُ، چې خاني لاړه ځکه چې خواران او غریبان پهٔ موټروکښې سپاره شوه.

## یوازې

ماشومان ، ځوانان ،سپین ږیري د پسرلي میلې ته روان ووُزهٔ هم له دوي سره ولاړم اوپهٔ ډیروګڼوخلکو کښې ننوتم.

هلته دېښې اینبودوځای نه ؤاوبې حسابه مخلوق راغونډوو.

نهٔ پوهیږم چاله مانه پوښتنه وکړه چې تهٔ یوازې یې که څوك درسره شته ؟

ماوویل : زهٔ یوازې یم .

همدغه وخت زهٔ دیوازې پهٔ معنی پوه شوم او داراته معلومه شوه چې پهٔ ډیروګڼوخلکوکښې هم سړی ځانته یوازې ویلی شي .

اوهرڅوك يې دزړهٔ ساتلو کوښښ کوي.

هماغه شان چې يو بدرنګه مخ له ښايسته پلولاندې پټ وي او دهرچانظر ځانته راکاږي داخياط هم دښهٔ لباس پهٔ جوړولوکښې پټ دی چې څوك يې حقيقت ته نهٔ ګوري کاراولياقت ته يې ګوري.

دښهٔ لباس اغوستل خوپهٔ ځای پريږده جوړول يې هم دغومره اثر لري چې بد ښهٔ کولی شي.

لباس پهٔ لومړي وخت کښې دځان پټولو د پاره جوړ شو ، چې پخوايې ښايست هم پټاوه او دښکلامخه يې نيوله خووروسته پخپله دومره ښکلی شو چې دانسان اصلي او حقيقي ښايست يې له هرچانه هيرکړاودتاوس دښوکارترينه واخستل شو .

دانسان لباسونه ډير زيات او ځورازه دي چې ځينوته موږ دلباس پهٔ نظر نهٔ ګورو، هغه ښايست او ښکليتوب چې دانسان پهٔ صورت اوځيره کښې وينئ له يوهٔ لباس نه زيات قيمت نهٔ لري که څهٔ هم پهٔ ډير جلټ نرخ خرڅيږي اوله انسان نه يې قيمت ډير لوړشويدی .

پهٔ دغه قيمتي لباس کښې هم دانسان عيبونه پټ دي او ستار العيوب دا ښکلې پرده دسترد پاره دانسان پهٔ معايبواچولې ده .

هغه چې موږ ورته خوبان وايو اوډيرښکلي پهٔ نظرراځي،موږ پرې زړونه بايلواوعشق ورسره لرومګرپهٔ دې نهٔ پوهيږوچې څومره بدخويونه اوناکاره عادتونه پهٔ دغه ښکليتوب کښی پټ دي ، که داخوي او داعادت پهٔ بل چاکښې وي ډيربدورته ګورو مګر دلته دصورت ښايست دسيرت عيب پټ کړی اوپهٔ همدغه وجه دليلی سپی دمجنون پهٔ نظرکښې ښاغلی دی.

دهمدې لامله دمعشوقو جفا له وفانه ښایسته ده اودښکلوظلم اوستم دظالمانو ظلم غوندې بدرنګه نهٔ دی.
www.libtool.com.cn

موز علاوه پهٔ دغو ظاهري لباسونومعنوي لباسونه هم ځانته پیدا کړي دي چې یوله بله پکښې ځان پټوواوپهٔ دغه وسیله خپل حقیقت له پوهانو اوهوښیارانونه هم پټ ساتلی شو.

ددغه لباس نوم پوهه او هوښیاري ده چې دعلم اومعرفت پهٔ نامهٔ یادیږي .

هغه چې زموږ پهٔ نظر کښې عالم،فیلسوف یاادیب او هنرمند معلومیږي دهغه عیبونه دعلم اوپوهې له پردې لاندې پټ دي چې موږیې ښهٔ نهٔ وینو یایې ډیرښهٔ وینو اونقص راته کمال معلومیږي .
څنګه چې فصاحت اوبلا غت کله حق ناحقه کوي اوغلط صحیح ښیي دفصاحت اوبلاغت خاوندان هم له ډیروعیبونوسره زموږپهٔ نظرکښې ښاغلي ښکاري اواصلي حقیقت یې رانه پټ دی .

هو! دجمال اوکمال خاوندان اودعلم اومعنی صاحبان دډیروښکلواوښایسته پردوترشاپټ دي چې موږیې اصلي بڼه نشولیدلی.

دمنطق اوبیان خاوندان خپله بدي هم نیکي ښودلی شي اودبل نیکي بد رنګولی شي.

ددې عصرسحراوجادوبه پهٔ دغه ډول زموږپهٔ سترګواونظرلوبې کوي.

ډیروخت پهٔ کار دی چې انسان طلسم هم مات کړي اوحقیقت ته ورسیږي یاله یوبل طلسم اوبل سحرسره مخامخ شي.

موږاوس انسان نهٔ وینویادانسان رنګ اوصورت وینویایې پهٔ

ويناا وخبروکښې ګوروکه ډيرورانديې لاړشونوکارا وهنريې ووينو.

دانسان حقيقت صورت نهٔ دی، پوهه نهٔ ده، فصاحت اوبلاغت نهٔ دی،
www.libtool.com.cn
پهٔ کاراوصنعت کښې هم دانسان فطرت اونفسي کيفيات څوک نشي ليدای داټول شيان دانساني حقيقت دپټولواوبنهٔ ښودلورنګ رنګ لباسونه اوحجابونه دي .

دانسان غرايزاوخويونه دانسان اصلي حقيقت دی چې ډيرې پردې يې پهٔ مخ پرتې دي .

انسان پس له مړينې پهٔ قبر کښې هم بې پردې نشي اوسيدلی اوچيرته چې دی نه ځان ويني اونه بل ويني بياهم بايد پهٔ کفن کښې پټ وي ځکه چې ددهٔ ټول عزت اوحرمت پهٔ دې کښې دی چې بې پردې نشي اوڅوک يې بې پردې ونهٔ ويني .

هغه انسان چې پهٔ عبادت کښې يې رياپټه ده ، پهٔ هوښيارۍ کښې يې شيطنت پټ دی اوسخاوت يې هم ديوه داسې پټ تجارت نوم دی چې له ګمرکي محصولاتونه هم معافيت لري هغه ترقيامته له نورونه ځان پټولی شي.

داسترلکه دښځوحجاب اوحياهغه شی نهٔ دی چې دمدنيت اوتجدد شمال يې له مخه لرې کړي.

پهٔ دغه سترډير بې پردې خلك هم ډيرتينګ دي.

چيرته چې دتن جامې ډيرې لنډې شويدي اوخلك دصورت دبربنډولوډيرهوس لري هلته هم دانسان سيرت اوحقيقت پهٔ ډيروپردوکښې پټ دی .

پهٔ انسان کښې ځينې داسې ضعيفې جنبې شته چې له ډيرې حيانه

خپل خاوندته هم ځان پوره نهٔ ښيي اوانسان ورته له ډيرخجالته سم نشي کتلی همدغه سبب دی چې هرڅوك خپل ځينې شيان هيروي اوخپلو عيبونوته داسې اصلاحي رنګونه ورکوي چې پخپل ځان يې ګومان بل رازشي اوخپل شعورهم وغولوي.

www.libtool.com.cn

نن دانسان څيره پهٔ تلويزيون کښې له ډيرلرې ځايه ښکاري مګردانسان معنوي څيره اوباطني تصويردومره پټ دی چې سړی پخپله خپل ځان پوره نشي ليدای بلکه خپل عکس دنوروپهٔ نظرکښېويني که چاته چاښهٔ ويل هغه ځان ښهٔ ګڼي اوخوشحاليږي که خلکو څوك بدوګانه له بدوخلکوسره پهٔ زندان کښې لويږي که څهٔ هم يوسف ياسقراط وي.

همدغه وجه ده چې له ډيروخلکونه دستايونکوپهٔ ستاينواودمتملقينوپهٔ منطق ځانونه ورکيږي اوخپل شان بل شان ويني.

دهمدغې اغيزې پهٔ سبب اوس دځينورنځورانوعلاج پهٔ خبروکوي اوډاکتران ورته وايي چې ډيرښهٔ يې اوهيڅ مرض درکښې نشته يعنې دغه د دروغوشاهدي ناروغه هم ښهٔ کولی شي اويوطبي علاج ګرځيدلی دی.

زهٔ دامنم چې پهٔ دنياکښې ښهٔ اوبد شته مګردښنواوبدوپهٔ پيژندلوکښې دومره سودايي شوی يم چې دغه تميز رانه ورك شوی غوندې دی.

کيدای شي چې موږډيروکسانوته پهٔ دروغوښهٔ ووايواوهغه ښهٔ شي ياډيرښهٔ بد وګڼواوهغه بدشي ځکه چې زموږښهٔ اوبد زموږدنظراوتفکرنومونه دي نه دحقايقو.

موږ هغه چاته ښهٔ وايو چې زموږ پهٔ ذهن او نظر کښې ښهٔ وي نه دا چې پهٔ خارج کښې ښهٔ وي ياپې حقيقت ښهٔ وي .

موږڅوسوه اوڅوزره کاله پخواهم دښو اوبدوپهٔ نامهٔ ځينې شيان له

ځينو نه ښهٔ ګڼل او اوس هم ښهٔ او بد يورازنه ګڼو ښايي چې بدښهٔ وګڼو اوښوته بدووايو او پهٔ همدغسې تميز ځان له بې تميزۍ نه وژغورو .

موږ ظلم بد ګڼو او عدالت خوښوومګر ځيني مظالم راته دعدالت پهٔ څير ښودل شويدي او ډيرو بدوخلکو راته ځانونه ښهٔ ښکاره کړيدي يعنې منطق او استدلال ريااوتزوير،شعر،او ادب ،عقل او فلسفې، عرف او عادت، سياست او تمدن کله له سمې لارې نه اړولي يو او زموږ پهٔ شعور او احساس يې هر راز لوبې کړيدي .

دا کار هرکله اوهرچيرته پوهانو او دهنر خاوندانو کړيدی احمقان او ساده ګان خدای له دغسې سترو ګناهونونه ساتلي دي.

که موږ له ښارونو اومدني دنيا نه پهٔ څنګ شو او ناپوهانوته ورشو هغوی خپل ځانونه له نورونه دومره نهٔ دي پټ کړي .

دهغوي اغراض او مطالب دومره لوڅ دي لکه دمتمدنوخلکو ميرمنې هغوي دحقايقو پهٔ پټولو کښې ډيره لږه برخه لري او ژبې يې له زړو نو سره ډير غدر او خيانت نهٔ کوي .

هلته دوستي اودښمني ، ګناه او تعدی ، ظلم او رحم ځان بل رازنه ښيي . ريا او ټګي دهغوي کاله ته ډيره لاره نهٔ لري.

هلته دصداقت ځای سياست نهٔ دی نيولی.

هغه خلك ډير لباسي خلك نهٔ دي اوپهٔ ډير ساده لباس کښې ژوند کوي.

# خيرات

www.libtool.com.cn

ډيرغټ سړی مړ وُ او په بدرګه کښې يې ډير پسونه غوايان او چرګان حلال شوه .

داخيرات ډير لوی او زور ور خيرات وُچې دشاهانه ميلمستيا رنګ يې درلود .

دخيرات دانتظام د پاره ډير خلك مقررو او ډيرو ښو آشپزانو پخلی کاوه دخدای درضا د پاره راز راز نعمتونه او هررنګه طعامونه تيارشوه . خلك لکه ميلمانه په تکتهونو راوبلل شوه او دهرچاځای معلوم وُ.

هغه چې په ګړنديو ګاډوکښې راغلل دننه قصرته ننوتل.

دخانانو او ملکانو دپاره خپل ځای وُ مامورين او ميرزايان ګوښې ناست وو ،دسوداګرو او زميندارو دپاره بل ځای جوړ شوی وُ.

هرچاته دهغه په اندازه برابره ډوډی راتله .

دهرچادرجه او مرتبه معلومه وه .

دعاموګړود پاره غټې وريجې وې اوله معتبرونه بيل ناست وو.

ځينې خواران اوفقيران که څه هم وزې پاته شوه او چاهلته پرې نښودل مګر د آب او عزت خلك په ډيرښه شان عذرشوه او دزورورقدر او عزت پوره وشو.

ددې خيرات قصې ترډيره وخته کيدلې او هرچابه ويل چې ډير زور- ور خيرات وُ ډيری پيسې پکښې ولګيدې.

هلته يوړوند او يوشل ناست و وهغوې ووېل : افسوس چې زموږ برخه پکښې نه وه او موږ هلته چاپرې نښودو.

# د زيارت ډيوې

www.libtool.com.cn

دجمعې مبارکه شپه وه ، خلك زيارت ته راتلل اوشمعې به يې بلولې ځينوبه پهٔ خاورينو ډيووکښې تيل اچول اوډيوې يې لګولې ،پهٔ زيارت کښې ډيرې ډيوې روښانه شوې اوخلك بيرته خپلو کورونوته لاړل.

هلته هيڅوك پاته نشوه اوډيوې ټولې د زيارت پهٔ اروابلې وې،زهٔ چې کور او کلي ته راغلم پهٔ کلي کښې دغريبانو کورونه تياره ووهغوي تيل نهٔ درلوده ځکه پهٔ تورتم کښې ناست وو.

څوك چې پهٔ ثواب پسې ګرځيده ټولو دزيارت ډيوې ولګولې او دخوارانو غريبانوله حاله ناخبره وو.

هو! دغريبانوپهٔ کورونوکښې تياره وه ځکه چانهٔ ليدل
پهٔدوي باندې يوازې دخداى نظروُ اوبس.
د دوي ډيوې دې خداى ولګوئ موز به د زيارت ډيوې بلوو.



# دمزارلوحه

www.libtool.com.cn

کورپهٔ کور او کلي پهٔ کلي به گرزیدمه اودخدای پهٔ نامهٔ به مې خهٔ غوښتل .

چابه یوموټی ناپاکه غله راکړه اوچابه سوې ډوډۍ راکوله .

ډیروکورونوښهٔ جواب راکاوه اوځینوبه پهٔ دروازه کښې هم نهٔ پریښودم

څوورځې دیوه اوبل له درگاه نه وزی او بېنواراغلم.

هیچاهیڅ رانکړه ، له ټولو خلکونه مې زړهٔ بدشو ، دنیاته مې پهٔ کرکه وکتل ، خدای ته مې رجوع وکړه اوپهٔ دغې کوټنۍ (قبر) کښې پریوتم .

هغه چې زهٔ به یې پهٔ دروازه کښې چانه پریښودم اوس ماته لاس پهٔ نامهٔ ولاړوي له مانه څهٔ غواړي .

زما پهٔ نامهٔ زما کوټنۍ ته هرڅهٔ راوړي اودخدای پهٔ نامهٔ خوارانو او غریبانوته سوې مړۍ هم نهٔ ورکوي.

## لیاقت

یوه ویل : دغه مدیر دوزارت لیاقت لري او هغه وزیر بې لیاقته لوړ مقام ته ختلی دی.

زما ملگری پهٔ دې خبره هماغومره خوشحاله شولکه زهٔ چې خپه شوم.

ماویل لیاقت باید دومره بې قدره نشي.

هغه وویل دیوه مملکت دترقۍ او لوړتیا لوی دلیل همدغه دی چې لیاقت پکښې ډیر قیمت ونهٔ لري چیرته چې علم او پوهه ډیره ترقي وکړي هلته بیا ډاکتران او پوهان ځان ته کار او ډوډۍ نشي پیدا کولی

او دلوړوشهادتنامو خاوندان یاوزګارګرځي یاچیرته ټیپراوګازرې خرڅوي په مترقي هیوادونوکښې پوهنتون یا ډیرلوړهم لوړتعلیم لري او یو دهقان دکرهنې په کارکښې زموږ له رئیس زراعت نه ډیرپوه معلومیږي ، دلته چې لیاقت ډیر لږدی اوله لږو خلکو سره دی نویو سړی په لږ غوندې پوهه خدای نظر خان شي اولوړمقام ته وخیژي ، زه په دې ارماندیم چې زموږ په هیواد کښې هم لیاقت ډیر ارزانه شي اوله خارج نه یوه عالي شهادتنامه راوړل څه ډیر قیمت ونه لري .

زه به هغه وخت ډیر خوښ یم چې یوسړی د وزارت لیاقت ولري اوپه ډیره ټیټه رتبه کار وکړي.

زما ملګری دخبروپه چل ډیرښه پوهیده او دبل په خوله کښې یې خبره وچوله ماته دځه ویلو موقع ډیره لږه پیدا کیده، هغه ته مایله همدغو مره وویل : زه په دې نه یم خوابدی چې یومدیر د وزارت لیاقت لري اووزیرنه دی ځکه چې وزارتونه هرچیرته لږدي او لایق کسان باید په هرځای کښې دومره ډیروي چې هریوه ته مدیریت هم ونه رسیږي مګر دابله خبره که رښتیا وي چې یو سړی بې لیاقته لوړ مقام ته ختلی دی په ډیرې خوابدۍ ارزي اودلیاقت په دغسې بې پتۍ په سروسترګوژړل په کاردي ، که چیرې دهیواد ټول کارونه دلایقو خلکو په لاس کښې وي او ځینې لایق او وړکسان وزګارپاته شي یا دهقاني وکړي څه بده خبره نه ده .

هغه وویل : زه نه پوهیږم چې ته لیاقت څه ته وایې ځکه چې سیاسي او اداري لیاقت لکه دبوډۍ ټال مختلف رنګونه لري اویوهوایي نمایش ورته ویلی شو .

دا لياقت لکه علمي او فني لياقت يوتاکلی او معين شکل نهٔ لري چې هر چيرته اوهرکله هرچاته يوشان ښکاره شي اوټول ورته پهٔ يوه نظروګوري.

www.libtool.com.cn

تهٔ داومنه چې علمي او فني لياقت سياسي او اداري لياقت ، اخلاقي اوروحي لياقت يوله بله فرق لري اودغه ټول لياقتونه پهٔ يوه سړي کښې ډير لږ جمع کيږي .

داښهٔ کارنهٔ دی چې موږ له هرسياسي او اداري شخص نه داخلاقي لوړتيا انتظار ولرو ياترينه علمي او فني لياقت وغواړو.

ديوه سياستمدار او اداره چي سړي لياقت دادی چې خلکو ته ځان او جهان پهٔ بل راز وښيي اوځهٔ چې ځانته روا ګڼي دنورود پاره يې ناروا وګڼي ، يعنې پهٔ خپله هره شپه قمار ووهي او نوروجوارګروته سزاورکړي.

دی دبزم پهٔ مجلس کښې هرڅهٔ وکړي اوپهٔ نوروباندې ټنګ ټکور ودروي.

پخپله نه انجنيروي اونه مهندس مګر علمي او فني کسانوته لازمه هدايات ورکړي اوپهٔ کاريې واچوي، دهٔ پهٔ کوم مکتب يامدرسه کښې څهٔ نهٔ وي لوستي مګر دښوونځيو امتحانونه واخلي اوښوونکو ته دعلم او معارف پهٔ باب ګټورې ويناوې وکړي.

دهٔ ويل : مادخپل ماموريت پهٔ وخت کښې خپل لوی لوی آمران وليدل چې دمطبوعاتي چارو پهٔ باب يې ماته هدايتونه راکول مګر دغه کلمه يې (مطبوعاطی ) ليکله ، داخترونوپهٔ ورځ به يې پخپلو رسمي نطقونو کښې دعدالت ګسترپر ځای رعيت ګسترويلی.

ښهٔ مې پهٔ ياد دي چې يوه ورځ چا دده د پاره ميلمستيا کړې وه

چې هرڅۀ ډیرزیات وومګردکیفیت پۀ لحاظ یې خوند نه وه ، هلته یوۀ مدیرروویل : داميلمستيا دکميت پۀ لحاظ دستاینې وړده مګر دکیفیت پۀ لحاظ یې مزه نشته ، زموږ آمرچې ډیرلوی کار داروۀ مګر دکم او کیف پۀ معنی سنۀ نۀ پوهیده هغه ته وویل چې : «کمیت نګوکثرت بګو» زۀ دغه وخت پۀ دې پوه شوم چې اداري اوسیاسي اشخاص علم ته ډیر احتیاج نۀ لري دوي پخپل قوت او قدرت لوړ مقام ته رسیدلی شي او پوهه دلاس لاندې خلکو د پاره ډیره پۀ کارده .

ما ته دا معلو مه شوه چې علم عا دي لیا قت دی اوقوت د فوق العا ده لیا قت نوم دي ، پۀ فوق العاده لیاقتونوکښې ځينې هغه لیاقتونه هم دا خل دي چې هرڅوك یې نشي لیدی اوبلا تشبیه له سحراوساحرۍ سره شباهت لري چې زرنګي، چا لا کي، خودنمايي اوعوام فریبي ورته ویل کیږي اود چانس اوتصادف برخه پکښې زیاته ده.

کوم قوت اوقد رت چې داداري او سیاسي کسانو پۀ بر خه رسیدلی دی هغه دیوه روحي تا ثیر په وجه دفوق ا لعا ده لیا قت رنګ پیدا کوي او د جلا ل او عظمت پۀ رڼا کښې ډ یر معمولي لیا قتو نه فوق العاده معلومیږي .

که سنۀ فکروکړواوونه غولیږو نو لیا قت اوکفا یت د زور او قوت دوهم نوم دی اوعلمي یا فني لیاقت پۀ هروخت او پۀ هرځای کښې دقوت او قدرت تا بع دی .

افلا طون اوارسطو که پۀ هرځا ی کښې وي د سکندرتر لاس لا ندې به وي او سقراط به پۀ زندان کښې دزهرو کنډول پۀ سر اړوي .

هغه کسان چې اوس پۀ مدني دنیاکښې دديموکراسۍ پهٔاساس د

آراء پهٔ کثرت لوړمقامونه نیسي هغه هم پهٔ علمي لحاظ لوړ خلك نهٔ وي بلکه له ځینو نورونه یې لیاقت ښکته وي پهٔ اخلاقي لحاظ هم دوي پهٔ نورو څهٔ تفوق نهٔ لري مګر پهٔ یوه ساحرانه قوت له خپلو حریفانونه میدان وړي اوپهٔ ځینو پټو وسایلو یاغولوونکوشیانوعمومي توجه ځانته راګرځوي.

دا دمنلو خبره ده چې ځان دخلقو پهٔ سترګو کښې ښهٔ ښودل او لوړ مقام ته رسیدل ډیرځله دخلکو دغولولو او ځان بل رازښودلو نتیجه وي او ډیر لږ کسان دي چې دیوه حقیقي لیاقت پهٔ مرسته یوه عالي مقام ته رسیږي اوپهٔ اخلاقي فضایلو پهٔ عالم کښې محبوبیت پیدا کوي.

یواجتماعي عالم دخپل علمي تحقیق پهٔ رڼا کښې وایي:

هغه څوك چې پهٔ رښتیا له ټولو اجتماعي عیبونویعنې له خودپرستۍ ، تعصب ، خطا کارۍ اوله ریااودروغونه خلاص وي له اجتماع سره به هیڅکله موافقت ونشي کړی اوهرګوره به انزوا اختیار کړي.

که دغه خبره رښتیاوګڼونوهغه لیاقت چې خلك یې خوښوي او پهٔ خلکو اغیزه لري بله قیافه پیدا کوي اودا سې مثال لري لکه چې یوبدرنګه مخ پهٔ ډول اوسینګارښایسته وښودل شي.

همدغه سبب دی چې ځینې بدرنګه مخونه خلکوته ښهٔ ښکاره کیږي او ځینې ښایسته مخونه چې دحیاء او عفت پهٔ پرده کښې پټ دي دچاتوجه نه جلبوي .

لیاقت کله لکه یو لوړبرج له ډیر لرې ځایه نظر جلبوي مګر هیڅ پکښې نهٔ وي اوبې له نموده نورڅهٔ نهٔ لري.

كله لكه ورانه كنډواله ګنجونه پكښې وي او څوك يې نهٔويني .

مادغه رازډير مختلف اومتضاد لياقتونه ليدلي دي اوپوهيږم چې هرلياقت ښاغلى نه دى.

www.libtool.com.cn

ډير خلك داهم لياقت بولي چې سړى قلپه روپۍ پهٔ بازار كښې وچلوي اوپهٔ يوه روپۍ د دوو روپوما ل واخلي ځكه پهٔ لياقت باندې ډيره سنهٔ عقيده نهٔ لرم او ډير ځله راته دغه متاع لكه دغلامال كه هرڅومره قيمتي وي ارزانه اوبې قيمته معلوميږي .



# کوچنیان

www.libtool.com.cn

زهٔ نهٔ پوهیږم چې موږولې کوچنیانو ته پهٔ کوچنې نظرګورو ، یعنې ولې ځانونه لوی ګڼو او دوی کوچنې بولو ؟ ښایي چې پهٔ دې خبره زهٔ ساده غوندې ښکاره شم او زما دغه خبره دکوچنیانو خبره وي مګر څهٔ وکړم زهٔ پهٔ رښتیاتراوسه ښهٔ نهٔ یم پوه شوی چې لوی څوك دي او کوچنې څوك دي؟

ځینې کسان چې دلویوالی دعوه کوي او ځانونه لوی ګڼي ماته کوچنې او واړه پهٔ نظر راځي.

ښایي چې ددې سبب همدغه وي چې زهٔ پخپله کوچنی یم.

دیوه کوچنې ماشوم ځمکه او آسمان هم ډیر لوی نهٔ وي اولمړیاسپوږمۍ ورته یو ټیکلی ښکاره کیږي.

د دنیا لکونه اوکروړونه هم دماشومانوپهٔ نظرکښې له څوشلونه زیات نهٔ دي او هرڅهٔ کم پهٔ نظرورځي .

پاته شوه دابله خبره چې کوچنیان زما پهٔ نظرکښې خدای ولې لوی کړیدي اوزهٔ څله هغه چاته پهٔ لویوالی قایل یم چې نوروته واړهٔ معلومیږي.

داهم بې دلیله نهٔ ده ، زهٔ پهٔ ماشومانوکښې ځینې داسې لوی خویونه اوسترصفتونه وینم چې هغه (ستاسوپهٔ اصطلاح) پهٔ ډیرولویانوکښې نشته هغه کسان چې لویې لري او ځانونه ورته لوی اوزور ورمعلومیږي دخپلې کینې اوبغض پهٔ مقابل کښې ډیر کمزوري دي.

که زهٔ اوتهٔ هرڅومره لوی شواوقوت ومومږپخپلوغلیمانو رحم

نشوکولی.

www.libtool.com.cn

پهٔ زور ورویاندی قهر اوغضب ډیر زور وروي مګرماشومان دغه رازنهٔ دي ددوي پهٔ زړونوکښي که کله عناد او کینه پیداشي ډیرژربې محوه کولی شي اویوه شیبه وروسته له هغه چاسره مینه کوي چې یوساعت دمخه یې ورسره منګولې لګولې.

دا کارلویان نشي کولی،لوی خلك دخپل قهر او غضب پهٔ مقابل کښي ډیرواړهٔ اوډیرکمزوري دي.

دا زور اوقوت دکوچنیانوپهٔ برخه رسیدلي دي چې دحسد او عناد اور مړکړي او داجهنم پهٔ ګلزاربدل کاندي .

د دنیا لوي لوي غمونه اومصیبتونه چې دلویانوملاماتوي پهٔ کوچنیانو ډیرتسلط نهٔ لري او دحوا دتو ډیره زور وره سیلۍ د دوي له شونډوخندا او خوشحالي نشي وړلی .

دوي پهٔ همدغه جکړکې خپل کاغذي پتنګان پهٔ هوا کوي او خاندي، د دوي تصور او تخیل له دوزخ نه فردوس جوړولي شي اوموږ پهٔ جنت کښي هم له مارانو اولړمانونه نشو خلاصیدی.

دوي پهٔ ډیر لږ څه ډیرزیات خوشحالیږي یعنې ډیره زیاته خوشحالي پهٔ ډیر لږ شي اخستلی شي مګرلویان پهٔ ډیر څهٔ هغو مره نهٔ خوشحالیږي .

پهٔ دې سودا دوي له هرچانه ښهٔ پوهیدلي دي او نوړپکښي غولیدلي دي.

دکوچنیانوپهٔ زړهٔ کښې چې هرڅهٔ وي هغه پهٔ خوله هم ویلی شي مګر لویانوته دغه حق پوره حاصل نهٔ دی.

داجتماع آداب اوقیود، عرف او عادت ، اصول او قوانین پهٔ لویانوحکومت کوي او کوچنیان دعقل له غلامۍ نه هم خلاص دي.

www.libtool.com.cn

داخبره صحیح ده چې انسان اول پهٔ جنت کښې وُ ، وروسته بیا دغه نیمګړي جهان ته راغی.

دهرماشوم سرګذشت همدغه دی، ماشومان اوکوچنیان ټول پهٔ جنت کښې دي، دمورغیزد ماشوم د پاره جنت دی، دمیندوتیونه دشودولښتي دي، دحیات اوبهٔ همدغه سپینې پۍ دي چې دمیندو له توروپلوولاندې پټې دي .

ترڅوچې ماشوم ماشوم دی اوله اندیښنوسره نهٔ دی آشناد دنیاله غمونونه داسې بې غمه دی لکه چې پهٔ دې دنیاکښې بیخي نهٔ وي او پهٔ بل جهان کښې اوسي.

کله چې له دغه معصومیت نهٔ لږ غوندې لرې شي اوشیطان یې وغولوي نوله جنت نه بهرشي اودنیا ته راشي.

اوس پوه شوۀ ! چې دبلوغ ا ولویوالي علامه له شیطان سره أشنا کیدل اوغولیدل دي .

# جك برجونه

www.libtool.com.cn

دکلابرجونه اوديوالونه ډير جك وو، دكلاشاوخواخندق ډير ژورو.

له دغه جگوالي سره دغه ټيټوالی تړلی و او دلوړتيا رازپه همدغه كنده كښې پټ و .

ترڅو چې يو ځای ډير ژورنشي دچابرجونه نه جگيږي .

ديوه لوړيدل اوبل ټيټيدل يوله بله تړلي دي .

داجك برجونه هرچاله لرې ليدل مگر دالويه كنده له لرې چانه ليده اودنږدې خلكوهم ډير پام ورته نه و.

زموږسترگې له ډير لرې ځايه لوړځلي اوجك برجونه ويني مگر ژورې ځاګانې اولويې كندې څوقدمه هغه خوانه ويني.

ددې هسكو ديوالونواولوړوبرجونوخته له همدغه ټيټ ځايه اخستل شويده .

داخته دسنډاله پښو لاندې پخه شوه او ډيرو خلكو په لتوو وهله بې له دينه دا ديوالونه او برجونه نه لوړيده .

يوه لوړمقام ته رسيدل دغه راز كارونه په مخكښې لري او ټيټ همدغسې جگيږي .

د دنيا جاه وجلال ، عزت اومنزلت هماغه لوړ برجونه دي چې سرگذشت يې له ډيرټيټ ځايه شروع كيږي .

كوم سرچې د ډيروخلكو په مخكښې په تعظيم ټيټ شي نور سرونه ورته په احترام نه ټيټيږي.

هغه چې بل ته لاس پهٔ نامهٔ نهٔوي ولاړ نوروړته لاس پهٔ نامهٔ نهٔ دربیزي داهغه پوردی چې سړی یې یوه ته ورکوي اوله بل نه یې غواړي.

که داخبره تاسې نهٔ شئ منلی نو راشئ دخان نوکران وګورئ .

هغه چې دخان پهٔ مخکښې خپل سر ډیرټیټوي پهٔ نورو باندې ډیر تفوق لري اودرجه یې لوړه ده .

هغه اس چې دارباب دسپرلۍ دپاره پهٔ کمند کښې ولاړ دی له نورو اسونونه ډیر قدرلري اومیتران یې ډیرښهٔ خدمت کوي.

که موږ حقیقت ته ښهٔ ځیرشوعزت ډیر ځله پهٔ ذلت ګاټه شي او باداري دغلامۍ نتیجه ده .

ډیر خلك شته چې دشخصیت ګټلو د پاره خپل شخصیت له پښولاندې کوي اودعزت د پاره عزة النفس قربانوي.

څنګه چې دهقانان غنم پهٔ خاورو کښې شیندي اوبیا دغنمو درمندونه اخلي دوي هم عزت اوشخصیت له خاورو لاندې کوي اوودې ته یې منتظروي .

پهٔ دنیا کښې لږ کسان دي چې خپل فطري اوطبیعي لوړ والی پهٔ بل شان ساتي او دلوړو برجونوغوندې نهٔ دي بلکه دغروله جګو څوکوسره شباهت لري.

# حقیقت

www.libtool.com.cn

لکه چې ریا په عبادت کښې وي اوشیطنت په هوښیارۍ کښې.

دښمني هم که ددوستۍ په جامه کښې پټه وي او رقابت دمحبت په خبر ښکاري.

ډیر محبتونه دي چې ډیرې پټې کینې پکښې پټې دي.

په ډیرو احسانوکښې ډیرزیانونه پټ دي.

ددې زمانې خنداد ماشومانو او ساده ګانوخندانه ده چې یوازې دمینې او محبت له پښته وي. د دې وخت ښیګڼه هم که هرڅومره ښکلې وي عفت او تقوی پکښې نشته او ډیره رسوایې ورسره ملګرې ده .

درقیبانو احسان اومهرباني دخلکو په نظر کښې ځوانمردي معلومیږي مګرله دغه باران سره تندر،زلزلې اوسیلابونه ملګري دي .

زه ددښمنانومروت عالیجنابي ګڼم مګرصداقت اومحبت ورته نشم ویلی .

همدغه سبب دی چې زه دروغ او ریابیځي نشم رټلی او په ځینومواردوکښې ورته ډیربه ښه نومونه هم پیدا کوم .

زه پوهیږم چې عالیجناباں خپل رقیبان څنګه وژني ؟ ماته معلومه ده چې قاتلان ټول یورازنه دي.

ځیني خپل رقیب په توره وژني ځینې په ټګۍ او ځینې په احسان.

ته کولی شې چې دخپل رقیب سر داحسان په زور ځانته ټیټ کړې اوله خپل حقه هم ورته تیرشې مګرله رقابت نه نشې تیریدلی.

په احسان او مهربانۍ رقیب محوه کیږي مګررقابت نه محوه کیږي.

رقيب وژل او رقابت وژل ډير فرق لري.

ډيروخلکو خپل دښمنان مړهٔ کړه مګر دښمني مړه نهٔ شوه .

د پهلوانۍ پهٔ ميدان کښې يو پهلوان بل ته دملګرتيالاس غځوي اواحترام پهٔ ځای کوي مګر ځان ورته نهٔ ځملوي .

دغه راز احسان دزوراوقوت خاوندان له چاسره نشي کولی دانيکي يوازې دضعيفانوکار دی.

هغه چې خلك ورته سخي واېي او ستاينه يې کوي عاليجناب به وي مګر دخيرخاوند نهٔ دی.

دخان اوملك دالويه او ښکلې مهمانخانه (ميلمستون) چې ګورې پهٔ زور او جبر جوړه شويده اوډير کورونه يې دخپلې ودانۍ د پاره وران کړيدي.

دار ازسخيان دخوارانو او غريبانوګيډې نهٔ مړوي بلکه خلك خواروي او وږي کوي يې. حجره چلول اوميلمانه پالل پهٔ حقيقت کښې دډير ووږي کول او دلږو مړول دي.

دغه اسراف او تبذير چې تاته جود اوسخامعلوميږي د پاکې او حلالې ګټې نتيجه نهٔ ده .

که څوك پهٔ ظلم او زور په چل او فريب پردي مالونه خپل نکړي دغه راز لوی دسترخان نشي غوړولی.

د چاپهٔ کور کښې چې هره ورځ پسونه اوچرګان حلاليږي له هغه سره ارومرو يادليوانوقوت ملګری دی يادګيډړانوچل او فريب .

که څوك غواړي چې ربنتياني سخي او دخيرخاوند وګوري نولاړ دې شي هغه دهقان دې وګوري چې يوه لاروي ته يې سکړك اوشرومبې پهٔ

مخکښې ايښي دي او پخپله يې هم همدغه خوراك دی .

ځوك چې پردي مالونه په چاباندې نه خوري او دخپل زيار او زحمت په ګټه ميلمه او مسافرپالي په سخاوت نه دی مشهور مګر دخير خاوند ورته ويلی شو .

www.libtool.com.cn

هغه چې خانقاچلوي اوپه لنګرکښې يې ډيروزي مړيزي په ظاهره خودی نوروته ډوډی ورکوي مګر په حقيقت کښې دی دنورو ډوډی خوري .

دغسې پيراوفقير ته که ډير خلك ډيرځه راوړي اوله ډيروغتوسودا-ګرونه په تول کښې درونډ وخيژي رښتيانی فقير ويلی شو ځکه چې دده هرڅه دنورومال وي اوپخپله هيڅ نه لري .

ځکه چې دخان اوملك سخاوت دپردي مال برکت دی دشيخ کرامت هم دنورو دکرم نتيجه ده هغه څه چې موږته په ظاهره ښه ښکاري په حقيقت کښې ښه نه دي اواصلي خيره يې ډيره بده ده .

موږ ديوه لښتي رواڼې اوبه پاکې ګڼو که څه هم دلارو او دکوخوډيرې پليتې اوبه ورسره ګډې شوي او ډيرو ښارويوپکښې بولې کړيدي.

ډيره ښه ده چې زموږسترګې دحقيقت دليدود پاره نه دي پيدا اوهروخت ظاهرته ګورو.

# لویه خدایه؟

www.libtool.com.cn

که زهٔ ښهٔ وکړم ته راسره ښهٔ کوې که بدوکړم دبدو سزاراکړې.

که ستامینه زما پهٔ زړهٔ کښې وي پهٔ محبت راته ګورې. که زهٔ بې مینې شم ستامهرباني کمیږي.

ستا درحمت بارانونه پهٔ ماباندې هغه وخت وریږي چې زما پهٔ زړهٔ کښې رحم وي.

زهٔ چې هرڅهٔ وکړم ته هماغسې راسره کوې.

زمانیکبختي اوبدبختي زما پهٔ عمل پورې اړه لري اوجنت ته یادوزخ ته تلل زما دښهٔ عمل او بد عمل نتیجه ده.

زموږعقل اوفکرهمدغه دی موږ چې تاته پهٔ خپله آیینه کښې وګوروستاپهٔ باب دغه شان فکرکوو.

که موږځانته ونهٔ ګوروستالوی شان ته وګوروته زموږ له خیال اوفکر نه ډیر لوی یې.

موږ چې دځان غوندې خلکود پاره کالي نیسواوهغه دسرپهٔ سترګو نهٔ وینو یالنډوي یاآوزده .موږپوهیږوچې ستاستاینه له موږ نه پوره نهٔ ده موږ ډیرواړه او کوچني یوته ډیر لوی یې.

دا زموږ کاردی چې دښوپهٔ مقابل کښې ښهٔ وکړو او دبدوپهٔ مقابل کښې بد .

که موږ څوک ووهو حاکمان هم موږ وهي.

که موږ پهٔ زمکه کښې غنم وشیندو او اوبهٔ ورکړوډیر غنم راکوي .

او زموږ آب ودانه حځکه هم بې عوضه نهٔ پریږدي .

که دیوهٔ نیالګي پالنه او روزنه وکړو خوږه میوه او یخ سیورې راکوي.

www.hibtool.com.cn

که سوداګروته پیسې ورکړو هرځهٔ چې وغواړو راوړي یې.

که له یوهٔ ماشوم سره مینه وکړوله موږ سره مینه کوي.


ستاشان له مخلوق نه ډیر اوچت دی

ستا اراده زموږ دارادې تابع نهٔ ده .

ستاکړه زموږ له کړونه نهٔ پیدا کیږي.

ستا محبت زموږدمحبت مولودنهٔ دی .

تهٔ خالق یې او موږ مخلوق .



www.libtool.com.cn

# ماشومان

موږناست وو، ماشومانو زموږ له څنګه لوبې کولې.
کله به یوله بله ونښتل چیغې به جګې شوې ژړا انګولابه وه.
کله به دخنداشوراوزوږ دومره اوچت شوچې پهٔ عذاب به یې کړو.
یوهٔ به چې دبل دلوبوشیان ګډوډ کړه هغه به پهٔ قهرشواو کنځلې به یې کولې.
زموږ پام نه وُ یوراپاڅېده دبل مخ یې شو کارې کړدهغه پهٔ مخ وینې وبهیدې اوله مستۍ نه جنګ جوړ شو.
موږ ویل : خیر دی واړهٔ دي نهٔ پوهیږي .
زموږ لویوالي داتقاضا درلوده چې دکوچنیانو طفلانه لوبې هیڅ وګڼواو ملامت یې نکړو .
ماشومان دعمر او وجود پهٔ لحاظ پهٔ رښتیا له موږ نه واړهٔ دي مګر دومره واړهٔ نه لکه موږ چې دخدای پهٔ دربار کښې واړه یو.
دماشومانو پوهه به له موږ نه لږه وي مګر زموږ پوهه دخدای پهٔ حضور کښې هیڅ نه ده یاهیڅ ده .
هلته موږ له ماشومانونه ډیر واړه یو اوزموږ پوهه ډیره لږه ده .
زموږلوبې هم دوروغوندې دي.
زموږ خندا اوژړا هماغسې ده .
ماشومان پوهیږي چې واړه یو اوموږ نهٔ پوهیږو.
راشئ ! چې پهٔ دې خبره ډیر خوشحاله شو او دلوی خدای (ج) لویوالي ته پهٔ ډیر امید وګورو .

# شعراو ادب

www.libtool.com.cn

دانسان پهٔ وجودکښې دوه شيه ډير عزيزمعلوميږي چې يوهٔ ته زړهٔ اوبل ته دماغ وايي.

له د ماغ نه علم او فلسفه پيدا شوه ، له زړهٔ نه شعر او ادب .

اروپايان زړهٔ دعواطفو اونفسي احوالوځاى ګڼي مسلمانان دايمان او عقيدې ځاى ته زړهٔ وايي.

صبر، رحم، کرم شجاعت ،سخاوت دزړهٔ کاردى. عشق اومينه پهٔ زړهٔ کښې وي.

شعرله زړهٔ نه الهام اخلي اوله زړهٔ سره کارلري.

دا روين وايي: «هغه لوى کمال چې دتحول اوتکامل پهٔ لاره کښې يوازې دانسان پهٔ برخه رسيدلى او نور ژوي ترينه محروم دي دانسان قلبي عواطف دي چې پهٔ رحم ،مروت ، کرم ، شجاعت نوعه پرستى ترينه تعبير کيږي که انسان غواړي چې له حيوانيت نه لرې وي بايد دغه عواطف ښهٔ ور وزي».

دعواطفو روزل دشعر کاردى او شعرته دعواطفو او احساساتودظهور اوتجلياتو کوه طورويلى شو .

څنګه چې دلمر وړانګې او پلوشې لومړى ځل دلوړوغروپهٔ څوکوپريوزي اوورروستى وداع هم دغروله څوکوسره کوي دغسې دعواطفو او احساساتو پرتوهم دشاعر پهٔ زړهٔ له نورونه زيات لويږي اوځينې زړونه لکه دغرو سمڅې او غارونه دغه رڼا يابيخي نهٔ ويني ياېې ډيره لږه ويني ، همدغه عواطف او احساسات چې دشاعرله زړهٔ نه

الفاظوته رانقل شي شعر ترې جوړ شي اوپهٔ زړونو اثرکوي.

www.libtool.com.cn

هو! دشعر موضوع ښکلي خيالات عالي احساسات ، دزړهٔ تأثرات، دغم او خوشحالئ خوبونه دروحي او جسمي ښکلاغيـزې اوعشق ومحبت دي .

که دغه شيان پهٔ يوهٔ ښکلي تعبير اوښوالفاظو کښې بيان شي چې دفصاحت او بلاغت مراعات پکښې پهٔ ښهٔ شان شوی وي شعر ترينه جوړشي او ډيرښهٔ شعر هماغه دی چې پهٔ دغه معيار برابروي.

څومره چې ديوهٔ شاعر فکر اوخيال آزادوي اودمحدوديت له قيودوراـ وتلی وي هغو مره يې شعر لوړ او عالي وي.

که يوشاعر دنوروپهٔ شان هرچاته اوهرشي ته سرټيټوي اوپهٔ فکرکښې يې دبغاوت جذبه نهٔ وي موجوده له هغه نه دښهٔ شعرهيله نشي کيدی.

شاعرباید دفکري انقلاب علمبردار اوبت شکن وي.

شاعرته نهٔ ښايي چې دزاړه منطق درس دعقل له زاړهٔ بوډانه واخلي اوپهٔ زړه لاره پهٔ زاړهٔ فکر پسې لاړشي .

دشاعر خيال باید ډيرلوړپروازوکړي اوله ډير هسك ځايه دغه جهان ته وګوري.

دشاعرنظر باید نورو غوندې نهٔ وي اوهرڅهٔ پهٔ بل شان ووينې دشعراو ادب ژوند دفکر پهٔ ابتکارکښې دی او تقليد يااتبذال دشاعرمرګ دی دشعر او ادب دنيا پهٔ دلدارۍ او دلبرۍ ولاړه ده شاعرباید پهٔ هرڅهٔ اوپهٔ هروخت کښې زړهٔ ته رجوع وکړي او ډير حساس زړهٔ ولري.

هغه چې پهٔ زړونوکښې هيجان تأثر او حساسيت نشي پيدا کولی

اوزړونه نهٔ خوځوي شاعرورته نشوويلی.

که داخبره رښتياوي چې انسان پهٔ هروخت اوپهٔ هرحال کښې دزړهٔ پهٔ خوښې پسې روان دی اوزړهٔ پهٔ دماغ باندې حکومت لري يعنې دعقل ادراك دقلبي تمايلاتوله تأثير لاندې وي نوويلی شوچې ديوه ملت عقلي او ذهني سير او حرکت هم دشعر او ادب تابع وي او شاعران پهٔ نفسياتو او روحياتوکښې تغير او تحول راوستلی شي.

www.libtool.com.cn

همدغه شعردی چې پهٔ زړونوکښې زلزلې اوطوفانونه پيدا کوي او کله پکښې داسې صبر او سکون زدي چې غرونه يې ثبات او استقامت ته حيران وي .

که دا رښتيا وي چې دچرګانو پهٔ نارو و يده خلك له خوبه پاڅيږي نودابايد ومنو چې دشاعرانو پهٔ نغموديوهٔ ملت مړهٔ احساسات او جذبات راويښيزي اوپهٔ دې اسرافيلي شپيلۍ کښې بل رازتأثيرات موجود دي.

کوم فيلسوف چې هرڅهٔ بد ګڼي او زنده ګي توره پهٔ نظرورغلې ده هغه هم شعرته ښهٔ ګوري او شعر دانسان د پاره يوه ښهٔ پنا ګاه بولي.

شوپنهاور وايي: ټولې بدبختۍ د انسان له نفس څخه نشأت کوي اوله ژوند سره ډير مصيبتونه او غمونه ملګري دي که څوك يوه داسې چاره لټوي چې له بدبختيو نه لز غوندې پهٔ امن کښې شي بايد پهٔ صنعت او هنر کښې مستغرق شي او دښکلاپهٔ مظاهرو کښې ځان ورك کړي.

پهٔ دغه حال کښې سړی پهٔ ظاهره له خلکو سره وي مګرپهٔ معنی کښې يوازې وي او دنيا ورته لکه يو سراب معلوميږي چې ددهٔ لمنه نشي لمدولی .

پهٔ همدغسې بیخودۍ کښې انسان د دنیا له شراوشوره اسوده کیږي اودبې نیازۍ مقام ته نږدې کیږي چې غیر له حقایقو بل شي ته متوجه نهٔ وي دغه صنعت او هنر چې دشوپنهاور پهٔ نظر کښې دبشکلامظهر دی اودی ورته بنهٔ پناګاه وايي شعردی.

www.libtool.com.cn

که چیرې پهٔ دغه غم لړلي جهان کښې دسعادت اونیکبختۍ پلوشوکله کوم کور رڼا کړی وي هغه به دشعرکور(بیت )وي .

دشاعرخیالي دنیا ترډیره حده له غمونواو مصیبتونونه پټه ده او هلته داسې بې درد سره بیخودي شته چې له سړي نه هرڅهٔ هیروي.

تاسې شعراو ادب ته پهٔ عادي اومعمولي نظرمهٔ ګورئ دشعرتومنه او قدسیت پهٔ نظر کښې ونیسئ.

هغه څهٔ چې پهٔ زړونوکښې پیدا کیږي اوپهٔ زړونواثر کوي هغه عادي او معمولي څیزنهٔ وي .

دادغم اوخوشحالۍ ترانه دانسان پهٔ ژوندانه کښې ډیره زیاته اغیزه لري اوانسان ترینه هیڅکله نشي بې نیازه کیدی.

دیوه ملت ژبه ، کلتور ، اخلاق پهٔ شعراو ادب ساتل کیږي دیوهٔ ولس د ذوق او شعور ، دفکراوخیال، داحساساتو او عواطفو هنداره شعر او ادب دی .

هرڅومره چې دیوهٔ ملت شعر او ادب عالي وي هغومره یې اخلاق ، نظر او روحیات لوړوي اوله لوړو ملکاتو او انساني فضایلو سره یې ارتباط او تعلق زیات وي .

شعر او ادب دبشر علایق له دین او مذهب سره ټینګوي اوپهٔ هوښیارۍ کښې بینایي او همدردي پیدا کوي.

کله چی زړونه کلکیږي یاتوریږی نو شعر پکښي رقت او صفایي پیدا کولی شي.

www.libtool.com.cn

هغه څهٔ چې انسان دمادیت له غلامۍ اوبت پرستۍ نه ساتي شعردی .

عارفانه ذوق،انساني عاطفه،حکیمانه شعور دشعرپهٔ نغموده کوي او د حسن ونظر علایق همدغه شی ساتي.

کوم ملت چې شاعر نهٔ لري زړهٔ نهٔ لري ، سترګې نهٔ لري عواطف نهٔ لري او د ذوق وتمناله خونده محروم دي.

شاعران داکولی شي چې دانسان فرعوني غرور پهٔ تواضع بدل کړي او د دوهۍ ملنګ ته دشاهجهان خوی او مړې سترګې ورکړي.

غم او سرورد شاعرهدیه ده چې له زړونوڅخه یې اخلي او زړونوته یې ورکوي نوکوم قدراوقیمت چې د انسان پهٔ بدن کښې زړهٔ لري پهٔ یوه جامعه کې یې شعر او شاعرلري.

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

# دادب راز

www.libtool.com.cn

چاچې دشعراو شاعرپهٔ باب ډير فکرکړيدى او دواړه يې ډير ښهٔ پيژندلي دي هغه وايي ډيرښهٔ شاعرهماغه دى چې ډير خود پرست وي اوبې له ځانه پهٔ بل هيڅ شي کښې فکر نهٔ کوي.

دغه رازشاعر خپل ځان پخپل شعرکښې ښيي اوموږ ګومان کووچې زموږتصوير يې ايستلى دى.

شاعرځکه پهٔ موږ ګران دى چې زموږ دزړهٔ خبرې کوي او زموږ خاطرات رايادوي .

شعر دزړهٔ غږ دى اودزړهٔ غږ دمنطق له غږنه ډير قوي دى.

شاعر پوهيږي چې عقل اومنطق دليل او برهان پهٔ موږباندې حاکم نهٔ دي بلکه غرايز او احساسات زموږ رهبري کوي ، دهمدې لامله هغه له احساس او غريزې سره خپل تعلقات ټينګ ساتي اوله زړهٔ سره کارلري.

هغه څوک چې زړو نوته ښهٔ ښهٔ پيغامونه راوړي او زړونه خوشحالوي شاعردى ، هغه پيغام چې دمعشوقې له خواعاشق ته راځي شعردى .

شاعرله موږ سره دعشق اومينې پهٔ کارکښې کومک کوي اوله دينه ښهٔ کومک بل نشته.

شاعرپوهيږي چې له نااميدۍ نه څنګه لذت اخستل کيږي او غم څنګه خوږوالى پيدا کوي .

شاعران لکه ماشومان ډيرښهٔ ښهٔ خوبونه ويني اوپهٔ همدغو خوبونو دزړونو تسلي کوي.

که دغه خوازه رؤیااوښکلي تخیلات نه وي د ژوندانه تحمل ډیر ګران دی.

څهٔ شی چې موزته ژوند خوږاوښهٔ ښکاره کوي دهغه شي تصور دی چې پهٔ ژوند کښې بیخي نشته.

تاسې لهٔ شعر اوشاعرنه علمي حقایق مهٔ غواړئ دشعرهدف حقیقت نهٔ دی جمال دی ښکلا اوجمال لکه علم پهٔ ټینګ اساس نه دي ولاړ.

دعلم پهٔ دنیا کښې پهٔ یوڅهٔ پوهیدل خوند لري اوپهٔ شعر اوادب کښې ابهام او ایهام مزه داروي.

دلته سِراوراز، پرده اوحجاب کمال دی ،هلته تشریح ، تفصیل ، تحلیل او تجزیې ته ضرورت دی.

هغه جذبه چې دانسان پهٔ روح ډیر اثرلري دسِرجذبه ده .

هیڅ ښکلیتوب بې پردې اوبې حجابه نهٔ دی.

هرڅهٔ چې موز خوښوواورومرویې پهٔ مخ باندې دسِرپرده پرته ده.

انسان له هغو اشعارو سره شدیده علاقه لري چې ځینې برخې یې ابهام لري او مختلف تعبیرونه پکښې کیدلی شي.

پهٔ شعر کښې یوازې دغریزي رهبري کافي ده .

شاعر باید دخپل فن پهٔ قوانینوکښې ډیر تاوراتاونشي چې لطف او زیبایي یاخپل معصومیت له لاسه ورنکړي .

دلوړاو عالي شعرد پیژند لومعیاربل شی نهٔ دی له ژوند سره ارتباط دی هرڅومره چې یوادبي اثر له ژوندانه سره ښهٔ ارتباط ولري هماغومره ورسره علاقمندي زیاته وي .

پهٔ شعر او ادب کښې ساده انشاء له نوروسبکونونه زیات پایښت لري مګر ساده انشاء دانه ده چې بیخي بې پیرایې وي او مختلف اجزاء

اوعناصر پکښې نهٔ وي.

www.libtool.com.cn

هغه انشاء چې مختلف اجزاء او عناصر پکښې داسې ویلي شوي او ګډ شوي وي چې تشخیص او تجزیه یې نشي کیدی ساده انشاء ورته ویلی شو .

څنګه چې دلرړنا ظاهراً سپینه اویورنك معلومیږي مګر پهٔ حقیقت کښې له اووورنګونوڅخه جوړه ده ، ساده انشاء هم له دغسې ترکیبه پیدا کیږي . غرض داچې پهٔ شعر اووینا کښې ساده ګي ښهٔ ده او ساده ګي له ښهٔ امتزاج،له عالي نظم او داجزاء له ښهٔ تناسب څخه پیدا کیږي .

هغه انشاء چې ډیرې قلقلې پکښې وي اوډیر جلبل لري یعنې لکه رعداوبرق داسې وي دلیکونکي عجزاوتصنع ښیي.

دغه راز هنرښودنه له واعظانو سره ښایي ، پهٔ شعر او ادب کښې ساده ګي لوی صفت دی نه کاکه توب اوطمطراق .

شعرله علم او فلسفې نه دین او مذهب ته ډیرنږدې دی او الهامي څیزدی پهٔ شعرکښې عواطف او خدایي فکرونه ډیره اغیزه لري.

پهٔ شعر او ادب کښې یوازې بشر ولتهوئ ، اوبس .

اناتول فرانس چې پهٔ ادب کښې ډیرژور فکر لري شعر اوشاعر ، ادب او ادیب ته پهٔ دغه نظر ګوري او دغسې یې معرفي کوي.

# نوی کال

www.libtool.com.cn

موږ حسابي خلك يو اوله ځان سره يو حساب لرو.

زموږ په حساب زوړ کال ختم شو او دنوي کال په سر باندی موقدم کښیښود.

موږ پوهيږو چې زموږ حساب نوروغوندې نه دی.

دهغوي نوی کال دشلم قرن شپږ پنځوسم کال دی او موږ دڅوارلسم قرن پنځه دیرشم کال ته نوی وایو.

په رښتیا چې موږ پخپل حساب ډیربنه پوهیدلي یو او پوهیږو چې په کومه زمانه کښې ژوند کوو او څومره بیرته پاته یو.

موږهم دزمانې په ګرندي ګاډي کښې سپاره یو اوچیرته ځو.

داګاډی لکه دوزیرانو موټرکال په کال نوی کیږي مګر په زړواو خرابولارو روان یو،ځکه ګرندي نه شوتللی.

موږ په کال، کاله او کالو کښې ژوند کوو او ډیر خوشحالیږو چې له زاړه کوره نوي کاله ته اوله زاړه کال نه نوي کال ته لاړشو.

هو! موږنوي کال ته خوشحا لیږو او هرکله غواړو چې نوي لوښي پیداکړو او په نوې پیاله خوله کیږدو. که څه هم دزړې زمانې دقرمزاوجانان لوښي ددې وخت له لوښونه ډیربنه دي.

زما ن اومکان هم دوه ظرفه لوښي دي چې زموږ ژوند ورپورې تړلی دی او په دواړو کښې مونو یتوب خوښ دی مګر دامکان په ساحه کښې زوړ اونوی ښه پیژنو اوپوهیږوچې دغه ښارنوی اوهغه زوړ دی،

داوداني زړه او دابله نوې ده ، خودزماني په زړښت او ځواني کښې لکه چې تيروتلي غونډې يو.

www.libtool.com.cn

دزمانې ظرف چې څومره زړيږي زموږ په حساب هماغومره نوي کيږي.

موږد زمانې آغازته نږدې وختونه زړه زمانه بولواودزمانې وروستيو پيړيوته نوى عصر او نوې زمانه وايو.

نوى كال هم په همدغه صحيح حساب بنادى.

داتيا كالو بوډ اخپل وروستى كال نوى ګڼي او دخپل ماشوم توب زمانه ورته زړه معلوميږي .

هركال چې نوى كيږي له ځان سره څه نوي شيان راوړي ځکه يې نوى ګڼو.

له نوي كال سره نوي خيالونه ، نوي فكرونه ، نوي كارونه ملګري وي .

كه نوى كال خپل ټول كالي نوي نكړي يوڅه خونوي كوي اوځينې زړې جامې له ځانه لرې غورځوي.

دنوي كال دنويتوب معيارهمدغه دى .

موږ هيله لروچې نوى كال په ډيرونووجامو كښې ووينو اوډيرنوي شيان ورسره وي .

موږله نوي كال نه په رښتيا نوي څه غواړو اوپدې پوهيږوچې زوړ بوډاپه نوې جامه كښې هم زوړ دى او نوى زلمى په زړو جاموكښې زوړنه دى.

كه نوى كال زړوښكاريانوته نوې مرغۍ راولي نو ى كاروړته نشوويلى .

دنوي كال دلومړۍ ورځې ميله هم څه نويتوب نلري ځکه چې زموږ په هيواد كښې دهرنوي كال شروع په ميلواوساعت تيريوكيږي اوقلبه

کشي يعنې دکارآغازرسماً يوه نمايشي لوبه وي .

موږ بايد پدې پوه شو چې نوی کال له موږ نه څهٔ غواړي او پخپله څهٔ کوي ؟

نوی کال سمدلاسه دورځوپهٔ اوږدولواودشپوپهٔ لنډولوپيل کوي.

يعنې دخوبونووخت کموي او دبيدارۍ وخت دکار او فعاليت د پاره زياتوي دتيارې اوتورتم عمرلنډوي او درڼا عمر اوږدوي .

که موږ،دنوي کال پهٔ رمزاو اشاره پوه شو د پسرلي برېښنا ګانې همدغه مطلب ته اشاره کوي چې دنوي ژونداساس پهٔ برق اوبرېښنا ايښودل شويدی او هغه زمانه تيره شوه چې دحيات اوبهٔ پهٔ تورتم کښې وي او ژوند پهٔ تيارو ګښې ؤ.

دنوي کال له شروع کيدوسره سم پهٔ هوا کښې اعتدال پيدا کيږي او دژمي سوړ والی ورکيږي .

دنوي کال لومړی درس همدغه دی او ساړهٔ زړونه يې نهٔ دي خوښ .

راشئ ! چې دزړهانې پهٔ تقاضا ځان پوه کړو اوپيروي يې وکړو .

www.libtool.com.cn

# زما دلاس نیالگیه !

www.libtool.com.cn

زهٔ نهٔ یم خبر چې ته چیرته وې اوله کوم ځا یه را غلی.

دومره پوهیزم چې له نوروګېنونیا لګیوسره پهٔ یوه تنګ ځای کښې ولاړ وې ، هلته ستادلوییدواوغټیدودپاره زمینه مساعده نهٔ وه ځکه ستاتعلق له هغه ځایه قطع شواودلته راغلې .

زهٔ ستا پهٔ راتلو ډیرخوشحاله یم او تاته پخپل انګړ کښې ځای درکوم زهٔ غواړم چې ستا تعلق او ارتباط له دغه کالهٔ سره بنهٔ ټینګ شي ستا نیلي اوریښې هرې خواته وغځیږي ستا څانګې اوښا خونه پهٔ دغه هوا اوفضا کښې ډیره وده وکړي اوله تانه غټه ونه جوړه شي زهٔ به ستا دترقۍ اولوییدو دپاره زیارکاږم تهٔ دلته زما له اولادونوسره پهٔ دغه کاله کښې اوسیزه داځای پهٔ تاباندې نهٔ تنګیزي .

دا ستا کور دی تهٔ ددغه کاله له ماشومانونه یوماشوم یې.

زهٔ هیله لرم چې ستا له سیورى لاندې ډیر خلك کښیني.

ستاشګوفه اوخوزه مېوه هرڅوك ووینې ستاله څانګواوښاخونونه دمرغانوخوږې نغمې واورم.

زمانیالګیه ! که زهٔ تاشین او سمسورووینم څومره به بنهٔ وي .

ستاښایسته شګوفه ،ستاسیورى اوستامېوه به زما د پاره ډیرلوى نعمت وي.

که دغسې بنهٔ اثر او دغه شان نیك عمل له مانه یادګار پاته شي دابه زمانیکبختي وي.

زهٔ دغه دګلابوبوټی او دغه دعکاسۍ نیالګی هم ستاله څنګه زدم او تاته دابنیم چې زمازیاریوازې دمېوې دپاره نهٔ دی، زهٔ ستاشګوفې او

شنوپاڼوسره هم ډيره مينه لرم.

که له ماسره ګيډه شته اوبې خورا که ژوندنشم کولی له ماسره سترګې هم شته اوپه مخ باندې پوزه هم لرم .

www.libtool.com.cn

څومره به ښهٔ وي چې سبايي ستاله څانګو دمرغيو خوازهٔ او ازونه واورم اوپهٔ خوږو نغمو راويښ شم .

زمانیالګيه ! تهٔ پهٔ دغه هواکښې وده کوې بايد خپله خوشبويي هواته وسپارې او دهوا مرغان له تانه استفاده وکړي.

هغه وږمه چې ستاکالهٔ ته راځي بايد له ځان سره يوځهٔ يوسي.

دښاتومچي بايد ستاله کوره بينوا لاړې نشي .

کشکې زما دوستان او ملګري ستاله سيوري لاندې خوشحاله کښيني اودلته دخوشحالۍ خندا واورم.

يوه خوله خندا اويوه شيبه خوشحالي پهٔ دې ارزي چې زهٔ څوکاله ستا خدمت وکړم اوله لرې ځايه اوبهٔ درته راوړم.

# دفکرپالونکی

www.libtool.com.cn

پیراوفقیرنهٔ یې چې خلکوته دعاوکړي اودهرچادپاره دتسلۍ زیارت شي .
فیلسوف او عالم نهٔ یې چې خلك درنه علم او پوهه یوسي.
طبیب نهٔ یې چې درنځوُر انوعلاج وکړي .
پیسې نهٔ لرې چه حاتم طایي شې اووزي ماړه کړې.
قاضي یاحاکم نهٔ یې چې عدالت وچلوې او دحق ملګری شې.
دغه راز افتخارات ستاپهٔ برخه یوهم ونهٔ رسیده .

تهٔ یوشاعر اولیکونکی یې مګرله تانه سِنهٔ شاعران اوښهٔ لیکوال ډیر پیدا کیږي سره له دې زهٔ تاته پهٔ ډیر قدر ګورم اوتاته پهٔ ډیر لوی حق قایل یم .

دلته دفکر او قلم خاوندان ډیردي مګر دفکر او قلم د آزادۍ علمبرداران ډیر لږدي ځکه ستامقام له نورونه هسك ګڼمه .

که څوك تاته دفکر خاوندونه وایي زهٔ ورسره څهٔ کار نهٔ لرم مګر که دفکر خاوند تاخپل حقدارونهٔ ګڼي زهٔ به ورته بې انصافه ووایم .

هغه څوك چې پهٔ وطن کښې هیڅ نهٔ لري او دوطن د آزادۍ د پاره سرور کوي پهٔ وطن باندې حق لري.

همدغه وجه ده چې دفکرپالونکي مقام له فکر لرونکي څخه ډیر اوچت دی او زهٔ هم دواړوته پهٔ یوه نظرنهٔ ګورم .

# دژوند نغمه

www.libtool.com.cn

ټول غلي دي. هيڅوك څهٔ نهٔ وايي دژوندانه نغمه غلې ده .

پهٔ دغسې چوپه چوپتياكښې ذوقونه مري ،فكرونه محوه كيږي ، نشاط او خوښې لكه وحشي مرغهٔ له انسانانونه تښتي .

زهٔ غواړم ددغه سكوت طلسم مات كړم او خپله سرينده وغږوم .

داسرينده مادعشق له هېواده او دبلبلو له كوره راوړېده .

زما دسرينديې اواز ډېر خوږدی.

راشئ! كښينئ زما نغمې واورئ ، زهٔ نهٔ غواړم چې ارزو ګانې مړې اوزړونه ساړهٔ وي.

زهٔ داحساساتو او جذباتودوېښولو د پاره راغلی يم .

دغه ده ما خپله سرينده راواخيستله او خپلې نغمې شروع كوم.

آه – داڅهٔ وشوه؟ له دې سرينده نه خوږ اواز نهٔ پورته كيږي ..

سرينده خونهٔ ده ماته تارونه يې هم پهٔ ځای دي داولې نهٔ غږيږي؟

ولې بې سُره ده ؟له دينه لويه ضايعه بله نشته.

پوه شوم اوُوپوهيدم داسرينده دبلبلو له كوره ده اوبې دګلونوله خوابل چيرته نهٔ غږيږي .

داسرينده له عشق سره ارتباط لري او تارونه يې پهٔ هماغه مقام پورې تړلي دي .

زهٔ بايد ګلزار ته ننوزم او دګلونو پهٔ حرم كښې دخپلې سرينديې آواز واورم.

زهٔ بايد دنرګس سترګې ، دغوټۍ خندا ، دچنډولښتې ، دسنبلو

پریشانه زلفې وګورم او دحسن په ګلزار کښې خپله سرینده وغزوم .

بې له دینه دا خاموشي نهٔ ورکیږي او خوشحالي نهٔ پیدا کیږي .

www.lfbtool.com.cn

دا توري وریځې باید د لمراوسپوږمۍ له مخې لرې شي.

دبلبلو پنجرې او قفسونه باید مات شي.

دباغ تړلی ورباید بیرته شي چې خوشحالي راشي او ذوق وشعور سترګې وغړوي.

دژوند نغمه دغه تقاضا لري اوبې له دینه په ژوندانه کښې نشاط او سرورنهٔ پیدا کیږي.

www.libtool.com.cn

# نوی فکر

هرچیرته لاړم، هرچاته ورغلم ښکته پورته ډیروګرځېدم .

ښارونه مې ولټول په هیڅ ځای کښې یې له هیچاسره پته نهٔ وه .

هغه څهٔ چې زهٔ غواړم دلته نهٔ پیدا کیږي ، چاچې غټه چوکۍ غوښتله پیدا یې کړه ، څوک چې په نوي موټرېسې ګرځېده هغه دی پکښې ناست دي ، هغه چې په پیسوپسې لالهانده ووبانکونه یې ډک کړه.

یوازې زهٔ خپلې ارزوته ونهٔ رسیدم پهٔ رښتیا چې زهٔ پهٔ ډیر نادر او نایاب څیزپسې ګرځُم او زماحرص له ټولونه زیات دی.

هو! زهٔ نوی فکر نوی خیال اونوی جهان غواړم.

دلته نوې رادیو ګانې ، نوي فلمونه ، نوي ساعتونه ، نوي فیشنونه پیدا کیږي.

مګر نوی فکر او نوی مضمون نشي پیدا کیدی.

دلته شاعرانوډیرې سندرې وویلی خونوی فکر پکښې نهٔ وُ.

پسرلي بیا هماغه ګلونه راوړل چې موږ څوځُله لیدلي اوبوي کړي دي.

موږپهٔ قرنوقرنودګل اوبلبل زوړمضمون اړوورا اړوومګرنوی څهٔ نشي پیدا کولی .

موږ نوي مضمونونه پهٔ زړو موضوع ګانو کښې لټوو او دزړې بوډۍ پهٔ سر نوې ډېرۍ ږدو .

دلته میندي نوي اولادونه راوړي مگر دماغونه نوي فکرونه نشي راوړی
دلته ښځې له کورونونه وتلی شي خونوی مضمون له دماغونوڅخه نهٔ راوزي .

www.libtool.com.cn

دلته داعادت دی چه پیغله د پلار پهٔ کاله زړیزي اوبیا ودیزي .
دلته اوس هم دزړو فکرونوکالهٔ ته ریباران ځي او راځي او له نوونه
زړې خبرې ښې خرخیږي.
دلته دبوډۍ پهٔ تال کښې زړې ارزوګانې زانګي او زاړه سرودونه غزیږي .
دلته به خیرات خواره ملیونران شي. بیسواده به رئیسان شي.
ښځې به پهٔ میړونو زور ورې شي ، ملایان به درندانو پهٔ مجلس
کښې ګډون وکړي مګر نوی فکراونوی مضمون به پیدا نشي .
زموږ کوچنیان چې پیداشي نوسپین زیري وي اوپهٔ ډیره زړه زانګو
کښې خملي ، زموږ للو ډیره زړه ده او زړه دایي زموږ دماشومانو
تربیت کوي زموږ ځوانان که زیرې ونهٔ خریي نوسپین زیري ورته ویلی شو .
موږ نوې خولۍ پهٔ سرکړې مګرنوي فکرونه مورد کړه ، نوي ښارونه
موجوړکړه مګر زاړهٔ بوډاګان پکښې لاست دي زړې قصې کوي.
موږ دزړو بوډا ګانو پهٔ محفل کښې زوړ راګ غزوو اوله سپین
زیرونه دځوانانو اتڼ غواړو.
دا ارزو بیهوده ده زهٔ باید پهٔ نوي فکرپسې بل چیرته لاړشم .
داشی له زړو شاجانیانوسره نشته .
که داتیاکالوبوډانوی واده وکړې هم زوړ دی. که زوړ سړی نوی
پوستین واغوندي بیا هم زوړ دی که له زاړهٔ ښاره نوي ښارته راشي هم
زوړ والی ورسره دی.

هو! کورېې نوی دی، مګر فکرېې زوړ دی پهٔ دغسې نوي کور کښې
نوی فکر او نوی مضمون نهٔ پیدا کیږي.

# زوړ فکر

www.libtool.com.cn

ستړکې يې مهٔ خلاصوۍ ! کوم ښکلی مخ به ووينې ليونی به شي.
ميخانه به وګوري مست به شي، څان به ووينې خودبين به شي.
دبل عيب به ووينې بدبين به شي.
پريږدۍ چې سترګې يې پټې وي اوخهٔ نهٔ وينې .
کوښښ وکړۍ ! چې پهٔ ښو او بدو پوه شي اوخهٔ زده کړي .
که دی دسواد اوعلم خاوند شوکه دی پهٔ سمه لاره روان شو که دهٔ دښو او بدو تميز وکړ بيابه يې سترګې پرانيزو.
دسترګوپردې به يې غوخې کړو دسترګو غړولواجازه به ورکړو.
پخواله وخته دده سترګی مهٔ خلاصوۍ.
دی بايد هرڅهٔ پهٔ پټو سترګوقبول کړي اوسپين سترګی نشي .
دی بايد هرڅهٔ دزړه پهٔ سترګو ووينې اودسرسترګې يې تړلې وي .

www.libtool.com.cn

# ناداني او ناداري

پهٔ کورکښې یې غله نهٔ وه جامې یې هم زړې اوشکیدلې وې.
پورچانه ورکاوه مزدوري نهٔ پیدا کیده حیران وُچې څهٔ وکړي اودوډۍ ځانته څنګه پیدا کړي؟

وروسته له ډیرواندیښنو له کوره راووت اوشپه ډیره تیاره وه.
پخوا تردې یې کله غلانهٔ وه کړي ځکه زړهٔ نازړهٔ په یوهٔ کاله ننوت اوپس له ډیر تردده یې غلاته زړهٔ ښهٔ کړ.

پهٔ دغه شپه دده بخت بیدار وُځکه چې دکالهٔ خاوند ویده وُ.
دهٔ پهٔ بیړه بیړه یو څهٔ مال راټول کړاوپهٔ ویره ویره یې کورته راوړ.
وایي چې دغلهٔ پهٔ غره کښې ځای نشته نوپهٔ کالهٔ کښې به یې څهٔ حال وي.

له ده سره داسودا ډیره زیاته وه چې که سبا ته یې خلك کوروتلټوي او دغلا مال ترینه ووزي څوکاله به پهٔ جیل کښې پروت وي اوله دینه به هم بدبخته وي.

ده بله چاره ونهٔ لیده دکوټې پهٔ یوه کونج کښې یې دزمکي پهٔ کینلو شروع وکړه چې دغلامال خوندي کړي مګریو ساعت وروسته له خاور ولاندې یو داسې ګنج راښکاره شو چې دسرواوسپینو زور ور دولت پکښې پروت وُ.

کله چې داپټه خزانه راښکاره شوه غل وپوهیده چې پهٔ ټول کلي کښې ده غوندې بل بډای نه وُ، او دهٔ غوندې د ذلت شپې هم بل چانهٔ دي تیرې کړي.

هو! دهٔ دخزانې دپاسه پهٔ لوزه شپې تیرولې ددهٔ پهٔ کاله کښې هرڅهٔ ومګر دی ناخبره ؤاوخپل شته ورته نهٔ ؤمعلوم.
www.libtool.com.cn

دی نهٔ پوهیده چې زهٔ ډیر لوی بډای یم اوزماپهٔ کور کښې هرڅهٔ شته.

ددهٔ ناداري پهٔ حقیقت کښې ناداني وه نورڅهٔ نه وو.

ددغسې سړي پهٔ حـال افسوس پهٔ کاردی اوکه دیوهٔ ملت دغه حال وي له دینه لویه بدبختي او دافسوس خبره بله نشته .

دناپوهانوفطري اومعنوي استعداد همدغسې له خاورو لاندې پټ پاته کیزي لکه چې دناپوهه ولس معدنونه پټ پاته وي اوڅهٔ کارترینه نهٔ اخستل کیزي.

# سيند

www.libtool.com.cn

دوچو ډاګونو، ددښتواوميرولـه څنګه لوی سيند بهيږي مګر دغې وچې بيدياته اوبهٔ نهٔ ورکوي.

پهٔ دغسې وچکالۍ کښې چې پهٔ اوبوباندې سرونه ماتيږي سيندلکه شوم بخيل پهٔ شتاب درومي او زموږ تندې ته نهٔ ګوري.

کله چې سيند پهٔ چپوراشې کورونه او ابادېتې هم له ځان سره يوسې.

همدغه سيند له موږنه هغه خوابل راز روان دی اوله نورو سره يې رويه بل رازده .

هلته دغسې ورانی نهٔ کوي، دومره بخل نهٔ لري.

دغه راز بې رحمې پکښې نشته .

هلته دسيند پهٔ غاړه زرشويان دسيند له شګونه زر راباسې ماهي ګيران پکښې پهٔ خروارو کبان نيسي اوښکاريان يې پهٔ لوی اوسترډنه کښې هيلۍ ولي. هلته له سيند نه ډيرې لويې ويالې بيلې شوې دي.

ډير لوی لوی ډاګونه له اوبو لاندې شوه .کلي او ښارونه اباد شوه ، شاړې زمکې پهٔ ثمر راغلې دغلو او مېوو پکښې څهٔ کمی نشته .

هلته دسيند پهٔ مخکښې لوی لوی بندونه جوړشوه ، دبريښناماشينونه ودريده ، فابريکې او کارخانې پهٔ کار ولويدې ، خلك اباد او ماړه شوه دا سيند ولې دلته دغسې اوهلته هغسې دی .

موږته پهٔ قهردی او پهٔ هغوی پيرزوينه لري دلته ډيرتند اوپهٔ خيزونو روان دی هلته غلی او ارام بهيږي .

دلته کوز ووزځي اوهلته مجرا بدلوي. هلته پخپله تا کلي لاره روان دی اوبې لارې نهٔ ځي .

www.libtool.com.cn

پهٔ رښتیا چه سیند دلته ډیروراني کوي اوهلته دیوه نظام اوقانون تابع دی چه ورانۍ ته یې نهٔ پرېږدي .

زموږ ګناه دسیند پهٔ غاړه ده .

سیند له موږنه ډیرخهٔ وړي دي او د یرېې رانه وژلي دي داسیند خوني سیند دی اوله موږسره یې زړه دښمني ده څوځله یې زموږکورونه وران کړي اوابادېتې یې رانه پهٔ وارو وارو وړي دي .

زموږ ټوله ګناه دسیند پهٔ غاړه ده .

سیند زورور دی اوپهٔ موږباندې هروخت ظلم او تیری کوي .

آه – موږځومره نا پوه یوچې دغه رازفکرکوواو پخپله ګناه نهٔ پوهیږوموږخپله ګناه دسیند پهٔ غاړه اچوو دسیند پهٔ غاړه خوموږپراته یو پهٔ رښتیا چه دا زموږ ګناه ده دسیند نهٔ ده .

سیند له چا سره دښمني نهٔ لري .

سیند هرتږي ته اوبهٔ ورکوي اودهرچا خیرني جامې پاکوي .

سیند پوخ کارغواړي اوپاخهٔ بندونه ورته پهٔ کاردي.

که زموږکارپوخ وای اوزموږبندونه پاخهٔ وای زموږویا لې نهٔ وچیدی او زموږپټې اوبونه وړل.

موږدسیندپهٔ بندوبست پوه نهٔ شوواوله سیندنه موکاروانهٔ خیست داسیندد ژوند او حیات سیند دی.

پهٔ دهٔ کښې دورانۍ او ودانۍ دواړه قوتونه موجود دي.

سیند دهرچا ظرف او استعداد ته ګوري هغومره اوبهٔ ورکوي .

دمنګي خاوند اودمنګوټي خاوند ته سیند برابره برخه نهٔ ورکوي اونه وړو لښتیوته دلویوویالوپهٔ اندازه څهٔ ورکولی شي.

www.libtool.com.cn

سیند دهرچاکارته ګوري او هغسې ورسره کوي یعنې خام بندونه ورانوي اوپاخهٔ بند ته ځان تسلیموي.

هغه څوك چې دژوندانه سیند پخپل سر پریږدي اویوه معینه مجرا ورته نشي ټاکلی له ژوند نه استفاده نشي کولی.

## عقیده

www.fbtool.com.cn

پهٔ سترګوېي څهٔ مهٔ لیدل مګر دخدای کتاب یې ترځنګه ؤاومسجدته راغی .
دهٔ هغه اسماني کتاب پهٔ تاخچه کښې کښیښود او پهٔ لمانځه ودریده.
کله چې له عبادت نه فارغ شو اوله مسجد نه روانیده هغه کتاب پاته شو او یویل کتاب لاس ته ورغی.
دی رروندؤ ، کتاب یې نهٔ لیده اوپهٔ کتاب نهٔ پوهیده مګر ډیر ټینګ یې پهٔ غیز کښې نیولی ؤ .
دهٔ ته دانهٔ وه معلومه چې پهٔ کتاب کښې څهٔ دي اودچاکتاب دی؟ له دهٔ سره ټینګه عقیده وه مګر پوهه او بینایي ورسره نهٔ وه .
دهٔ دخدای د پاره دغه کتاب ښکلاوه اولکه تعویذله ځان سره یې ګرځاوه .

## عمل

هغه خپله امساټکوله اوبازارته راغی. پهٔ سترګوېي څهٔ نهٔ لیدل مګر پهٔ نامهٔ یې هرڅهٔ پیژندل .
له دهٔ نه خپلو ماشومانو وخکې غوښتې وې.
دی پهٔ همدغه شي پسې راغلی ؤ.
ددنیا بازارته ډیر ړانده راځي اوځهٔ اخلي، دکانداران دهغوي پهٔ سترګو کښې خاورې اچوي اوردي مالونه ورکوي.
دهٔ ته هم دکاندارلهٔ خاورونه ډکې وخکې ورکړې چې هرڅهٔ ورسره

ګټو .

دی روان شو اوپهٔ لاره کښې يې ځولۍ له لاسه خوشې شوه.

دهٔ دځمکې پهٔ مخ لاس وګرزاوه او هرڅهٔ يې راټول کړه.

دی نهٔ پوهېده چې خپل کاله ته څهٔ وړي؟ اوددهٔ وخکې څنګه دي؟

دهٔ غونډې ډېر زاندهٔ دلته راځي اوهغه څهٔ وړي چې دوړلونهٔ ذي.

هو! دړندوعمل همدغسې دی مګر ړوند نوله دينه زيات څهٔ کولی شي ړوند که پهٔ سمه لاره لاړ نشي بايد معذورېي وګڼو.

# عبادت او دعا

درحمت بارانونه ونهٔ وريدل ، چينې وچې شوې پهٔ کاريزونو کښې دمرغۍ مېنو که نهٔ لمديده ، دونوپاڼې پهٔ پسرلي کښې زيړې وې . پهٔ سمسورو باغونو خزان ولګيده ،پهٔ خلکو دلوږې هيبت راغی .

ټول دعبادت اودعا د پاره بيدياته ووتل،پاك خدای ته يې زارۍ کولې ، مونځونه يې کول، درودونه يې ويل ، دعاګانې يې کولې ، دباران تزې وو زورور بارانونه يې غوښتل .

دغسې داخلاص عبادت ، دغه راز دسوز دعا ګانې کله دوي نهٔ وې کړې پهٔ دغه وخت کښې د دوي تعلق له خدای سره ډېر زيات ؤ. دوي باور درلود چې روزي له خدای سره ده ، ډوډۍ له اسمانه راځي او ځمکه دخدایٔ سترخوان دی.

هرچاله خپلو بدو عملو نوتوبې ايستلې، دهريوه له سترګو اوښکې بهيدې مګر داسمان له سترګويوه اوښکه هم تويه نشوه .

دباران پهٔ انتظار کښنی ورځ بیګا شوه ، ماښام هرڅوك خپلو کورونوته لاړل.

دقبلې له خوا توره وریځ راښکاره شوه چې ډیره زیاته تیاره ورسره وه ، خلکو ویل دحیات اوبهٔ پهٔ تورتم کښې دي.

www.libtool.com.cn

زموږ دعاقبوله شوه ، اوس به داسې زورور باران ووریږي چې غرونه رغونه به پهٔ اوبو ماړهٔ شي او دځمکې تنده به ماته شي.

دا تیاره وروورزیاتیده ،کلي کورونه ، غرونه رغونه پهٔ دغه تورتم کښې ورك شوه . له اسمانه ډیر زورور باران راښکته شو چې تالندې، بریښناګانی له هیبته ډك غږونه او زورور سیلابونه ورسره وو.

دهواموجونه پهٔ دغه شپه طوفاني معلومیده ، باران دیوه زورورآپت هیبت درلود ،سیلاب له غرهٔ نه ډیرې غتې تیزې رغړولې دهرچادایقین وُچې هرڅهٔ به سیلاب یوسي،مالونه اولادونه ،ښځې او نربه ټول تباه شي.

دمړوپته به نهٔ وي معلومه ،کلي کورونه به له خړو لاندې شي او هیڅوك به هیڅ پیدا نهٔ کړي .

دغه ډاربیاپهٔ کلي کښې د ژړا انګولاواززونه اوچت کړه .خلکو بیا پاك خدایٓ ته رجوع وکړه،هماغه اورادواوهماغه دُودونه بیا لوستل کیده هرچابه دعا کوله چې باران ودریږي اودخدای له قهره نجات وموسي.

## بې زړهٔ

دایمان ځای زړهٔ دی او دی بې زړهٔ دی.

چې وړوکی وله شیشکواوپیریانوډاریده چې لږ غوندې لوی شودملاصاحب له ډاره پهٔ سبق نهٔ پوهیده .

په کور کښې دادې داروءاودباندې د دادا.

اوس چې لوی دی دخان دارډملك دار، دحاکم داريي په زړه کښې تينك ځای نيولی دی.

په لار کښې ورسره دغلو ويره ده اوپه کور کښې دغليمانو له ويرې خوب نه ورځي .

لويه خدايه! په کوم زړه کښې چې دغومره ډيرې ويرې وي ستاويره ډيرځای نشي پيداکولی.

په دغسې زړه کښې ستاخوف ته ډير لږ ځای پيدا کيږي ، که ستا داراو دظالمانو داريه يوه زړه کښې يوشان موجود وي له دينه لويه ګناه بله نشته.

کشکې دوي يوازې له تاويريدلی اوستاددښمنانو داريي په زړه کښې نه وای.

دخلکو دارستاويره په زړونو کښې کموي او ايمان ته زيان رسوي، ستا ضعيفه بنده ګان يوازې له تانه نه ويريږي له نورونه هم ويريږي .
دوي اوس دزوروروپه مخ کښې حق نشي ويلی اوته دحق طرفداريي،نه په دروغوخپه کيږې اودوي له داره رښتيا نشي ويلی.

ستاظلم نه دی خوښ دوي له ويرې دظالمانو خدمتونه اوصفتونه کوي .

هغه مسلمان اوس چيرته دی چې يواځې له تاداريږی اوبس ستابنده بايد دداربنده نه وي اودنمرود له اوره يې سترګه ونه سوځي.

# ملك او ملا

www.libtool.com.cn

دكلي ملك به چې هرځهٔ كول څوك يې مخې ته نشو ورتلی، زړوُ،كه زوروُ دواړه له دهٔ سره وو. هرځهٔ ددهٔ پهٔ لاس كښې وو او هرڅوك د دهٔ ترلاس لاندې وو ،هيڅادخپلی خوراو لورواك نهٔ درلوده .

دكلي غوري او چرګان هرځهٔ ددهٔ وو، ښايسته ښځې به له دهٔ كره وې،ښكلي هلكان به دده پهٔ مخكښې ګرځېدل اوهرچابه دده خدمت كاوه يوه ورځ پهٔ كور او كلي كښې دا اوازه خپره شوه چې هغه بې موره او بې پلاره هلك چې پهٔ علم پسې تللی وُ دعلم اودكمال خاوند شو هغه اوس له ډېرې پوهې سره بيرته وطن ته راځي، هرچاته سمه لاره ښيي، هرڅوك پهٔ حق پوه كوي او هرچاته حق وايي ځكه چې هغه دحق ملګری دی اولهٔ ظلم سره دښمنی لري.

دا اوازه پهٔ ملك باندې ښهٔ ونهٔ لګيده .

ملك له دغه هلك نه وډارشو او پريشانه خوبونه يې وليدل.

ملك پوهيده چې هغه خيرات خور ملانهٔ دی ، دهغه سترګې ډېرې مړې دي او پهٔ زړهٔ كښې يې دزو روروډارنشته .

هغه هيڅكله بې له خدايه بل چاته سرنهٔ ټيټوي ،له هغه سره دحق جذبه او حقاني قوت شته او پهٔ وينا كښې يې بل شان تأثير موجود دی.

څو ورځې پس ملا له يوی امساسره راغی ، ظلم او نارواته يې بدوويل، دزور اوقوت مخه يې ونيوله خلك يې پخپل حق پوه كړه اودمظلومانوملګری شو.

ددهٔ ملګري ورځ پهٔ ورځ زياتيدل اوپهٔاولس كښې پوهه او بيداري

پیدا شوه ، هغه ملك لرې شو او پهٔ ځای یې بل ودریده دغه بل ملك هغسې ملکي نهٔ کوله او ډېر به سم چلیده ، چې علم اوپوهه پیداشي ملکان سمیږي اوخلك سم ملك دروي .

دفرعون اوموسی قصه ، دملك او ملاافسانه همدغه معنی لري.

هلکان باید پهٔ علم پسې لاړشي او دعلم رڼا له ځانه سره راوړي.

www.libtool.com.cn

# شاعر

www.libtool.com.cn

شاعریوازې پرېزدئ ځکه چې دی دجرګواو مرکوسرې نهٔ دی .

هغه چې له نورونه ګټه کوي باید نوروته ورشي.

دی غواړي چې له ځانه استفاده وکړي نه له بل چانه .

هغه وخت چې برخې ویشلی کیدې سازنده یې دسازاو سرودمجلس ته راوباله او شاعریې له خلکو نه لرې یوازې کښیناوه .

شعر اجتماعي شو مګر دشاعر پهٔ برخه تنهایي ورسیده.

ځوك چې پهٔ ازادۍ مین وي هغه هیڅکله ځان نشي مقید کولی.

یومجلس که هرڅومره آزادوي بیاهم بیخي بې قیده نهٔ وي.

دازادۍ معشوقه هغه وخت چاته ځان ښیي چې له نورونه بیل اویوازې وي شاعرله ځان سره عشق لري اوپهٔ ځان مین دی.

دی نهٔ غواړي چې پهٔ نورو کښې ورك شي او نورو غونډې شي .

دی له خلکو سره همدردي لري مګرله خلکو سره ناسته ولاړه نشي کولی.

عاشق دی خومعشوقه نهٔ لري.

در دلري مګردوانه خوري .

ذلت یې نهٔ دی خوښ او عزت ته هم پهٔ ښهٔ سترګه نهٔ ګوري.

دده طبیعت بل شان دی.

دی تاسې ته لاره ښیي مګرپهٔ یوه لاره درسره نشي تلی.

www.libtool.com.cn

## سبا

هغه ورځ چې تراوسه يې نه دلمر وړانگې دغرو نوپه سرولويدلي دي اونه يې دپيښو او واقعاتومطلع چاته معلومه ده دسبا په نامه ياديږي .

دا ورځ لکه پټه معشوقه له هر چانه پټه ده اودسحر نسيم يې هم له مخه پوړنى نه دى لرې کړى.

دانه ده معلومه چې دغه ورځ به څه له ځان سره راوړي او څه به له ځان سره يوسي.

دچمن په گلونو به شبنم ورروي او که ژلى؟

يواشنابه سروسترگوله بل نه بيل کړي او که دوه خوازه ياران به غاړه په غاړه کړي.

دا ورځ له دغه مجهوليت او معماتوب سره دهرچاپه زړه کښې محبوبيت لري او هرڅوك ورته په اميد گوري.

دهرچا کار او زيار دسباورځې دبنه والي د پاره دى اودنن ورځې دعمل نتيجه دسبا ورځې په لمن کښې لتهوي .

هرڅوك هيله لري چې دنن ورځې زحمت به دسبا ورځې په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي .

په همدغه سره دژوندانه مشقت سپکيږي او داميد مزي غځيږي ؟

دنن ورځې بندي دسباورځې ازادي په خوب کښىويني او همدغه راز خوبونه دغمو نو تله سپکوي .

چاچې نن دخوښۍ اوخوشحالۍ دولى کاله ته راوړيده هغه يقين لري

چې سبا ته به دزوی پلار شي اوله دغې خوشحالۍ نه به بله خوشحالي پیداشي .

www.libtool.com.cn

دا غولوونکی سبا هیڅکله نهٔ سبا کیږي او ترقیامته دوام لري.

دژوندانه ټول خوزوالی پهٔ همدغه شي کښې پټ دی که دغسې سباته څهٔ امیدونلرودژوندانه تحمل هیڅ کله نشوکولی.

څمکه اواسمان پهٔ همدغې ورځې پسې سرپهٔ څیرې سرګردانه ګرځي اوداتیاکالوبوډاهم له دغې ورځې نه ناامیده نهٔ دی.

که دسباورځې مینه زموږله زړونونه ووزي موږبیاژوندنشوکولی ځکه چې زړونه سړیږي اوارزوګانې مري.

که موږله سباسره خپل تعلقات قطع کړوډیرتاوان به وکړواوخپل ژوندبه فاني وګڼو.

زموږنظربه بیالرې ښار،نهٔ کوي اوډیرلنډبه ګوري.

پهٔ دغسې حال کښې موږبیااوزدهٔ اوزدهٔ فکرونه نشوکولی اودمریخ سفررانه پاته کیږي.

دسباورځې فکرزموږپهٔ اخلاقي ژوندکښې هم ډیره اغیزه لري اودبشرهررازمادي اومعنوي ترقیات وربورې تړلی دي.

دهقان دهمدغې ورځې دپاره کرکوي اوباغوان پهٔ باغ کښې نیالګي زدي.

دخرمازړي پهٔ څمکه کښې کرل اودخرماله ونونه خرماټولول دهغوکسانوکاردی چه سباته امیدونه لري اودنن ورځې پهٔ تنګه دایره کښې ایسارنهٔ دي.

څومره چه دانسان ذهن اودماغ ترقي کړیده پهٔ هره اندازه چه انسان

لوی شوي اوپوه شويدي هغومره يې له سباسره تعلق زيات شويدی.

www.libtool.com.cn

دسباورځې غم خوړل ، دسبادپاره فکرکول ، دسباورځې ضرورت اواحتياج په نظرکښې نيول ډيروپوهانواوډيرولويانوکاردی.

زه لوی اوکوچنی په همدی پيژنم چې يوډيرلرې ګوري اوبل ډيرنږدې ګوري.

ديوه سباهم ډيرلرې اودبل لنډ دی.

دمسلمان سباپس له مرګه هم شته، دده نظرباید ډيرلرې څاروکړي اوابدي ژوند په نظرکښې ونيسي.

ابدي ژوند همدغه دی چې سړی له سبانه غافل نه وي اودسبااندیښنه ورسره وي.

نن اوسباهغه دومیلمانه دي چې يوځي اوبل راځي.موږله يوه سره وداع کوواودبل په خدمت مشغوليږو.

زموږخدمت باید دسباورځې دپاره وي اوخپله آینده په نظرکښې ونیسو،دعقل اودوراندیشی تقاضا همدغه ده.« بله ډيوه ».

# د پسرلي ګله

ستاښايسته اوګلالی څېره په جهان کښې څومره قدرلري.

اسمان له دومره لويوالي سره هرسحردشبنم په پاکواوبوڅاڅکوستاښکلی مخ وينځي اوځمکه دخپل زړه له نمه اوبه درکوي.

دځمکې مخ په تاښايسته دی ، هواستاپه وږموعطره شوه ، دبلبل خوږه نغمه ستادجلوې برکت دی شاعران ستاپه ستاينه په جامعه

کښنې مقبول شوه ، ښکلوپیغلوتاته پخپل وربل باندې ځای درکړ ، بوراستاپهٔ مینه پهٔ غزلوکښې وستایل شو.

www.libtool.com.cn

پهٔ شعراوادب کښې ستابرخه ډیره زیاته ده ، دمینې اومحبت ډیرښهٔ سوغات تهٔ یې.

مکرګوره چې پخپل جمال اوکمال مغرورنشې اوله باغه ونهٔ وزې .

تاغوندې ډیرښکلي اوښایسته ګلونه دهیوادپهٔ غرورغوکښې پیدا شوه چې نه چاولیدل اونه چاوستایل .

که ته هم له دغه چمن نه ووتلې اوپهٔ غرونوکښې دې ځای ونیونه به بلبل پیداکړې اونه مالیار.

تهٔ دخلکوله نظره مهٔ لرې کیزه اوځانته مالیارپیداکړه .

دانسان داعادت دی چې مطلق ښهٔ نهٔ ستایي اوهرښهٔ څیزښهٔ نهٔ ګڼي

هو ! دی هماغه شی ښهٔ بولي چې ده ته نژدې وي اوددهٔ خپل وبلل شي.

دلته هرڅوك خپل ښاغلی ګڼي اوهریودخپل باغ ګلونه ستایي.

تهٔ هیڅکله دخلکوله نظره لرې کیزه مه!

ستاښایست دخلکودتوجه اوالتفات نتیجه ده .

که تهٔ غواړې چې هرڅوك دې قدروکړي اوپخپل سردپاسه ځای درکړي لکه نرګس هرچاته پهٔ ښهٔ سترګه ګوره اولکه دباغ غوټۍ هرسحرخلکوته خانده!

پهٔ دغسې التفات اویوه خوله خنداسرې دخلکوزړونه خپلولی شې .

پهٔ یوازې ګلتوب اوګلالیتوب هیڅوك قدراومنزلت نهٔ مومي اونه پهٔ تش ښایست دلبري اودلرباییي کیزي .

راشه زمادباغچې ګل شه

چې هرسحردې پهٔ دیدن اوبهٔ کومه « بله ډیوه »

# درمې خاونده

www.libtool.com.cn

دتورې کيږدۍ اودلويې رمې خاونده !

په دې سره اوښکنده غرمه کښې په دې وچې بيدياواوسپيره صحراکښې چې يخې اوبه، يخ سيورى ، توده ډوډۍ ، شودې اومستې ، کوچ اوپيروي، کورت اوغوړې، پوخې اوپنيرونه هرڅه له تاسره دي په خوارانواوبيوزلورحم وکړه.

له لاروبونه خپل خوړونکي سپي ايسارکړه !

هرڅوك چې ستا کيږدۍ ته په هيله اواسره راځي هغه له خپلوسپيونه ساته اوقدربې کوه!.

په دې و چ ډاګ کښې بل سيورې نشته يوازې ستاسيورې ته هيله اواسره کيږي .

که ته خپل سپي ونه نيسي له دينه لويه بې رحمي بله نشته .

اى دخوروړوسپيوخاونده !

ستادسپيوتاوان له تارسيږي اوددوي په ضررته نيولى يې.

سپى اونفس دواړه يوشانته دي .

ته خپل سپى ونيسه اوپه موږرحم وکړه!

ته پخپلوسپيوداکومان مه کوه چې دوي به هروخت ستاغليمانوته غاپي .

دوي ډيرځله داسمان ستورواوسپوږمۍ ته هم غاپي.

ستاپه ملګرواودوستانوهم بلوسي اوغوټې وهي .

آه !هيڅوك زماناري نه اوري ، دخپلوسپيو حملې هم نه ويني .

زماغږترکيږدۍ نه رسيږي . دوي ولې څه نه اوري؟.

ولې څهٔ نهٔويني ؟
ولې پهٔ چارحم نهٔ کوي؟
www.libtool.com.cn
پردي خوبه نهٔ وي؟
کيږدې خودپښتنو معلومېږي .

«څهٔ ليکل يالیك پوهه»

# بې ګناه بندي

پرېږدئ ! دابې ګناه بندي پرېږدئ !
مه ويرېږئ، دده پهٔ ازاد ولوکښې هيڅ خوف او خطر نشته .
فساداوشرارت له دهٔ نه ،نهٔ پيداکيږي.
دده بندي کول لويه ګناه ده .
داهغه يوسف دی چې دبې ګناهۍ پهٔ سبب پهٔ زندان کښې لويدلی دی که دی له زندانه راووزي ستاسې آينده سنجولی شي اوستاسې دبلې ورځې غم خوړلی شي .
پرېږدئ!دابې ګناه بندي پرېږدئ! که دی خلاص شو، ستاسوانتظام به پهٔ ډيرښهٔ شان وکړي .
ستاسې وزي به ماړه کړي ، ستاسوبرېنډبه پټ کاندي .
تاسې دغه ښکلی موجود پهٔ توروخاګانوکښې مهٔ غورځوئ.
پهٔ زندانونوکښې يې مهٔ اچوئ .
پهٔ ليوانواوپړانګانويې مهٔ خورئ .
پرېږدئ! دابې ګناه بندي پرېږدئ!

دی به ستاسې دګډووډواوپریشانوخوبونوصحیح تعبیرونه وکړي .

ډیرې سخرې،مبهمې اومجملې غوټې به پرانیزي .

www.libtool.com.cn

دی دراتلونکی حال پیشبیني کولی شي.

دطبیعت په رمزونواواسرارو پوهیږي .

دجوي اوفلکي اوضاعو اقتضاآت ورمعلوم دي.

پریږدئ ! دابې ګناه بندي پریږدئ !

دده په ازادی باندې علم او پوهه زیاتیږي .

وطن رڼا کیږي، ړانده بیناکیږي.

دی له خپلو جفا کارو ورونوسره هم ښه سلوك کوي.

دی ډیر پیچومي او ارولی شي.

ډیرې کږې لارې سمولی شي او ډیر مشکلات حل کولی شي .

ماخوب لیدلی چې دابندي خلاصیږي اودسلطنت په کرسۍ کښیني

ښه فکروکړئ ! دابندي څوك دی ؟

پس له ډیر فکره وایم :

فکردی فکر !

«څه لیکل یالیك پوهه »

# نظر لالا

www.libtool.com.cn

پهٔ یوه ستا نه کورنۍ کښې یو سپین ږیری خدمتګار اوسیده چې هرچا به ورته نظر لالا ویل .

دا سړی دما شوم توب له وخته دبوډا توب ترزمانې پهٔ دغه کالهٔ کښې وُاو خپل ژوند یې پهٔ همدغه کالهٔ کښې خاورې کړ.

دی ددې کا له نسبي سړی نهٔ وُاود خدمتګار پهٔ حیث یې کا رکاوه، مګرمزدورورته نشوویلی ځکه چې د مزدورۍ شان کاریې نهٔ کاوه .

هیڅوک به خپل ځان دځان دپاره پهٔ کارکښې دغومره ستړی نکړي لکه چې نظرلالا ددغې کورنۍ پهٔ خدمت کښې ستړی اوستومانه وُ .

کوم کارچې څوک دیوی ټینګې اولوړې عقیدې دپاره کوي هیڅ حریص اوپهٔ ګټه مین سړی یې د پیسود پاره نشي کولی.

دهٔ دغه خدمت دخدایٔ دپاره کاوه اوپهٔ داسې جذبه یې کاوه چې دلمانځهٔ دفوتیدوهم څهٔ ډیره پروا ورسره نهٔ وه .

پهٔ دغه سړي کښې ډیر زیات اخلاص، امین توب او صداقت موجود و چې پهٔ دې وخت کښې یې مثل او نظیرنشي پیدا کیدی یاډیر لږ پیدا کیږي.

داسړی بې نامه او بې نشانه سړی وُ، جامې به یې تل زړې او خړې وې مګر د زړهٔ صفایي یې دومره زیاته وه چې زهٔ ور ته حد او اندازه نشم ټاکلی .

پهٔ کوم کلي کښې چې نظر لالا او سیده دجاه او جلالهٔخاوندان او دعلم وفضل صاحبان هم اوسیدل چې ځینو مریدان هم نیول مګر زهٔ له

هغو تولونه نظر لالا انتخابوم اوله نورونه په ادب تیر یزم .

زما داعادت دی چې له مخدوم نه خادم ته په محبت ګورم اوله پیرنه مې مرید خوښ دی.

www.libtool.com.cn

له ماسره اوس دافکر ډیر پوخ شوی دی چې دخیراو برکت خاوندان په ساده مسلمانانو کښې ډیر موندلی شو او پوهان اوهوښیاران دبل د پاره له خپلې ګټې نه نشي تیریدلی.

څوك چې دخدای د پاره دنوروخدمت کوي او خپل ژوند دنوروله ژوند قربانوي هغه لکه نظر لالاداسې وي چې خپله مادي ګټه هیڅ نه پیژني او په پردي کاله دومره زهیروي چې له هیچاسره به دخپل کاله دغومره غم نه وي.

داسړی په توراوسپین نه پوهیده الف او بې یې نه وولوستي ، دلفظ او معنی فرق یې نشو کولی مګر دنیکۍ او خیر رسولو په لوړه مبدأیې ټینګه عقیده لرله او داجذبه پکښې دعشق حدته رسیدلې وه .

نظر لالادهرچاپه نظر کښې ډیر سخت او بخیل سړی معلومیده هرچابه ویل چې ده غوندې سخت سړی بل نه پیدا کیږي، په ربښتیا چې دده پیرزوینه په ځان باندې ډیره لږه وه ،مګر بخیل ورته نشم ویلی او ډیر حاتمان زه ورځنې ځاروم.

کله به چې دکاله خاوند نظر لالاله کابله ننګرهارته استاوه چې څاروي اوپسونه بوزي ، نویوځوډۍ به یې ورته پخې کړې او ډیرې لږې پیسې به یې هم ورکړې چې په لاره کښې ځانته کوم وخت څه نګولی واخلي یاچیرته دڅاروو د پاره څه واښه پرې رانیسي، داسړی به له کابله لغمان ته ولاړ او څاروي به یې هم ورسول، مګر یوه میاشت

یادوه میاشتې پس به چې څوك میلمانه راغلل ، او چرګ به په کارشو
www.libtool.com.cn
نظرلالابه هغه پیسې په چرګوړوور کړي چې میلمانه په بنه شان عذرشي اودکاله دخاوند ښه نوم وساتل شي.

دی هغه رازخدمتګار نه وُچې له خپل مخدوم نه څه واخلي او دځان د پاره یې ذخیره کړي بلکه ده به هغه ته څه ورکول اوخدمت یې بیخي وړیاؤ.

دده خوراو خوریې ډیر غریبانوومګر هیڅ بدګومانه سړي هم داګومان نشو کولی چې دی دې هغوي ته څه ورکړي.

که کله به دکاله خاوند دده په خاطر هغوي ته څه ورکړه.

دی به خپه کیده او ددغه کاله زیان ورته لکه دایمان زیان معلومیده.

دنظرلالا داعادت وچې چرغزبه له خوبه پاڅیده اودسپیدوپه رڼا کښې به غره ته روان وُ ، ترڅوبه چې لمرڅرك واهه ده به له غره نه دخسوکیډی راووړ، چې سباناری به یې وکړنوبیا به په نورو کارونوپسې روان شواو ټوله ورځ به یې کاراوخدمت کاوه .

ده به پس له مابنامه هم دشپې ترلسوبجودمیلمنو خدمت کاوه او ډیر ناوخته به ویده کیده.

دده په کار کښې درخصتۍ او تعطیل ورځې نه وې اودناروغۍ د پاره یې هم فرصت نه درلود.

دی دعادت او ډیر کار کولو په وجه له پولادونه هم کلك وُ.

هغه کیډۍ چې ده دشپیتو کالو په عمر په شاباندې راووړ ددې زمانې ښه ښه ځوانان یې نشي وړلی .

ده به هرکله دخمتاپیوندي کالي اغوستل او خوراك یې هم ډیر

خوارۇ.

www.libtool.com.cn

ترڅوبه چي ډير مجبور نشونو داختر په ورځ به يې هم نوي کالي نه اغوستل.په دغه کاله کښي به چې هرڅومره بنه څه پاخه شوه دده برخه به پکښي ډيره خواره وه ځکه چې بنه ډوډۍ د ده له ستوني څخه نه تيريده اوپه همدغه وجه به دچرګ ورميزدده برخه وه.

نظر لالا له تودي ډوډۍ سره هم دښمني درلوده او چې په شکور کښنی به سره پرته وه تودي ته به يې لاس نه وروړ.

په همدغه سبب دی په ډير بخل مشهور ؤ او هرچابه ورته سخت اوبخيل ويلي.

دا ؤدخلکو قضاوت چې له حقيقت نه ډير لرې ؤ او په ډيرې ظاهر بينۍ بناؤ . هغه څوك چې خپل ژوند دبل د پاره وقف کړي او هيڅ دنيايي ګټه يې پکښي له نظر لاندې نه وي هغه ته به څنګه بخيل ووايو.

هو! نظر لالا په ځان باندې بخيل ؤځکه چې له ځانه تيرۇاو خپل ځان يې بل ته بخښلی ؤ .

ده ته به که چادخدای د پاره څه ورکړه هغه يې دبل د پاره اخستل اوبل ته يې ورکول.

داايثار او فدا کاري چې پدې وخت کښي لکه دانځر ګل يادمرغۍ پېء ډير نادر څيز معلوميږي له انساني غرايزو سره ډير موافقت نه لري اومثالونه يې ورك دي.

دا رازسړي دخلکو په نظر کښي ډيرسا ده اوډيراحمق معلوميږي.

په عقل او پوهه داګومان نشي کيدی چې چاته ددغسې ايثار او فدا

کاری اجازه ورکړي.

www.libtool.com.cn

خپل ځان خوارول او بل پالل، له ځانه تیریدل او دبل په ښه ورتلل دعقل اوفکر کارنهٔ دی.

ددغسې کارونود پاره یولوړ معنوي عشق په کار دی او دنظر لالااخلاص غواړي.

ددغه کاله هرڅهٔ دنظر لالاپهٔ لاس کېښې وواو دده پهٔ امانت داریهٔ هرچاداسې یقین درلود چې هیڅ شك پکښې چانشو کولی.

زهٔ دهغه چاستاینه نهٔ کوم چې نظر لالاورته ډیراخلاص او عقیدت درلود زما پهٔ نظر کښې دستایلو وړ نظرلالادی او دده پهٔ ښهٔ سړیتوب ټینګه عقیده لرم .

دی اوس له نظره پنا دی اوزهٔ دده زیارت ته پهٔ ډیر اخلاص ورځم.

پهٔ هغه ادیره کښې چې دی خښ دی نور قبرونه هم ډیر دي او پهٔ ځینوباندې لاجنډې هم ولاړې دي مګر زهٔ خپل مراد له نظر لالاڅخه غواړم اودده حسنات راته ډیر درانه معلومیږي.

پهٔ رښتیا چې زما خاد مان خوښ دي اوښهٔ خلك پهٔ خدمتګارانو کښې وینم .

# جبراو اختیار

www.libtool.com.cn

هغه کار چې دانسان پهٔ اراده او اختیارنهٔ وي شوی دفخرورنهٔ دی اودملامتۍ موجب هم نهٔ ګرځي یعنې که د چاونه ټیټه وه ګرم نهٔ دی که چامتوسط قد اوقامت درلود ورته نشو ویلی چې ډیربنهٔ کاردې کړی او اندازه دې ساتلې ده .

که یو سړی خپل سپین مخ تور کړي ملامت دی مګر دحبش مخ که هرڅومره توروي څوك یې نشي ملامتولی ځکه چې دده اختیار او اراده پکښې دخل نهٔ لري .

یوسړی خپل غلیم پهٔ جنګ کښې مړ کړي او خپل شجاعت ښکاره کړي حق لري چې پخپله توره او توریالیتوب فخرو کړي مګر که مرغۍ ولي اوسړی ولګیده که څهٔ هم دده ډیر زور وراوزړوردښمن وي خپل بریت نشي تاوولی او تور یالی ورته نشو ویلی.

هیڅوك یوګونك پهٔ حق نهٔ ویلونهٔ ګرموي ځکه چې هغه مجبور او معذوردی .

مګر هغه چې ژبه لري اوله ډاره حق نهٔ وایي له ملامتۍ نه نهٔ خلاصیږي که څهٔ هم یوڅهٔ مجبوریت دلته هم شته او اختیارنیمګړی دی دجبراو اختیار مسأله ډیر اړخونه لري او دغه فیصله څهٔ آسانه خبره نهٔ ده.

زهٔ پهٔ دې ځای کښې دا اراده نهٔ لرم چې له علمي څیړنې نه کار واخلم زما مقصد بل دی او دملایانوپهٔ کار کښې کار نلرم .

زهٔ حتی الامکان له فلسفي بحثونونه ډډه کوم مګرکله کله مې

دموضوع تعلق او ارتباط مجبور وي چې په معقولاتو کښې مداخله
www.libtool.com.cn
وکړم .

زه نه وایم چې انسان مختاردی ځکه چې موږ ډیرمجبوریتونه لرو اودجبر مظاهردلته بیخي ډیردي.

موږمجبور یوچې په وچه منزل وکړو ځکه چې دلته بحر نشته او زموږ په هیواد کښې بیړۍ نه ګرځي .

همدغه شان موږ له کابله ننګرهار ته په هوا نشوتلی ځکه چې هوایي سرویس نه دی جاري مګر دغه رازمجبوریتونه په ځینو نورو ځایوکښې نشته،هلته یو سړی اختیارلري چې په هواځي که په بحر کښې او که په وچه اوس پوه شوئ ! چې جبر او اختیار په هرځای کښې یوشانته نه دی او ټول انسانان یورازمجبورنه دي.

ډیرمجبور یتونه پخواوچې اوس نشته او خپل ځای یې اختیار ته پرې ایښی دی.

یوماشوم چې اول پیدا شي هیڅ اختیار ورسره نه وي او دبل په غیز کښې ژوند کوي، پخپله نه چیرته تلی شي اونه راتلی شي. خملول او پاخول یې دبل په لاس وي او کالي بل څوک وراغوندي مګر څومره چې لوییږي اوغټیږي هغومره دمورله غیږې لرې کیږي اوله مجبوریت نه داختیار خواته درومي کله چې پخپلو پښو روان شي نوبیا خپل مخ پخپله وینځي او پخپله خوښه له کاله وزي یا کاله ته راځي.

کله چې ځوان اوزلمی شي دکاله واك او اختیارهم دده شي اود پلارپه جایداد تصرف وکړي .

په هره اندازه چې د ژوندانه درجه اومرتبه لوړیږي مجبوریت کمیږي

او اختیار زیاتیږي .

www.libtool.com.cn

یوکاڼی که څوك هرې خواته غورځوي او هرراز لوبې پرې کوي کولی یې شي مکروښي او بوټي دغسې نهٔ دي یعنې دنبات مجبوریت له جمادنه لږدی ځکه چې دحیات اثر پهٔ دهٔ کښې زیات دی.

له ونو اوبوټونه بیا دځاروېو اختیار ډیردی اوجبرنورهم تخفیف موندلی دی، انسان چې له حیوان نه پورته مقام لري اودتکامل پهٔ لاره کښې وړاندې دی ددهٔ اختیار نورهم زیات شوی اوله خپلې ارادې نه ډیر کار اخلي.

پهٔ انسانانو کښې هم دوحشي او مدني انسان دعالم اوجاهل انسان دقوي او ضعیف انسان پهٔ اختیار کښې ډیر فرق موجود دی مګر بیا هم پهٔ هرحال کښې یوځهٔ مجبوریتونه شته اوپهٔ جبراو اختیار کښې ډیر فلسفي بحثونه کیدی شي.

ددنیاډیر پوهان پدې عقیده دي چې دانسان ډیر کارونه پهٔ ظاهره ارادي او اختیاري معلومیږي مګرپهٔ حقیقت کښې دمجبوریت اثروي اوخبره له اختیاره وتلې وي.

دوي وایي هغه سړی چې ډیر پهٔ غیظ او غضب کښې وي اوپهٔ همدغه وجه دچا دوژلو اراده وکړي موږ ورته داختیار خاوند نشوویلی ځکه چې دی پهٔ دغه حال کښې د داسې اغیزو اونفسي تأثراتومحکوم دی چې له دغه کاره ځان نشي ژغورلی او پخپلواحساساتو حاکمیت نهٔ لري ، که موږ پوه شو چې دی پهٔ دغه وخت کښې له یوهٔ لیوني نه څهٔ فرق نهٔ لري ، او پهٔ طبیعي حال کښې نهٔ دی دی به ارو مرومجبوره ګڼو او دغه کارته به غیراختیاري ووایو .

همدارنګه هغه څهٔ چې يو عاشق دعشق پهٔ جذبه کښې دعشق د پاره
www.libtool.com.cn
کوي له مجبوريت نه نهٔ وي خلاص او اختياري ورته نشو ويلی.

ددغو خبرو خلاصه او نتيجه داده چې شديد محبت او شديد بغض د انسان اختيار سلبوي او هغه څهٔ ورباندې کوي چې پهٔ عادي اوطبيعي حال کښې يې يو عاقل انسان نهٔ کوي دهمدې لامله ډير خلك پخپلو ځينو کارونوبل وخت پښيمانه کيږي او پوهيږي چې ښهٔ يې نهٔ دي کړي.

ځينې نورېدي عقيده دي چې انسان داختيار خاوند دی که ښهٔ کوي بايد ښهٔ ورته ووايو او که بدوکړي بايد بديې وګڼو .دوي وايي که انسان د عشق د پاره کوم کار کوي او که ددښمنۍ د پاره پهٔ دواړو حالتو کښې دغه کار دده ګڼل کيږي اوپهٔ دهٔ پورې تعلق نيسي ځکه چې دغه مختلف احوال چې دزور ورې ميني يادشديد عناد پهٔ اثر پيدا کيږي او نفسي ياروحي اغيزې ورته ويل کيږي پخپله له نفس څخه عبارت دي او نفس دهمدغو احوالو اوکيفياتو نوم دی، هسې نه چې کوم بل شی پهٔ نفس اغيزه کوي اواختيارېې سلبوي .

ارسطو دجبراو اختيارحدود ډيرښهٔ ټاکلي دي، اوپدې باب کښې يې ډيره ښهٔ فيصله کړيده .

دی وايي : هغه کارچې يوسړی پخپله اراده نهٔ کوي او دده اختيارپکښې هيڅ دخل نهٔ لري ښهٔ او بديې ده ته نهٔ دي راجع او دده کارورته نشو ويلی يعنې که يو زورور باد يوسړی کومې خواته يوسي يايې څوك لاس او پښې وتړي اوله يوه ځايه يې بل ځای ته وړي نودلته اختيارسلب دی ، اوپهٔ مجبوريت کښې هيڅ شك اوشبه نشته ،مګر که

يو سړی دخپل شرافت دساتلو دپاره کوم کار کوي او خپل عزت او وقارپې يوه کارته مجبور وي نودغه راز مجبوريتونه دجبرله قانون لاندې نهٔ راځي.

www.libtool.com.cn

دی دمثال پهٔ ډول وايي : که ديوهٔ سړي مور اوپلار يا اولادونه ديوهٔ ظالم او مستبد له تهديد لاندې وي چې دده پهٔ تسليميدو او اطاعت هغوي له زيان اوضرره محفوظ پاته کيږي او که اطاعت ونکړي هغوي ضايع کيږي پهٔ دغه صورت کښې داسوال پيدا کيږي چې که دغه سړی دهغه ظالم له خوا پهٔ يوه ناوړه کار مامور شي دی پهٔ دغه باب کښې مجبور دی او که مختار؟

ارسطو وايي : چه دلته جبر او اختيار مخلوط شانته دي مګر داختيار جنبه غالبه ده ، ځکه چې ددغه کارپهٔ کولو اونهٔ کولو کښې دترجيح او انتخاب مسأله مينځ ته راځي نوهره خواچې دی انتخابوي او ترجيح ورکوي هغه دده خوښې او ارادې ته راجع ده او ددهٔ کار ګڼل کيږي.

دی وايي پهٔ دغسې مواردو کښې که سړی ناوړه اوبدکارو کړي دغه رازمجبوريتونه معقول عذر نشي کيدای پهٔ دغسې مجبوريت بايد سړی پښې کښيښنږدي اوهغه څهٔ وکړي چې انساني شرافت او وجدان يې تقاضالري.

شجاعت او شهامت چې يو اخلاقي فضيلت دی پهٔ همدغسې مواردو کښې ځان ښيي اودافتخارحق پيدا کوي.

هغه دسرخطر چې پهٔ جنګ او جګړه کښې يوبې زړهٔ سړی تيښتې ته مجبور وي دخلکو پهٔ نظر کښې څهٔ اعتبارنهٔ لري پهٔ همدغه وجه له

توروا و ټوپکونه تښتیدونکي هرچاته سپك ښکاري او هغه چې له مرګه نه ویریږي او په ایستلو توروورځې دخلکو په نظر کښې درانه معلومیږي.
www.libtool.com.cn
که په دغسې مجبوریت خلك قایل وای هرڅوك به له جګړې څخه تښتیده او هیچابه هغه ته په سپکه نه کتل.

هغه افتخار چې دشجاعت اوشهامت خاوندان یې ګټې د دغسې مجبور یتونو په نافرمانۍ کښې پټ دي لکه چې عاراو ذلت ددغه رازمجبوریت اطاعت او انقیادته ویل کیږي.

# دخان واده

www.libtool.com.cn

له خوبه راپاڅيدم ، دډول او سرنډي اوازمې ترغوږه شو او ډيره لويه ډرا راښکاره شوه چې ډير خلك ورسره خوشحاله روان و واو دخان په واده کښې يې لاسونه غورځول.

زه هم له دوي سره ملګرى شوم اوپه دي خوشحالۍ کښې مې ځان شريك کړ.

ددې ښادۍ دډول اوسرنډي غز ترډير لرې ځايه رسيده او ډيروخلکو پکښې اتنونه کول.

چابه ډزې کولې چابه اسونه ځغلول، ځينوبه ټوکې او مسخرې کولې، په دغسې خوشحاليو کښې ماښام تياره کلي ته ورسيدو اوډولۍ دکاله په مخکښې ښکته شوه .

دکلي ښځې په ډيرې خوشحالۍ راغلې ، او دډولۍ پردې يې جګې کړې همدغه وخت خندا او خوشحالي خپل ځاى غم او ژړاته پريښود او دامعلومه شوه چې دغې ښکلې ناوې دخپلې آزادۍ د پاره ډيره لويه قرباني ورکړه اوداجباري واده ملايې ماته کړه.

ددغه حال په ليدلو دهرچاپه احساس کښې بدلون راغى او موږ وپوهيدو چې کله خلك جنازه هم په ډول اوسرنډي وړي اوپه غم دښادۍ ګومان کوي.

په دنياکښې ډيرداسې غمونه شته چې دخوشحالۍ په ډولۍ کښې پټ دي اودخلکو په شعور او تميزمسخرې کوي .

زما یوه ملكري پهٔ دغه ورځ وویل : پهٔ رښتیا چي خوشحالي څوك پهٔ زور او جبریاپهٔ ډیر وپیسوكورته نشي ورلی.

www.libtool.com.cn

مكرخان لاتراوسه پهٔ دغه حقیقت نهٔ دی پوه اوخپله خوشحالي پهٔ دغه ډول غواړي.

«څهٔ لیكل یالیك پوهه»

# غم او خوشحالي

www.libtool.com.cn

زما اشناله ډيرو غمو نو سره نا اشنادی ، دهغه پهٔ کالهٔ کښي چادماشوم ژړا نهٔ ده اوريدلي او دخپلو ماشومانوپهٔ مرګ او دردېي هيڅکله نهٔدي ژړلي .

هغه دڼوی اولور پلارنهٔدی چي داولادپهٔ تبه اوشري ياکوپ غمجن شي .

هغه حال چي يوپلاريي دخپل کوچني زوی ياځلمي زوی دځانکدن پهٔ وخت کښي ويني دی ترينه ناخبره دی .

دهٔ غوندي بې غمه سړي ډيرلږ پيدا کيږي اوپهٔ همدغه سبب يې دخوشحالۍ برخه هم ډيره لږه ده .

دی چي پخپل کالهٔ کښي خپل خلف الصدق نهٔ ويني پهٔ زړهٔ کښي ډيرخوريږي اوځان بدبخته ګڼي مګردده دغه غم زموږ پهٔ نظر کښي دهغه چاله غمه ډيرسپك دی چي دوه زامن يې ژوندي دي اويوه دده پهٔ غيږکښي خدای ته ځان سپارلی دی ځکه موږ هغه ته دفاتحې د پاره ورځو او ده ته نهٔ ورځو .

زموږ داعادت دی چي که دچاپهٔ کالهٔ کښي نهه مياشتينی اولادمړپيداشي ويرور سره نهٔ کوو او هغه هم دغم کمبله نهٔ غوړوي،مګرپهٔ کوم کاله کښي چې‌ددرو ورځوماشوم مړشي هلته دغم اومصيبت مجلس جوړيږي اوخلق ورسره همدردي کوي.

موريس مترلينك وايي : «تاسې پهٔ ملياردو نو نطفې ضايع کوئ.

مگر خوابدي کيږئ نه او دغه راز ضياع دچادغم او خپگان موجب
www.libtool.com.cn
نګرځي، ددي خبرې معنی داده چي زموږ غمونه معقول نهٔ دي محسوس دي.

هره ضايعه چي يوازي عقل پرې پوهيدی شي او احساسات ورسره تعلق نهٔ لري همدغسې بې اثره وي.

زموږ خوشحالي هم لکه زموږ غم پهٔ عقل او منطق اتکاء نهٔ لري بلکه دشعور او احساس نتيجه ده .

غم او خوشحالي يو پهٔ بل پورې تړلي دي او يوله بله نهٔ بيليږي .

ځيني ګومان کوي چي خوشحالي له بې غمه خلکو سره زياته ده او هغه څوك ډير نيکبخت دی چي هيڅ غم نهٔ لري مګر حقيقت دغسې نهٔ دی او بنادي هرچيرې دغم پهٔ اندازه ده .

حقيقي بدبختي پهٔ بې غمی کښې ځای لري اوبې غمه سړي ته که سړی وويلی شو نيکبخت خوورته هيڅکله نشوويلی.

غم او خوشحالي لکه ديوې ټوټې دوه مختلف مخونه دي چي اصل يې يودی څنګه چي شپه او ورځ يوپهٔ بل پورې نبنتي دي ، اوهرکالهٔ ته دواړه وړاندې وروسته راځي دغم او خوشحالی ارتباط هم دغه رازټينګ دی که څوك وغواړي چې هغه يو خپل کالهٔ ته پريږدي اودابل ايسار کړي له دينه لويه اشتباه بله نشته.

داسي کيدی شي چي ورځ اوږده شي اوشپه لنډه ياشپه لويه وي او ورځ وړه وي مګر داسې ورځ چي شپه ونهٔ لري، ياداسې شپه چي ورځ وريپسې نهٔ وي پهٔ دنيا کښې نشته.

که لر تر آخرته پاس پهٔ تندی ځای پهٔ ځای ولاړ وای اودزماني پهٔ رنګ کښې هيڅ تغيير او تحول نهٔ وای موجود هيڅوك به نهٔ پوهيده چي

شپه ځنګه وي او دهمدې لامله چې شپه به چانهٔ پيژندله پدې به هم نهٔ پوهيده چې ورځ څنګه وي او څهٔ کيف لري.

www.libtool.com.cn

غم او خوشحالي هم لکه شپه او ورځ يوپهٔ بل پيژنوکه غم له دنيانه بيخي ولاړ شي خوشحالي هم ورسره ځي اوکه ژړانهٔ وي خندا هم نشته .

هماغسې چې هګۍ له چرګې پيداکيږي اوچرګه له هګۍ نه غم اوخوشحالي هم يودبل اولاد دی.

انسان بايد پدې پوه شي چې غم اوخوشحالي يو ظاهري او اعتباري فرق لري يعنې دافرق هم لکه دشپې او دورځې فرق دسترګو اونظرفريب پيدا کړيدی چې دعقل او بصيرت خاوندان پرې نهٔ غوليږي بلکه ړاندهٔ هم دواړه يوګڼي .

څوک چې دعقل سترګې لري اودفلسفي شعورخاوند دی، هغه زمانې ته پهٔ بل شان ګوري او دشپوورځوله سپينواو توروپردونه هغه خوابې رنګه زمانه پهٔ بل ډولويني هغه پوهيږي چې دزمانې دواړه مخونه يوهٔ شي ته منسوب دي او يو حقيقت دوه رنګه ښيي.

ډيره ښهٔ ده چې عقل او پوهه پهٔ موږ ډير تسلط نهٔ لري اوموږيې له وهم او خيال نه لرې کړي نهٔ يوګڼې اوس به شپه او ورځ راباندې يوه وه او خوشحالي به هم راباندې غميدلې وه .

زموږ غمونه او زموږ خوشحالي زموږپهٔ ژوند کښې هغه سوزاوسازپيداکوي چې بې له هغه د ژوند کيف اوخوندنهٔ پاته کيږي.

غم دخوشحالۍ ځکلوذايقه او احساس روزي اوخوشحالي لکه دخوږوميووخوراک ترخومرچوته ضرورت لري.

که پهٔ دنيا کښې ترخهٔ شيان نهٔ وي خوازهٔ ډير ژر زړهٔ وهي او

بیخونده کیزي.

www.libtool.com.cn

دژوندانه خوند غم او خوشحالۍ ته ډیرضرورت لري اوپهٔ دغه خوند کښې دعواطفو او احساساتو خاوندان ډیره برخه لري هغه ړاندهٔ هوښیاران چې پهٔ ظواهرونهٔ غولیږي او دغم او خوشحالۍ پهٔ فرق نهٔ دي قایل له دغه نعمته محروم دی.

که موږډیرعمیق فکرو کړو هماغه شی موږ ډیرخوشحالوي چې موږیې ډیر خپه کړي یو اوډیر ځله هغه شي ته خوشحالیږوچې زموږغم پکښې پټ دی ، ډیره ښهٔ ده چې پهٔ جهان کښې دغه راز ژور فکرونه ډیر لږ دي او احساسات موږته دغه موقع نهٔ راکوي چې دغمونواوخوشحالیو حقیقت ته ډیرځیرشو.

ډیرخلك دي چې یوه ورځ یې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کیږي مګر بله ورځ نوی واده کوي اونوې خوشحالي هغه زوړغم بیخي هیروي نودغه دخوشحالۍ ډولۍ او هغه دغم جنازه یوله بله ډیرربط لري که هغه غم دغه کالهٔ ته رانشي دغه ښادي هم نشي راتلی.

داوصال پهٔ حقیقت کښې دهغه فراق نتیجه ده اوپهٔ هغه ویرکښې دغه سروراوسرودپټ دی هرڅومره چې دخوشحالۍ د پسرلي بارانونه زوړ-وروی هغومره یې سیلابونه هم زور وردي، له دغسی زور ور وبارانوسره تندر اوزلۍ هم شته لکه چې له ډیرو لویو افتخاراتوسره ډیرلوی خطرات ملګري دي.

همدغه وجه ده چې زهٔ له سپکو اوکوچنیو غمونوڅخه لوی او سترغمونه ډیرښهٔ ګنم.

# اخلاقي اساس

www.libtool.com.cn

شوپنهاور وايي : داخلاقو دپاره له ترحم نه ښهٔ اساس نشته ،انساني اخلاق بايد پهٔ همدغه اساس قايم وي.

دده پهٔ نظرکښې اخلاقي عمل هغه دی چې دشخصي ګټې، هيڅ اثر پکښې نهٔ وي او محض دبل دخير د پاره وي.

کانت وايي : د انسان هغه عمل اخلاقي ارزښت لري چې خاص دانساني تکليف د پاره وي.

دده پهٔ نزد انسانيت يو قانون لري ، چې مخالفت ترينه ښهٔ نهٔ دی او انسان مکلف دی چې له دغه قانون سره سم وچليږي.

دده پهٔ نظر هغه کار چې دقانون د پاره کيږي او هغه کار چې د قانون د پاره نهٔ وي شوی مګرله قانون سره موافق وي يوله بله فرق لري، دی هرنيك اوښهٔ کار اخلاقي عمل نهٔ ګڼي دده پهٔ فکر اخلاقي عمل هغه دی چې خاص د قانون د پيروۍ اودانساني تکليف دپرځای کولو د پاره اجرا شوی وي نه دشخصي ګټې د پاره.

پهٔ همدغه سبب د يوه سودا ګر صداقت او راستي چې دتجارتي ګټې د پاره وي نيك کار ګڼي مګر اخلاقي عمل ورته نهٔ وايي.

همدارنګه هغه څوك چې ډير زړهٔ سواندی وي اوپهٔ همدغه سبب له خلکو سره نيکي او احسان کوي دغه راز نيکي او احسان دکانت پهٔ عقيده اخلاقي عمل نهٔ دی وايي که دغه سړی له خلکو نه ډيري جفا-

ګاني وويني زړهٔ به يې سخت شي بيابه له چاسره احسان او نيکي نهٔ کوي مګر هغه څوک چې دخلکو جفا ګاني ويني اومحض دتکليف د پاره له خلکو سره ښهٔ کوي دا کار اخلاقي قيمت لري او اخلاقي عمل ورته ويل کيږي.

مترلينګ وايي : هغه مينه چې انسان يې له انسان سره لري ، بايد له ډير لوړ او هسك ځای نه اخستل شوې وي ، که يوانسان وکړی شي چې له انسانانو سره عشق ولري اوبشر دوستي دعشق له کوره واخلي نهٔ ښايي چې له ترحم نه کارواخلي او مينه يې دمرحمت او مهربانۍ رنګ پيدا کړي.

که څوک چاته دعدالت له مخې څهٔ ور کولی شي داحسان له لارې دې څهٔ نهٔ ورکوي ،که د چاله لاسه پوره وي چې دانسان احترام وکړي دلجويي اوتسلي ورکو لوته حاجت نشته .

دی انسان دپاره له چانه رحم اوشفقت نهٔ غواړي عشق غواړي

داحسان له ورکړې نه دعدالت ورکړه ښهٔ ګڼي اوله نوازش نه يې احترام دانسان د پاره غوره ګڼلی دی.

داسړی دعشق طرفدار دی، دده پهٔ مذهب بايد شاه او ګدايوله بله عشق ولري.

ده ته له شفيق نه رفيق ښهٔ ښکاري اوله هغې مينې نه کرکه کوي چې يومهربان باداريې له خپل صادق خدمتګارسره لري دغه رازمينه چې دترحم او شفقت رنګ لري. يوانسان لوی اوبل کوچنی ښيي ، پدې مينه کښې چې هرڅومره مهرباني پرته ده هغومره پکښې دمحبوب حقارت هم شته مګر پهٔ عشق کښې کبر او لويي نهٔ ځائيری اواغاتوب نهٔ مني .

دی انسان ته به ډیر لوی حق او ډیرزیات احترام قایل دی مګردغه حق ورته پهٔ سوال اوګدایي داسترحام له لاری نهٔ غواړي ، دعدالت پهٔ اساس يې غواړي.

www.libtool.com.cn

که مشر بنهٔ انصاف وکړي خواران او مزدوران پهٔ بډایانو باندې ډیرلوی حق لري خودغه حق پټ پاته دی اوخلکو هیر کړی دی.

روسووایي: «هروخت چې تاسې یو اسمان خراش قصروینئ ،یقین وکړئ چې دیوه ولایت کورونه ددغه قصردبنا د پاره وران شويدي » که چیری سم اوصحیح حساب مینځ ته راشي ډیرلوی بډایان د ډیروزیاتوخلکوپوروړي دي او ددوي خیرات پهٔ حقیقت کښې ددغه پورنیمګړي اداده.

که یوسړی پهٔ دغسې احساس خواراوغریب ته څهٔ ورکوي احساس يې ډیر لوړ اوعالي دی اوله هغه بل نه چې داکار خپل رحم اوکرم ګڼي عالي همت اولوړ شعورلري.

دچاپوهه چې دعشق پهٔ آب وهوا کښې وده وکړي او عواطف اواحساسات يې پهٔ عقل غالب وي هغه دمترلینك پهٔ شان فکر کوي اوله نوروپوهانونه يې فکربل رازوي .

## بنهٔ اوبد

خدای خبردی چې غل ؤکه خوني ؤ، یايې کوم ډیردشرم کار کړی ؤ، هرڅهٔ چې ؤ، خوخلکو يې متې تړلې وې او حاکم ته يې راووست.

هریوهٔ ویل : دی ډیربدسړی دی موږددهٔ له لاسه ډیر پهٔ عذاب یو، دی باید بندي شي او ډیره سخته سزا وویني .

حاکم هغه بدوګانه او زندان ته یې ولیږه دهغه خپلوان اخند زاده صاحب
ته ورغلل اوهغه یې حاکم ته ورووست کله چې حاکم د اخند زاده
www.libtool.com.cn
صاحب له راتګه خبر شو یوه تمته مخې ته ورغی ، دهغه لاسونه یې
ښکل کړه اوپهٔ ډیرعزت یې خپل ځای ته راووست .

داخندزاده صاحب له خبرې هیڅوک نشووتلی، حاکم هم دده امرته
غاړه کښیښوده اوبندي یې خوشی کړ.

ماچې دغه حال ولید پدې پوه شوم چې دلته دښواوبدوفرق شته ځکه
دښهٔ سړي لاسونه ښکلوي او دبد سړي لاسونه تړي ، مګرتول دښو اوبدو
پهٔ فرق یوشان نهٔ دي پوه شوي دهمدې لامله هغه سړی چې دخلکو پهٔ
نظرکښې بدؤاخندزاده صاحب ښهٔ وګانهٔ اوله بنده یې خلاص کړ.

زماملګري وویل:دوي دښواوبدوپهٔ تمیزکښې ډیرغولیدلي دي دوي
وایي:زموږملك ډیربد سړی دی ځکه چې دغلوملګری دی اوغله پهٔ حاکم
باندې خوشې کوي مګرهمدغه کارچې اخندزاده صاحب وکړهغه ته بد نهٔ
وایي .

هرکله چې خونیان اوداړه ماربندیان شي دده پهٔ برکت خوشې کیږي
اودګنهګاروشفاعت دده کاردی.

دی یوازې له حاکمانونه غله نهٔ خلاصوي که شکرانه غټه وه پهٔ اخرت
کښې یې هم دخلاصولوذمه کوي اوپس له مرګه یې هم ملګری دی.

که یوحاکم یوغل دملك پهٔ خوله خوشې کړي داکاردوي ته بد ښکاري
مګرکه داخندزاده صاحب پهٔ سفارش یې پریږدي نوبیا پهٔ ښهٔ سړیتوب
اودینداری کښې حسابیږي.

دهرچابدي که پهٔ ډیروپر دواو رنګونوکښې پټه وه هغه د دوي پهٔ نظر

کښېني سبڼۀ سړی دی او که چاخپله بدي پتهوله یایې نشوه پټولی دوي ورته بد وايي او په بدنامۀ يې يادوي. www.libtool.com.cn

دوي هغه غل ګڼي چې دسودا ګروقافلې وهي او دبډایانو په کورونو داړې غورځوي مګر دهغه چالاسونه اوښېښې ښکلوي چې په چل او فریب دخیراتونو قافلې خپل کالۀ ته راګرزوي او دمسکینانوحق غصبوي .

# پښتوانې ډيوې

www.dibtool.com.cn

پهٔ کاله کښې برق لګيده مګر پاس پهٔ رف باندې دتوروتيلو مسينه ډيوه ايښې وه ، پهٔ څنګ کښې يې يوه بله ډيوه،هم وه چې يووخت پکښې شمع بليده.

هغه خوادخاورينوتيلولاټين ښکاريده او داسې معلوميده چې هرې ډيوې پخپل وخت کښې داکوررڼا کړی اودکالهٔ خلکو يې پهٔ رڼا کښې ډيرې شپې سباکړيدي مګر اوس ترينه څهٔ کارنهٔ اخستل کيږي اود شپې پهٔ کور کښې برقونه بليږي.

دزمانې داعادت دی چې زاړهٔ شيان له کاره باسي اونوي شيان پهٔ کار اچوي مګر خلك خپل زوړ حال نهٔ هيروي او زړوشيانوته پهٔ جګورفونو باندې ځای ورکوي.

داعادت بدنهٔ دی چې څوك زاړهٔ خدمتونه هيرنهٔ کړي او زړوخدمتګارانوته پهٔ قدر وګوري مګر کارباید له نووشيانوواخستل شي اوپهٔ کوروبنوکښې وخت پهٔ وخت نوې رڼا ګانې پيدا شي.

انسان پهٔ هروخت کښې يوې رڼا ته محتاج دی او دارڼا هرکله خپله څېره او خپله وضع بدلوي دعالم تغيير چې ددنيا لايتغير قانون دی همدغه تقاضا لري چې هرڅهٔ بايد يورازاوبل رازشي اويوازې لوی خدای تل ترتله پهٔ يوه حال باقي وي دهمدغه بدلون او تغييرپهٔ وجه دعلم او پوهې رڼا هم هروخت خپل فانوس بدلوي او دلوبنو پهٔ بدلون پهٔ لوبنو کښې پراته شيان هم بل راز کيږي .

هغه رڼا چې دخاورو له تيلو پيدا کيږي هغه نورچې دلمراو

سپوږمۍ له کوره راځي هغه بريښنا چې داوبو له آبشارڅخه حاصليږي دظرف او محل په اعتبار يوله بله بيليږي که څوك په دغو ظاهري صورتونو ونهٔ غوليږي او حقيقت ته ځيرشي نو دشړشمواو پنبې په بوټو دغوزانو او زيتونو په ونو کښې يوه رڼا موجوده ده چې په هرراز ډيوه کښې بيل کيف پيدا کوي که څوك هغه تيل چې په ډيوه ‌دښې ويني په پنبه کښې ووينې يادغه سيځونکی برق چې په برقي نغريوکښې ګوري په اوبوکښې وليدی شي هغو ته او راواوبهٔ دومره فرق نلري اودجهان په هره ذره کښې يوه رڼا ويني چې دصحراپهٔ کاڼوکښې هم شته هغه نور چې کليم په کوه طور کښې ليده دبنونه په هره ونه کښې شته مګر محرمانه سترګې غواړي.

که دانسان تعقل قوي شي او دحواسو له قيده ووزي (که څهٔ هم دبشر اوسنۍ پوهه هماغه رڼا ده چې دحواسو له کړکيور اننوتلي ده ) په هرشي کښې به يونور ګوري او دوجود په نړۍ کښې به دا تور اوسپين نهٔ وي اوس موږدحواسو له تأثير لاندې يو چې په تيلو غوړ لاسونه په پندانه وچوو.

که لوښي اوظروف زموږ دنظر مانع نشي نوپهٔ هر کور کښې ديوې وياله يادېوې چينې اوبهٔ دي اودټولو مشرب يودی.

که موږ دسيند اوويالې ،دکوهي او کاريز، دواورې او باران په نومونو اوصورتونوونه غوليږو نوواوره ، ږلۍ او باران ديوې کورنۍ خلك دي او اوراواوبهٔ هم دومره پردي نهٔ دي.

پهٔ حقيقت کښې همدغه خوږوالی دی چې پهٔ خټکي هندوانه ،توت انګور ناك او منه کښې يې حلول کړی او پهٔ هرمحل کښې يې بيل

صورت بیل خوند او بیل نوم پیدا کړی دی.

هغه لوی او واړه خمونه چې دبیلو بیلو میوو او دانو شربتونه او عرقونه پکښې پراته دي ټول یو کیف لري او دکجورو اووریشوپهٔ مینځکښې څهٔ فرق نشته پهٔ دغسې کتنه چې سړی له اشکالو او صورتونو نه هغه خواوګوري سړي ته دا معلومیزي چې کورت او شرومبې له یوې غړکې راوتلې دي، او مایعات او جمادات زموږ ظاهري حواسوبیل کړي دي.

www.libtool.com.cn

هغه وخت چې زموږ تماس او تعلق له مادیاتو نه قطع شي ، او مجردشو ښایي چې دنن ورځې علم او معرفت بل رازشي او دغه رڼا بل شانته ووینو، هغه وخت به دنن ورځې دتنویروسایل لکه ددې کوټې بیکاره ډیوې پهٔ کارنهٔ وي او علم و پوهه به پهٔ نوروقالبونوکښې ځان څرګند کړي چې اوس یې موږ نشو لیدلی.

«اجتماعي نظریات»

# انتخاب

www.libtool.com.cn

زماملګرى له اجتماعي مسايلو سره ډيره زياته علاقه لري.

کله چې اولس دشورى د پاره وکيلان انتخابوي يادحکومت مشرخپل وزيران ټاکي دى پهٔ انتخاباتو باندې پهٔ زړهٔ کښې سل اعتراضه لري.

دده پهٔ نزدسم او صحيح انتخاب ډيرمشکل کار دى ،اوکه دغه کار بل څوک کوي دى پکښې ډير عيبونه پيدا کولى شي.

دى وايي دګوستاولوبون داخبره رښتيا ده چې پهٔ خلکو باندې حکومت کول دومره ګران کارنهٔ دى.لکه چې پهٔ خلکوکښې لايق کسان پيژندل او انتخابول مشکل کار دى. زماملګرى دايوه لويه اشتباه ګڼي چې اجتماعي کارونه داسې کسانوته وسپارل شي چې هغوي پهٔ خبرو کښې ډير مهارت لري اوپهٔ خبرو ډيرښهٔ پوهيږي .

ده دګوم عالم داخبره ډيره خوښه کړيده چې پهٔ خبرلوڅواو نطاقانو کښې دفکر خاوندان ډير لږ پيدا کيږي.

دده پهٔ نزد هغه څوک چې ډيرې خبرې کولى شي ښهٔ ښهٔ کارونه نشي کولى او ډير فکر کوونکي هم دکار خلك نهٔ دي.

زهٔ دده داخبره څکه ښهٔ ګڼم چې دى پخپله دفکر خاوند دى او پهٔ خبرو کښې هم ډير ښهٔ دى، هغه څوك چې دځان پهٔ باب کښې هم له حقه نهٔ تيريږي او دقضاوت پهٔ وخت کښې پهٔ ځان هم حکم کولى شي بايد ښهٔ يې وګڼو او پهٔ قدر ورته وګورو ، اوس خوبه پوه شوي ياست چې زما ملګرى پهٔ اجتماعي مسايلو کښې څومره عميق فکر لري مګر

زما علاقه له دهٔسره پهٔ فکري او علمي دقت نهٔ ده بنا بلکه دده شعري او ادبي جنبه مې ډېره خوښه ده .

www.libtool.com.cn

دی علاوه پدې چې شاعراوليکونکی دی پهٔ شعر او ادب کښې ډېره ښهٔ نقادي هم کولی شي يعنې که هرڅومره ښهٔ شعر بدېهٔ نظر ورغی يادشعر خاوند ښهٔ سړی نه وُ، دی پکښې داسې باريك عيبونه پيدا کولی شي چې نورېې پهٔ ذره بين هم نشي ليدی مگر کوم شعر چې دی پخپله انتخاب کړي هغه هم ډېرښهٔ نهٔ وي يابې نورپهٔ ښهٔ والي نشي پوهيدای .

گورئ ! زما مقصد دانهٔ دی چې دی ښهٔ شعر او بد شعرنهٔ پيژني بلکه يقين لرم چې ادبي محاسن او معايب ورته ډېرښهٔ معلوم دي.

زما پهٔ نظر کښې دی ډېرښهٔ شاعر دی مگر دده له باريك نظر څخه پهٔ ويره کښې يم چې داخبره يې پهٔ مزاج بده ونهٔ لگيږي ځکه چې اناتول فرانس پخپل يوهٔ کتاب کښې ليکلي دي .چې ډېر ښهٔ شاعر هماغه دی چې ډېر خود پرست وي اوبې له ځانه بل څوك پهٔ نظر کښې نهٔ لري.

زما دغه ملگري يوه ورځ دوطن پهٔ کاردار انو باندې بحث کاوه ، چې ځينې يې ښهٔ گڼل او ځينې بد.

ما چې دده دغه انتخاب وليد پدې پوه شوم چې دشعر له پيژندلونه دسړوپيژندل گران کار دی او داشخاصو پهٔ عمل کښې دومره اختلاف نشته لکه چې پهٔ نظر کښې شته .

دا کيدی شي چې ډېر خلك پهٔ يوه چلم خوله کيږدي مگر فکرونه او نظرونه يو رازنهٔ دي.

دحسن انتخاب، دشعر انتخاب دشخص انتخاب پهٔ هرځای کښې يوه اختلافي مسأله ده چې دهرچاذوق او نظر پهٔ لحاظ فرق کوي، که هر

چيرته لاړشي او هرچاته لاړشي يوبه دبل په انتخاب اعتراض کوي او دغه شکايت به هرځاى موجود وي.
www.libtool.com.cn

حجازي دايران ډير ښه او مشهور ليکوال ليکي :

زما يوه دوست چې له ډير وښو ليکوالو څخه دى دايران په فرهنگستان انتقاد کاوه چې په دغه علمي او ادبي انجمن کښې ولې ځينې بيسواده اشخاص په عضويت انتخاب شوي دي، او لياقت ته نه دي کتل شوي ؟ مگر څومره چې ده دايران دفرهنگستان اعضاووته بدويل هغو مره يې دفرانسې داکادمى اعضاستايل او دهغوي انتخاب يې ډير صحيح گاڼه ، څو ورځې وروسته چې زه حجازي دفرانسې د اکادمى له يوه غړي مسيو ماسين بون سره په پاريس کښې مخامخ شوم نو دا کادمى بحث مينځ ته راغى او هغه په ډير قهر وويل :

«دفرانسې له اکادمى نه خرابه دستگاه بله نشته ، څوورځې پخوا يو تن دکتابونو ناشر يعنې کتاب فروش چې داکادمى دځينو اعضاؤ کتابونه دتملق د پاره چاپوي او خرڅوي يې داکادمى غړى شوچې دادبياتو په پوله هم نه دى تير شوى».

دا قصه همدغلته پريږدئ ! راشئ چې دفرانسې داکادمى انتخابات داناتول فرانس په وخت کښې وگورو .

دغه لوى او مشهور ليکوال پخپل يوه کتاب کښې ددوو تنو (شاگرد او استاد) مذاکره داکادمى ديوه غړي په باب داسې ليکي :

**شاگرد:** مسيو... داکادمى په عضويت انتخاب شو او داانتخاب زه ډير بدگنم . دا سړى دمعاشرت په ادابو ډير ښه پوهيږي اوله هرحزب سره تك راتك لري سربيره پدې يوې لوړې کورنى ته هم منسوب

دی اووراره یې دکلیسا واکداردی ، دی پخپله هم ډیر څهٔ لري اوپهٔ کاله کښی یې ډیربښهٔ شراب پیداکیږي مګر ذوق اوهنرنهٔ لري اودلوړې قریحې خاوند نهٔ دی ځکه راته دغه انتخاب ډیر ناوړه معلومیږي اوپهٔ بد نظر ورته ګورم .

www.libtool.com.cn

**استاد:** ناوړه انتخاب ته هیڅکله بدمهٔ وایه اوېدې پوه شه چې پهٔ کارونو کښې دتصادف او اتفاق برخه ډیره زیاته ده هغه کارچې تاسوته مسخره معلومیږي پهٔ حقیقت کښې یو انتقام دی چې تقدیر یې دتفریح د پاره دعقل او تدبیرله خاوندانو څخه اخلي.

تاته دی دامعلومه وي چې پهٔ دغسې انجمنونو کښې دهوس او تفنن د پاره هم ځای پرېښودل پهٔ کاردي.

دقریحې او نبوغ خاوندان غالباً د معاشرت او ګذران خلق نهٔ وي، که یوه جامعه سل پهٔ سلو کښې عقلي او منطقي وي سل پهٔ سلو کښې به دتحمل وړنهٔ وي او دعدالت له ساړهٔ فشار لاندې به هرڅهٔ ساړهٔ وي.

کوم انجمن چې یوازې له لویو او فوق العاده اشخاصو جوړ شوی وي ډیر لږ خلك به ورسره علاقه ولري.

ډیره ښهٔ ده چې ټیټ او حقیراشخاص له دوي سره ګډ شي او دتفریح باعث وګرځي، پهٔ دغه صورت کښې به ټیټ کسان له لوړوکسانونه علمي اومعنوي استفاده کوي اولویان به هم چې خپله مقایسه له دوي سره پهٔ نظرکښې نیسي خوند اخلي ، داکاردد واړو پهٔ ګټه دی او اکادمي پهٔ دغه ډول دخپلو مهموغړواهمیت نوروته ورکولی شي څنګه چې دلمر او ستورو کرې ځینې ذاتي او ځینې اکتسابي ځلښت لري داکاډمي اعضاهم باید دغه رازوي چې دځینو رڼا ځینو نوروته انتقال او

سرايت وکړي.

www.libtool.com.cn

دغه رازناوړه انتخابات ددغه انجمن دحيات اوبقا د پاره ډيرضرور معلوميزي او ډيره ښهٔ ده چې اکادمي دخپلو غړوپهٔ انتخاب کښې اشتباه وکړي يادتصادف له تأثير لاندې راشي او دغه راز خلك هم انتخاب کړي.

که ناوړه اشخاص هيڅکله داکادمي پهٔ غړيتوب نهٔ انتخابيدلی نوهغو کسانوته به ډيرلوی توهين او تحقير متوجه وُ ، چې اکادمي نهٔ قبلولی موږ بايد دغه راز ظاهري اشتباهات حقيقي هوښياري وګڼو اوپهٔ نفرت ورته ونهٔ ګورو .

# دعقل برخه په ژوندانه کښې

www.libtool.com.cn

پاك خداى (ج) چې ژوند پيدا کړغرايزېې هم ورسره پيدا کړه چې ژوند وساتي اودحيات شمع مړه کيدوته پرې نږدي.

همدغه غرايزدي چې دهوا مرغان او دزمکې ځناورېې دزېزولو اونسل ساتلو کارته داسې متوجه کړي چې هيڅ غفلت پکښې نهٔ ځايېږي، دهمدې لامله دهوامرغان هرکال نوي کورونه جوړوي اونوې هګۍ پکښې زدي، له هګيونه بچي را ايستل او بچيوته دانه پهٔ خوله کښې راوړل دغرېزې کاردی.

يو کوچنی ماشوم چې پهٔ لومړۍ ورځ دمورپهٔ تي باندې خوله زدي او روي يې له غرېزې بل لارښوونکی نهٔ لري.

هغه پاملرنه چې يوه چرګه يې دخپلو بچيو پهٔ نسبت لري ، کوم تعليمي کارنهٔ دی بلکه دغرېزې او فطرت پهٔ تقاضااجرا کيږي ،کومه شهواني قوه چې نر اوښځه يې يودبل پهٔ نسبت لري دغرېزې غوښتنه ده چې دژوند ساتلو او دنسل د بقا دپاره پهٔ انسان او حيوان کښې وجود لري يعنې د ژوندانه ساتنه او دنوع پايښت دغرايز ووظيفه ده ، هرکله چې غرايزپهٔ حيوان کښې ډېر قوي دي او پهٔ انسان کښې ضعيف غوندې دي نو انسان ته عقل هم ورکړشو چې دژوند پهٔ کارکښې له غرايزوسره مرسته وکړي او دغرېزې پهٔ خوښه استعمال شي يعنې عقل يوه آله ده چې غريزه يې استعمالوي نو عقل بايد دژوندانهٔ دوسايلوبرابرولوپهٔ کار کښې صرف شي اود ژوند اسباب برابر کړي نه دا

چې دحقايقو او پټواسرارود کشفو لو کارترينه واخلو او بيځايه يې
استعمال کړو دعقل اصلي کارهمدغه دی چې له مادي سره تعلق
پيداکړي اوپه موادو کښې تصرف وکړي .

www.libtool.com.cn

طبيعي او رياضي علوم دامدعاډيره ښه ثابتوي چې دعقل کارله
جسم او مادې سره دی چې بايد ابعادوپيژني اوکميت ته متوجه شي ځکه
چې دکيفيت پيژندنه دعقل کارنه دی او عقل ددغه مقصد د پاره نه دی
پيدا شوی همدغه سبب دی چې انسان ياله کيفيت نه بيخي غافل دی يا
کيفيت ته هم دکميت په نظر ګوري، مثلاً زمانه په اصل کښې کيفيت
دی او دکيف له مقولې لاندې راځي مګر انسان دغه کيفيت دکميت له مقولې لاندې
راووست اودځمکې حرکت دستوروحرکت اونورحرکتونه يې زمانه وبلله .

هيأت ، نجوم ، رياضيات په همدغه مفيده اشتباه بنا شوه او ددغې
لويې غلطۍ په وسيله لوی لوی مقصدونه حاصل شوه.

که انسان ښه غوروکړي پوهيږي چې عقل انسان ته ددې د پاره
ورکړشوی دی چې دآلاتواومصنوعاتوپه جوړولو کښې ترينه
کارواخستل شي اويوڅه جوړکړي نه داچې په څه پوه شي اودکميت
ادراک وکړي.

دغرب پوهان په دغه رازښه پوهيدلي دي ځکه يې د ژوندښه کولو
په کار کښې له عقل او پوهې نه ډيرکار اخستی دی اوزموږ پوهان په
نورو تصوراتو کښې غرق دي .

موږ بايد دجوړولو اوپوهيدلوپه فرق قايل شو.

جوړول اسانه کاردی مګر پوهيدل ګران کاردی.

دشاتومچۍ عسل جوړوي مګر په حقيقت يې نه پوهيږي

PROPERTY OF ACKU 4229

موږ ژوند کوواود ژوند وسایل برابر وو مګر د ژوندانه په حقیقت نه

www.libtool.com.cn

یوپوه شوي .

ډاکتران اوطبیبان د ژوند په خدمت ترډیره حده موفق شوي دي او دزړه حال دسبزوحال ورته معلوم دی مګر ژوند نه پیژني اوله روح نه ناخبره دي .

دانسان ډیره لویه اومهمه وظیفه د ژوندانه ساتنه اوروزنه ده عقل او فکرعلم او فن دهمدغه مقصد د پاره دی چې دژوندانه اسباب اووسایل برابر کړي او په همدغه لاره کښې ترینه کارواخستل شي.

# حسابي خبرې

استاذ ویل : تاسې باید هروخت له ځان سره حساب وکړئ او حسابي خلك اوسئ !

دده یوحسابي درس داؤ: که یوعددله بل سره داسې یوځای کړوچې یو پاس اوبل لاندې وي لکه : ۲/۲ نوترینه ٤جوړ یږي او ددواړو وجود هم پخپل حال نه پاته کیږي .

که دواړه څنګ په څنګ یوځای کړولکه : ۲۲ نودوه ویشت ورنه جوړیږي اودوه شل کیږي ، ددواړوعددونوشکلونه او صورتونه هم پخپل حال پاته کیږي څکه چې دلته دملګرتیا او ورور ولۍ رازپټ دی اوپه هغه بل صورت کښې تفوق ، تسلط اومحوه کول معلومیږي .

ده ویل : که دوه مساوي عددونه لکه : (۱-۱) (۲-۲). (۳-۳) هریوله بل نه وړاندې یاوروسته کړو نتیجه یې یوه ده مګر په دوو

متفاوتوعددونوکښې تقديم او تأخير ډير زيات فرق راولي اوپهٔ مقدارکښې ډيرتفاوت راځي.

www.libtool.com.cn

که موزيواونه يوځای کوواوداسې يې ليکو(۱۹) نونس کيزي مګر شل کيزي نه .

که همدغه دوه عددونه داسې وليکو(۹۱) خبره سلوته نزدې کيزي او ډير زياتوالی پکښې راځي.

«څهٔ ليکل ياليك پوهه»

## شعراوفلسفه

وريځې پورته پهٔ هواکښېدي ځاګانې ښکته پهٔ زمکه کښې .
هغه څهٔ چه پهٔ هسکووريځوکښې شته پهٔ ژوروځاګانوکښې هم شته.

پهٔ دغواوبوباندې هم هماغه تنده ماتيږي .
دلوړخيال اود ژورفکرنتيجه يوه ده .
تهٔ ياخپل نظرډيرلوړکړه ياپخپل ګريوان کښې ډيرسرښکته کړه.
دشاعراوفيلسوف فرق همد غه دی .
زهٔ شعراوفلسفه دغه شان ګنم .

«لوړخيالونه اوژورفکرونه »

## ولاړې اوبهٔ

له ښاره ووتم ،سمه او وداني مې پرېښوده ،دلوړوغرونوسرته وختم له هغه ځايه ستا سې لوړې مانۍ ډيرې ټيټې ښکاريدې اوپدې پوه شوم چه موز پهٔ ډير ټيټ محيط او ټيټه هوا کښې ژوند کوو .

www.fbtool.com.cn

دغره له سره ډير لرې ځايونه ليدل كيږي اونظرډيرلرې ځاركوي ځكه ماهم دزمان اومكان پهٔ لرې ګوټ كښې هغه څهٔ ليده چه دكوراوكلي خلكونشو ليدلى همدغه وخت زهٔ وپوهيدم چه فرعون اوقارون پهٔ كلواوښارونوكښې پيدا كيږي مګرخدايي تجلي پهٔ غرونو كښې ځان ښيي او كليم له كوه طورنه الهام اخلي .

دلمر لومړۍ رڼا دغروپهٔ څوكو پريوزي اووروستى وداع هم دغرولـه څوكوسره كوي .

شپانهٔ پهٔ غرونوكښې وي اوقصابان پهٔ ښارونوكښې .

دبودا او زردشت نښې نښانې پهٔ غرونوكښې دي اودفرهاددعشق داستان دغرهٔ ازانګه ده .

دغرو نو او بهٔ ډيرې پاكې او ډيرې رڼې دي ،دغرونو هواډيره صافه اوبې دوړو ده . تاسې غرونوته يوازې دكميت پهٔ لحاظ مهٔ ګورئ ، دكيفيت پهٔ لحاظ هم هلته ډيرڅهٔ شته چې پهٔ سمه كښې نشته.

كه پهٔ غرونوكښې قيمتي لعلونه شته نو دغرونوښكلې او ښايسته منظرې هم پهٔ ښارونوكښې نهٔ پيدا كيږي.

زهٔ غرونوته دنندارواو تماشودپاره تللى وم ، او دولاړو او بوسيل مې كاوه ماته چاويلي وو، چې هلته يو ډير لوى ډنډى چې پخوا به پكښې ښاپيريو لمبل او ملوك به له بدرۍ سره همدغلته كتل .

زهٔ لاړم او دا ډنډمى وليد دډنډپهٔ غاړه ډيرساعت كښيناستم او ترډيره وخته له فكر او خيال سره مشغول وم.

دغه لوى ډنډ دصبر او سكون پهٔ مقام كښې څهٔ شور او فرياد نهٔ كاوه دحال پهٔ ژبه يې خپل عميق احساسات داسې ښكاره كول:

زهٔ دلویو غرونو پهٔ ډیره لویه کنده کښنی ایساریم او دولاړو اوبوپهٔ نامهٔ یادیږم ، زمالیدوته خلك راځي او زما مهیبه منظره ویني هیڅ لامبوزن داجرأت نهٔ کوي چې زما پهٔ سر راودانګي او زما مخ پهٔ څپیړووهي ، پهٔ ما باندی دچا بیړی نهٔ ګرځي زما کبان څوك نشي نیولی ، دهیچاجال پهٔ ماباندې نهٔ دی لویدلی، زهٔ دهیچاپهٔ واك او اختیار کښی نهٔ یم مګر پهٔ عین حال کښې بې واکه او بې اختیاره یم، زما پهٔ پښوکښې لکه غرونه لوی لوی ځنځیرونه پراتهٔ دي او زهٔ یې ځای پهٔ ځای درولی یم.

هغه ازادي چې له مستو سیندونو او زور ورو سیلابونوسره شته له ماسره نشته .

زهٔ عمق لرم شور او مستي ، موج او حرکت نهٔ لرم.

زهٔ ډیر خلك غرقولی شم مګر ځان له قیده نشم خلاصولی.

زما قوت او طاقت ایساردی ، ماځانته دیوی چینې اویوه لښتي قدرته مجرا پیدا نکړه او ددغو ماشومانو ازادي هم زما پهٔ برخه ونهٔ رسیده ، زهٔ ډیر لوی قوت یم مګر ازادنهٔ یم ایساریم ځکه هیڅ نشم کولی اوهیڅ رانه جوړنشوه .

زما عمر عبث تیریزي نه رانه برق اوبرښناپیدا شوه نه سمسورباغونه نه مې جهان ولیده اونه جهان ولیدم ، زهٔ بنارونو او ودانیو ته بنکته نشوم، ماخپل موج او حرکت ونهٔ لیده او دشور او مستۍ پهٔ کیف ونهٔ پوهیدم. زهٔ دځان غوندې نوروډنډونوسره یوځای کیدی نشم مګر دکابل سیند دکونړله سیندسره یوځای کیږي او دواړه له اباسین سره خپل موجونه خپل شوراو خپله مستي یوځای کوي .

قیداو اسارت عزیزان له عزیزانونه لرې ساتي ځکه دیوه کوهي اوبهٔ له بل سره نشي ګډیدلی اویو ډنډبل ډنډ ته لاره نهٔ لري مګر داسمان وریځې یوله بله ګډ یږي اودیوه باغ مرغۍ بل باغ ته ځي .

www.libtool.com.cn

زما طبیعي میل دانهٔ دی چې ځای پهٔ ځای غلی ولاړیم او هیڅ حرکت نهٔ کوم زهٔ دسیلابي حرکت اوطوفاني قوت غوښتونکی یم. زهٔ باید دغه سکندري سدمات کړم اوځانته لاره پیدا کړم ، که زهٔ له دغه قیده خلاص شم ، زماله طوفانه به خلك وویریږي او زماله فیضه به ملکونه ابادشي.

زهٔ به بحراودریاب ته لاره پیدا کړم اوهلته به بې برخې نهٔ یم زما پهٔ زړهٔ کښې ډیر څهٔ شته مګر دشګواوغوغاژبه نشته.

تهٔ زما دحال پهٔ ژبه پوه شه اوزماپهٔ حال کښې عمیق فکروکړه .

هغه وخت چې زهٔ دډنډپهٔ غاړه ناست وم لکه صاحب حال پهٔ بل حال کښې وم اودخیال پروازونه ډیر اوچت وو.

پهٔ دغه وخت کښې زهٔ له لوړوخیالونو او ژورو فکرونو سره اشناوم او ډیر لرې به مې کتل .

همدغه وخت ماته د پسرلي زورور بارانونه رایادشوه چې له دې لوړو غرونو پهٔ ډیر شوراو زوزمخ ښکته روان وُاوهیڅایې مخه نشوه نیولی، دهغه سیلاب تعلق داسمان له وریځو اواسماني برېښنا ګانو سره وُځکه یې ډیرې زمکې لاندې کړې اوله هره قیده ازاد وُ.

داډنډله له ټیټ او ژور محیط سره علاقه لري ځکه ځای پهٔ ځای ولاړدی اوعمري قید تیر وي هغو کسانو چې دپوهې اوهوښیارۍ عمق ته پریوتی یاست اوپهٔ اسفل السافلین کښې ژوند کوئ پدې پوه شئ .

چې دغه رازلوی ډنډونه دهغه شبنم مقام او منزلت نشي پیداکولی چې دشپې دګل پهٔ نازکوپاڼوپریوزي اوسحر دلمر له وړانګو اوحرارت سره اسمان ته خیژي .

www.libtool.com.cn

هغه اوبهٔ چې دنوروڅاګانو پهٔ تل اوتورتم کښې دي پدې نشي پوهیدی چې دپسرلي بارانونه او سیلابونه څنګه دي اوڅهٔ کوي؟

دغه رازلوړمضمون دغسې ټیټوته نشوویلی اودژوروڅاګانوپهٔ اوبوکښې ددنیازوروربادونه هم موج اوحرکت نشي پیداکولی.

# الفت

www.libtool.com.cn

دکابل دسیند په غاړه په کوزني لغمان کښي دعزیزخان په کڅ کښې یوورکوټی کلی دی، خاوشایې شنه کښتوته او دسیند شولګری دي . لزخه لري دلویو غرونوپه واوروپټې څوکې ښکاري.

دلته دوه مست رودونه بهیږي، یوې خواته دکونړښکلی دره ده چې دکونړ سیند ترې په نخانځا را اوځي.

دشرقي افغانستان په دې ښکلو دروکښې ځای په ځای دسیدانودرنې کورنۍ اوسي ، پښتانه دوي ته په درنه سترګه ګوري او پاچهاڼي بولي لکه په پسرلي کښي چې په دې دروکښې ښکلي ——————— ګلان

غوړیږي ددغوپاچهانوپه درنوکورونوکښې هم کله کله ډیرد پوهې خاوندان او شاعران اوپوهان او سیاست وال پیدا کیږي سیدجمال الدین افغاني هم ددغوکونړي پاچهانوڅخه وو.

ښايي چې څلویښت یاپنځوس کاله دمخه دعزیزخان په کڅ کښې دیوه پاچا په واړه کهول کښې یو ښکلی ګل زرغون شو هغه یې «ګل پاچا» وباله .

داګل دفطرت په لمن کښې لوی شو، دطبیعت روزنه اوپالنه یې ولیده او لکه دکابل دسیند دغاړې خاټول دلغمان اوبواو هوالوی که هغه وخت مدرسه یامکتب نه وچې داګل پاچاسبق پکښي ولولي خونکه دپښتنو نوروماشومانوده یواځې دفطرت نه درس واخیست او اسمان اوځمکې ته دومره ځیرشوچې دفطرت اسراریې پخپل ژورکاته لڅ کړه او هغه څه یې زده کړه چې بل چاپه مدرسو او پوهنتونوکښې نه وو زده کړي.

پخوانویوه خبره کړي ده چي ډیره پخه ده(الاسماءتنزل من السمأ)
www.libtool.com.cn
یعني نومونه له اسمانه رابنکته کیزي (ایبنودل کیزي).

دادلغمان د ورشوبنکلی کل دپښتو ادب په ګلستان کښی ډیر په بنکلاوغوړیداوپهٔ «الفت» مشهورشو، چي اوس یې موز «کل پاچاالفت» بولو دادالغت نوم هم له دهٔ سره ډیروړدی ځکه چي زړهٔ یې له الفته ډك دی.

الفت دپښتو ادب یوځلاند ستوری دی که دپښتو ادب نن ورځ یوبهترین لیکوال اوشاعر لري نوهغه به الفت وي.

الفت ډیر کتابونه لیکلي، کله دکابل او دمشرقي اتحاد مدیر وُ کله پهٔ شوری کښی وُ. او اوس دکابل دپښتو ټولنې مشردی خوموږدالفت شخصیت پهٔ نورو صفاتوپیژنو،دی ډیردقیق اوسترګه ورفنان او صنعت کاردی دالفت هنرپهٔ پښتو نثراو نظم کښي ښهٔ ښکاري اوځانته یوخاص طرزلري، دالفت نثرهم شعردی او نظم یې هم شعردی.

کوم وخت چي پهٔ نثرځهٔ لیکي نودفطرت ډیرنازك او واړهٔ دقایق وینی او ښکندوي یي، دانسان داجتماعي ژونددیرې ښیکړې پهٔ داسې ژبه بیا- نري چي ویونکي دده استدلال پهٔ ښهٔ ډول قانع کوي.

دالفت پهٔ نثر او نظم کښي کوم فلسفي یاتاریخی استدلال نشته مګردفطرت له هره ګوټه داسي دلایل او براهین راوباسي چي ترهرڅه منطقي استدلال ښهٔ اوتینك وي.

ددهٔ هنرهم دادی چي ځانته خاصه داستدلال لاره لري او دژوندانه عادي وقایع هره یوه دده لپاره دشعریوه بهترینه موضوع وي.

کله کله دالفت نثرترنظم خوږوي. خلك وایي چي نظم پیودل دي

اويوناظم مرغلرې پيوّى مكر زهٔ وينم چې الفت پهٔ نثر كښې هم بلاكوي اوكله كله الفاظ هسې سره پيودى چې ترهرڅكه نظم سِنهٔ ښكارې او غوره وي.

www.libtool.com.cn

دهنرمن (فنكار) مهارت او كمال دادى چې عادي شي ته ښكلى رنګ وركولى شي همدغه ګټې اوختې دي چې يومعمار ترې «تاج محل » هم جوړوي او دپښتنو غوندې خړه حجره هم .

دغه رنګونه او غوړدى چې يونالايق نقاش پرې هره تخته او دهرې ټانكې پهٔ اړخ يوناوړه منظره نقش كوي مكر كله چې دماهراوياهنرنقاش پهٔ قلم كارشي نويوه ټوټه يې پهٔ زروقيمت لري.

داالفاظ او كلمات دشاعر اوليكوال مصالح دي كه الفت هغه سره اودى او ترتيب وركئى دپښتو ادب يو(شهكار) به وي كه دبل چاپهٔ قلم وليكل شي نوهغه به يوعام نثر يانظم وي.

دالفت پهٔ فن باندى څهٔ ليكل هم آسان كارنهٔ دي خولنډه داچې الفت يوماهر اوستركه ورهنرمن (آرټست ) دى چې دده پهٔ هنركښې دادرې غټې ښيګړې وينم :

(جمال ) چې دالفاظواو كلماتو غوره كول (انتخاب ) اوبيا دهغو اوډنه ترتيب اوپيودنه (نظم)يې غټې نښانى دي.

دويم : برهان او استدلال كه دفطرت له هره مظهره څخه دي يومنلى دليل جوړولى شي ا وده پهٔ نظر كښې ددنيا ټول مظاهر داستدلال لپاره څرګندې نښې دي.

دريم :انتقاد دده دهنرغټه ښيګړه ده ، دى دمظلوموخواخوږى دى .
داجتماعي ظلمونوسخت دښمن دى پخپل ليك كښې كه منظوم وي

که منثور اولسي تجاوزانوته ګوته نیسي اودده قلم پهٔ دې خواکښی ډیر

www.libtool.com.cn

تېره دی.

دظالمانواسرارلځوي او دمظلومواولځو لغړوپهٔ کوټوورننوځي . ددوي دفلاکت او بدبختۍ حال ګوري او هغه داولس دعبرت دپاره پهٔ داسې ژبه بیانوي که دچاذړهٔ ډیرکلك هم وي ،بیابه هم اغیزه پرې وکړي. داالفت هیڅ منظوم یامنثورلیك نشته چې له دغو بنیګڼوڅخه تش وي ځکه نن دپښتو لیکوالو پهٔ ډله کښې «الفت » دټولومخکښې و دریځ اودده لیکونه دپښتو ادب شمله ګڼلی شي.

محصل

( اروا ښاد علامه عبدالحی حبیبی )

PROPERTY OF ACKU
4229

www.libtool.com.cn

تکثیر از:

M.M. AFGHANISTAN
P.O.BOX 3373
Arlington, VA. 22203
U.S.A.

سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان به هیچ کدام از تشکیلات مشخص وابسته نبوده بلکه در خدمت تمام مردم مجاهد افغانستان میباشد.

۱۹۹۴